# زبور شریف

## پېژندګلو

د زبور لفظ مطلب شُکر ګزاری کول دی. دا آسمانی کِتاب د زرګونو کالونو راسې د مؤمنانو رهنمائی کوی او نن هم زمونږ رهنمائی کوی کۀ چرې مونږ د دې نه استفاده وکړُو. او مونږ د دې نه زده کولے شُو چې څنګه د واحد او رښتینی خُدائ پاک عبادت وکړُو. څنګه چې زبور شریف ۱:۱۴۹ فرمائی چې، "د مالِک خُدائ ثناء صِفت بیان کړئ." مقدس زبور شریف د پخوانو حمدونو او د روحانی سندرو یوه مجموعه ده. په اصل کښې دا د دې دپاره ولیکلے شو چې د دې تلاوت وشی، ولوستلے شی او په دعا او عبادت کښې وئیلے شی. د زبور زیاته برخه حضرت داؤد په خپله لیکلې ده، ځکه چې خُدائ پاک د دې زیاته حِصه په حضرت داؤد نازله کړې ده. په دې کښې یو نیم سل سندرې، دُعاګانې او غزلې دی چې نه صرف د بنی اِسرائیلو دپاره دعوت دے بلکې دا د ټولې دُنیا د هر قوم او هر انسان دپاره دعوت دے چې د واحد خُدائ پاک شُکر ګزاری وکړی. لکه څنګه چې زبور شریف ۲۱:۱۴۵ فرمائی چې، "زما خولۀ به د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوی، او ټول مخلوق به د هغۀ د مقدس نوم د تل دپاره ثناء صِفت کوی." هر څوک چې د دې کِتاب تلاوت کوی د دوئ زړونه دې د هغه یو خالق، مالِک خُدائ پاک طرف ته را واوړی، څوک چې د حمد و ثناء لائق دے او څوک چې د خپل مخلوق نه دا اُمید لری چې د هغۀ رضا وکړی. د زبور شریف یو نیم سل بابونه د انسان مختلفو حالاتو، جذباتو او جدوجهد په حقله خبرې کوی. په زبور شریف کښې یقیناً چې شانداره ښُکلا او اثرناکه شاعری ده خو دې سره سره په کښې د مات زړۀ او پرېشانه ځان حال هم موجود دے. زبور شریف د خُدائ پاک د طرفه یو کامِل او ابدی کِتاب دے چې مونږ پرې مکمل اعتماد کولے شُو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې په دې کښې زمونږ د خوشحالو، غمونو، غصې او پرېشانو تصوير دے.
د حفظ کولو دپاره ۳۲:۱ آيت "مالِک خُدائ دے شپون زما، نو د هيڅ څيز حاجت نشته دے زما."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# رښتيني خوشحالی

## ۱

(۱) نو هغه بختور دے او بختور به وی

څوک چې د بدعملو په خبرو عمل نۀ کوی،

په لار د ګناهګارو چې تلل نۀ کوی،

د مسخره کوونکو په ډله کښې چې نۀ کښېنی.

(۲) خو په قانون د مالِک خُدائ چې خوشحالیږی،

شپه او ورځ چې د هغۀ په شریعت غور کوی.

(۳) نو هغه به د داسې ونې په مثال وی،

کومه ونه چې د ولې په غاړه نال وی،

مېوه کوی په موسم کښې مېوه داره وی

پاڼې يې تل شنې وی او په ژوندون کښې کاميابه وی.

(۴) خو بدعمله داسې نۀ دی، دوئ لکه د بوسو په شان وی،

د هوا سره الوځی په ځائ به پاتې نۀ شی.

(۵) نو ځکه په وخت د عدالت به بدعمله مجرم شی،

ګناهګاران به د صادقانو سره شمېرلے نۀ شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ بېشکه مالِک خُدائ د صادقانو د لارې خيال ساتی،
په لار د تباهئ خو بدعمله ورروان وی.

## د خُدائ پاک غوره شوے بادشاه

۲ ۱ قومونه ولې په قهر شول
او اُمتونه ولې بېفائدې سازشونه کوی؟
۲ د دُنيا بادشاهان راپورته شول
او حاکمان د مالِک خُدائ خلاف
او د هغهٔ د مسيح په خلاف يو ځائ شول.
۳ ”راځئ زنځيرونه به مات کړُو،
د خُدائ د غلامئ رسئ به وغورزوُو.“
۴ مالِک خُدائ په هغوئ پورې خاندی،
کوم چې آسمان کښې ناست دے هغه ورپورې ټوقې کوی.
۵ نو بيا يې هغه په خپله غصه کښې رټی
او په خپل قهر او غضب سره يې يروی.
۶ مالِک خُدائ فرمائی، ”ما مقرر کړے دے په خپل مقدس غر،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما دے په صيون کښې خپل بادشاه کړو مقرر.“

٧ زۀ بادشاه به د مالِک خُدائ د حُکم اِعلان وکړم،

”تۀ زما زوئ يې او د نن نه زۀ ستا پلار شوم.

٨ زما نه وکړه سوال، زۀ به درکړم ټول قومونه،

زۀ ميراث کښې تا له در به کړم د دُنيا ټول جائيدادونه.

٩ د خاورين لوښى په شان به يې تۀ ړکرې کړې،

هغوئ به تۀ په سيخ د اوسپنې ټوټې کړې.“

١٠ اے حکمرانانو هوښيار شئ،

اے د دُنيا بادشاهانو خبردار شئ.

١١ د يرې سره د مالِک خُدائ خِدمت کوئ،

او په رپيدو سره د هغۀ خوشحالى کوئ.

١٢ د هغۀ د زوئ په وړاندې کۀ د زړۀ د اخلاصه ټيټ نۀ شئ،

نو هغه زر غصه کيږى، او ناڅاپه به تباه شئ،

هغه به بختور شى څوک چې د هغۀ پناه کښې راشى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**د حضرت داؤد يو زبور د هغه وخت په حقله کله چې حضرت داؤد د خپل زوئ ابی‌سلوم نه وتښتېدو**

**د مدد دپاره د سحر دُعا**

۳ ① اے مالِکه خُدايه څومره ډېر دی دشمنان زما،

خومره ډېر راپاڅېدلی دی خلاف زما.

② ډېر زما په حقله داسې وائی،

”هغه به خُدائ پاک نۀ بچ کوی.“

③ تۀ خو زما ډال يې چې زما نه گېرچاپېره يې،

تۀ زما جلال يې، څوک چې زما سترگې اوچتوی، اے مالِکه خُدايه،

④ کله چې مالِک خُدائ ته په اوچت آواز ژړا کوم،

خپل مقدس غر نه هغه ما ته جواب راکوی.

⑤ چې څملمه اودۀ شمه په حفاظت کښې پاڅم،

ځکه چې زۀ د مالِک خُدائ د نظر لاندې يم.

⑥ يره ترې نه نۀ کوم هغوئ کۀ هر څومره ډېر وی

کۀ زۀ په کښې د هرې خوا نه گېر يم.

⑦ مالِکه خُدايه پاڅه، خُدايه ما ترې خلاص کړه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دشمن مې ژامنې ماتې کړه،

غاښونه د بدعملو مات کړه.

٨ خلاصون د مالِک خُدائ نه راځی.

ستا په خلقو ستا برکت دې همېشه وی.

## د سرود مشر دپاره: د رباب ساز سره د حضرت داؤد یو زبور

## د ماښام دُعا

۴ ١ نو اوره زما سوال کله چې تا ته په ژړا یم،

تهٔ چې وائې زما په حقله خُدایه، زهٔ چې بې‌ګناه یم.

زما مشکل آسان کړه، مهربان شه سوال مې اوره.

٢ اے خلقو، ترڅو به تاسو زما پاکه جامه بشیرنه کړئ؟

ترڅو پورې به تاسو فضولیاتو سره مینه کړئ؟

ترڅو پورې به تاسو په دروغو پسې ګرځئ؟

٣ په دې باندې خبر شئ

چې خپل خلق یې د خپل ځان دپاره د نورو خلقو نه جدا کړی دی،

زما سوالونه قبلوی کله چې مالِک خُدائ ته ما کړی دی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ د غصې په وجه ګناه مۀ کوئ،

چې خپلو کټونو له لاړ شئ فکر وکړئ او خاموش شئ.

۵ خپلې د صداقت قربانۍ وړاندې کړئ

او تل توکل په مالِک خُدائ کړئ.

۶ ډېر خلق تپوس کوی، ”مونږ سره به څوک ښۀ وی؟

اے مالِکه خُدايه، خپله د مخ رڼا دې په مونږ وځلوه.“

۷ تۀ به زما زړۀ د يو لوئې خوشحالۍ نه ډک کړې

د هغوئ نه هم ډېر زيات څوک چې ډېر غنم او شراب لری.

۸ زۀ به په بې‌غمۍ سره اودۀ شم،

يواځې تۀ اے مالِکه خُدايه، زما ژوند په حفاظت تېر کړه.

## د سرود مشر دپاره: د شپېلۍ ساز سره د حضرت داؤد يو زبور

## د حفاظت دُعا

**۵** ۱ اے مالِکه خُدايه زما خبرو ته غوږ شه،

زما اسويلو ته توجو وکړه.

۲ زما د ژړا آواز د مدد دپاره واوره،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ تا ته سوال کومه زما خُدایه، زما بادشاه.

٣ زما واوره سحر کښې زۀ تا ته آواز کوم،

هر سحر کښې زۀ تا ته درخواست کوم

مالِکه خُدایه ستا په طمع اِنتظار کوم.

٤ یو تۀ هغه خُدائ يې چې په بدو نۀ خوشحالیږې،

بد کرداره به تا سره نۀ اوسیږی.

٥ ستا په وړاندې مغرور خو ودرېدے نۀ شی،

کوې کرکه د هغوئ نه چې بدکاره شی.

٦ تۀ هغه تباه کوې، څوک چې دروغژن وی،

مالِک خُدائ دوکه بازو او خونکارو نه کرکه کوی.

٧ ستا د لوئ رحم په وجه به زۀ دننه شم ستا کور ته،

ډېر په یره په سجده به شم ستا مقدس کور ته.

٨ اے مالِکه خُدایه، په سبب زما د دشمنانو،

په خپل صداقت سره دې زما رهنمائی وکړه،

خپله نیغه لار دې ما ته راوښایه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ په خولهٔ يې اعتبار نهٔ وی زړونه يې د تباهۍ نه ډک دی.

او په ژبه دروغ وائی او مرئ يې کولاو قبر دے.

۱۰ اے پاکه خُدايه هغوئ ګناهګار حساب کړه،

هغوئ په خپلو دامونو کښې راګير کړه.

د ډېرو ګناهونو په وجه دوئ د خپل ځان نه وشړه،

ځکه چې هغوئ ستا خلاف سرکشی کړې ده.

۱۱ خو ټول چې ستا پناه واخلی هغوئ دې خوشحالی کوی،

وائی سندرې تل تر تله بېغمۍ سره

وی دې ستا امان کښې ستا امان دې وی هغوئ باندې

هغوئ دې خوشحال وی چې ستا نوم سره مينه ساتی.

۱۲ اے مالِکه خُدايه، تهٔ په خپله نېکانو ته برکت ورکوې،

تهٔ د خپل رحم ډال هغوئ نه چاپېره وې.

## د سرود مشر دپاره: د اتهٔ تاره رباب ساز سره د حضرت داؤد يو زبور

## د تکليف په وخت دُعا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ۱ اے مالِکه خُدايه ما مۀ رټه په خپله غصه کښې

ما ته قهر مۀ کوه زما په سمولو کښې.

۲ رحم په ما وکړه زۀ کمزورے يم مالِکه خُدايه،

شفا راکړه هډُوکی مې ماتيږی مالِکه خُدايه.

۳ په زړۀ يمه بيمار دا به تر کومې وی

اے مالِکه خُدايه دا به تر کومې وی؟

۴ اے مالِکه خُدايه ما خلاص کړه ما ته راوګرځه،

ما بچ کړه د خپلې لوئې مينې سره.

۵ څوک نۀ يادوی تا چې کله مړۀ شی.

څوک دے چې ستا ثناء صِفت يې په قبر کښې کړے دے؟

۶ ستړے يم ډير په ژړيدو سره،

بستره زما لمده شی ټوله شپه په ژړيدو سره،

او بالښت مې لوند شی په اوښکو سره.

۷ سترګې مې کمزورې شوې خفګان سره،

سترګو مې کار پريښے دے دشمنۍ سره.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ ځئ زما نه ځئ ټول بدعمله رانه لاړ شئ،
زما ژړا مالِک خُدائ اورېدلې ده.
٩ د رحم دپاره سوال مې اورېدلے دے، مالِک خُدائ،
دُعا زما يې قبوله کړې ده مالِک خُدائ.
١٠ يريږى به، شرميږى به، زما ټول دشمنان،
راواپس به کړى هغوئ په ناګهانه بې‌عزتۍ سره.

## د حضرت داؤد يو نظم، کوم چې هغۀ د بنيامين قبيلې کوش په حقله مالِک خُدائ ته وئيلے وو

## د اِنصاف دپاره دُعا

٧ ١ اے مالِکه خُدايه، پاکه خُدايه، تۀ زما پناه يې،
د هغه خلقو نه ما خلاص کړه او ما بچ کړه څوک چې راپسې دى،
٢ ګني ما به د ازمرى په شانې وشلوى ټوټې به مې کړى،
هيڅ څوک به مې نۀ وى چې د هغوئ نه ما بچ کړى.
٣ اے مالِکه خُدايه، زما پاکه خُدايه،
کۀ ما د اِنصاف نه کار اخستے نۀ وى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ کۀ ما د خپل دوست سره بد کړي وی

کۀ ناحقه مې دشمن باندې حمله کړې وی،

۵ نو بیا دې دشمن راپسې شی ما دې ووهی.

ما دې پرېږدی بې‌عزتۍ سره په خاورو کښې.

۶ اے مالِکه خُدایه د غصې سره راپاڅه،

زما د دشمن د غصې په مقابل کښې راپورته شه،

راپورته شه، زما پاکه خُدایه، په دوئ باندې خپل عدل او اِنصاف راوله.

۷ راغونډ کړه ټول قومونه خپل څان ته،

د خپل عرش نه په هغوئ بادشاهی وکړه.

۸ مالِک خُدائ په خپله د قومونو عدالت کوی.

تۀ زما د صداقت اعلان وکړه، زۀ بې‌گناه یم، اے لویه خُدایه.

۹ ختم کړه ظلمونه د ظالم ختم کړه،

آباد کړه صادقان صادقه خُدایه،

د زړۀ منصوبې او فکرونه تۀ معلوموې.

۱۰ هغه خُدائ تعالیٰ خو زما ډال دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بچ کوونکے چې د زړونو صادقانو دے.

(۱۱) خُدائ پاک صادق اِنصاف دار دے،

بدکارو ته هره ورځ په قهر وی.

(۱۲) کهٔ څوک چرې په خپله توبه نهٔ کړی،

خُدائ به خپله تُوره ورته تېره کړی،

نو لیندۍ ته به لاس پورته کړی.

(۱۳) کړی هغه به تیاره وسله تباه کوونکی،

او وُلی به خپل غشی بلېدونکی.

(۱۴) څنګه د بدو منصوبې جوړوی، بدعمله خلق ګوره

د مصیبت نه هغوئ ډک وی او فریب کاره.

(۱۵) هغوئ د بل د غورزېدو دپاره ړوبه کنده تیاروی

په هم دې کنده کښې به په خپله ورغورزیږی.

(۱۶) کوم مصیبت چې جوړوی هغوئ به خپله په کښې ګېر شی،

هغه ظلمونه د هغوئ په خپل سر انبار شی.

(۱۷) شُکر به کوم د مالِک خُدائ چې هغه اِنصاف کوونکے دے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وایم به زهٔ د مالِک خُدائ تعالیٰ ثناء صِفت.

## د سرود مشر دپاره: د رباب ساز سره د حضرت داؤد یو زبور

## د خُدائ پاک جلال

٨ ① اے مالِکه خُدایه، زمونږ ربه،

ټوله دُنیا کښې ستا نوم عظیم دے،

پاس په آسمانونو کښې دې خپل جلال جوړ کړے دے.

② تا تی رودونکو او لویو ماشومانو ته خپل ثناء صِفت ښودلے دے

خپل مخالفین او دشمنان دې په دې چپ کړی دی.

③ زهٔ کله چې ستا د ګوتو کار ته ګورم، ستا په آسمانونو باندې غور کوم،

په خپل ځائ چې مقرر دی ستورو سپوږمۍ ته ګورم،

④ انسان څهٔ وی چې تهٔ پرې نظر ساتې،

نو بنیادم څهٔ وی چې تهٔ یې خیال ساتې؟

⑤ تا د فرښتو نه لږ کم کړے دے

تا هم د جلال او عزت تاج ورپه سر کړے دے.

⑥ تا په خپل مخلوق بنیادم واکمن کړے دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا په هر څیز پوره اختیار ورکړے دے.

٧ کۀ ګډې کۀ رَمې د بیابان،

او کۀ دی ټول ځنګلی ځناوران.

٨ کۀ مارغان دی په هوا کښې او کۀ کبان دی سمندر کښې،

یا نور داسې څیزونه چې ګرځیږی سمندر کښې.

٩ اے مالِکه خُدایه، زمونږ ربه،

ټوله دُنیا کښې ستا نوم عظیم دے.

## د سرود مشر دپاره: د حضرت داؤد یو نظم چې په یو قسم ساز کښې د هغۀ د زوئ د مرګ په حقله وغږولے شو

## د خُدائ پاک د اِنصاف دپاره شُکر ګزاری

٩ ١ زۀ به د خپل ټول زړۀ نه د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوم،

زۀ به ستا ټول عجیبه کارونه بیان کړم.

٢ زۀ به یم خوشحاله او ستا له سببه خوشحالی کوم،

اے خُدائ تعالیٰ زۀ به په سندرو کښې ستا د نوم ثناء صِفت کوم.

٣ زما دشمنان چې کله وتښتېدل،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ تیندکونه وخوړل او ستا په وړاندې تباه شول.

۴ تا زما په حق کښې وکړه فیصله،

ناست یې په خپل تخت په اِنصاف خپل عدالت کوې.

۵ بدعمله تباه کړی دی تا، قومونه رټلی دی تا،

د تل دپاره دې نام و نشان ورله ختم کړے دے.

۶ بېکچه تباهی دې د دشمن ښارونه نابود کړی دی،

نام و نشان د هغوئ دې ختم کړے دے.

۷ خو د تل دپاره مالِک خُدائ به بادشاهی کوی،

قائم کړے یې خپل تخت دے او اِنصاف به کوی.

۸ او هغه اِنصاف سره په دُنیا عدالت کوی،

هغه به په قومونو په اِنصاف سره حکومت وکړی.

۹ د مظلومانو دپاره مالِک خُدائ د امان ځائ دے،

په وخت د مصیبت هغه مضبوط د پناه ځائ دے.

۱۰ خوک چې دې نوم پېژنی په تا توکل کوی،

مالِکه خُدایه، خوک چې دې لټون کوی تا یواځې نهٔ دی پرېښی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ په سندرو کښې د هغه مالِک خُدائ ثناء صِفت کوی،

څوک چې په صیون کښې په تخت ناست دے،

قومونو ته بیان کړئ هغهٔ چې څهٔ کړی دی.

١٢ هغه به قاتلانو نه بدل اخلی،

د مظلومانو نه بې‌خبره نهٔ دے

او نهٔ د دردمندانو د فریاد نه بې‌خبره دے.

١٣ رحم په ما وکړه، اے مالِکه خُدایه،

گوره دشمنانو ډېر تنگ کړے یم،

ما د مرگ د خولې نه را آزاد کړه.

١٤ د صیون لور په دروازو به ستا صِفت او د خلاصون خوشحالی وکړم

نو داسې به زهٔ ستا د ثناء صِفت اعلان وکړم.

١٥ قومونه کومه کنده چې وباسی نو په خپله ورگزار به شی،

په پټ خور کړی دام کښې خپله راگېر به شی.

١٦ مالِک خُدائ پېژندلے شی، په خپل اِنصاف سره،

خو اوس راگېر دی بدعمله خپل کردار سره.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ ځی به لاندې قبر ته ټول بدکاران،

چې هېر کړې يې مالِک خُدائ دے هغه ټول قومونه به وی ورروان.

۱۸ حاجت لرونکې به د تل دپاره هېرولے نهٔ شی،

دا مظلومان خلق به نااُميده پاتې نهٔ شی.

۱۹ پاڅه، اے مالِکه خُدايه، بنی آدم چې سرکشی ونهٔ کړی،

د قومونو دې عدالت ستا د وړاندې وشی.

۲۰ تهٔ مالِکه خُدايه يره باندې هغوئ ويروه،

قومونه تهٔ په دې پوهه وه چې هغوئ فانی دی.

## د عدالت دپاره دُعا

**۱۰** ۱ اے مالِکه خُدايه، تهٔ زما نه ولې لرې ودرېږې؟

په وخت د مصيبت کښې تهٔ ما نه ولې خپل ځان پټوې؟

۲ په خپل غرور کښې بدکاران غريبانان خپل ځان ته پرزوی،

دوئ په خپله په خپلو بدچلونو کښې راګېر کړه.

۳ د خپل نفس لافې کوی دا بدکاران،

په مالِک خُدائ لعنت کوی او د هغهٔ نه اِنکار کوی لالچيان.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ خپل غرور کښې بدکاران طلب نۀ کوی د خُدائ پاک،

په خپلو ټولو سوچونو کښې هيڅ پرواه نۀ کړی د خُدائ پاک.

۵ تل کاميابه وی هغوئ په دشمنانو پورې خندا کوی،

ستا قانون نۀ منی دا مغروران.

۶ ځان سره دوئ وائی چې، ”هيڅ به مو نۀ کړی په لړزان،

ټول عمر زۀ به يم خوشحاله او د سختو به يم په امان.“

۷ خولۀ يې دروغژنه، کنځل ماره، دوکه بازه ده،

د هغۀ ژبه غوښونکې، تباه کوونکې ده.

۸ پروت د کلو خوا کښې پټ په پټه اِنتظار کوی،

وژنی بېګناه ګوری د ورايه پرې ګزار کوی.

۹ لکه زمری پټ په پرده کښې اِنتظار کوی،

نيسی غريبان پروت دے په پټه اِنتظار کوی،

رايې کاږی او په جال کښې يې راګېروی.

۱۰ نو مظلومان په کښې چخنی شی،

او د ظالم د زور سره رالاندې شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ بد کار د خپل ځان سره دا وائی چې، ”د خُدائ پاک هېر شوی دی،

چې هیڅ نۀ وینی، سترګې یې پټې کړې دی.“

۱۲ اے مالِکه خُدایه، راپاڅه، او بدکارانو ته سزا ورکړه.

پاکه خُدایه مظلومان مۀ هېروه.

۱۳ خُدائ ولې سپکوی دغه بدکاران؟

خپل ځان سره وائی چې، ”نشته تپوسونه،“ وائی دغه بدکاران.

۱۴ خو تا په خپله دا تکلیفونه او خفګان ولیدلو،

او تۀ په خپله دا وینې او عدالت کوې.

تا ته ځان سپارلے دے بېوسه مظلومانو،

مل یې تۀ او حفاظت کوې د بېپلارانو.

۱۵ لاسونه مات کړه د بدکاره بدعمله انسان،

هغوئ له داسې بدله ورکړه چې یو ظالم هم پاتې نۀ شی.

۱۶ د مالِک خُدائ بادشاهی به تل تر تله وی،

د هغۀ د دُنیا نه به غېرقومونه هلاک شی.

۱۷ اے مالِکه خُدایه، تا په خپله سوال زاری د مظلومانو واوریدله،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تهٔ هغوئ ړاړه کوې او سوالونه يې اورې،

١٨ تهٔ د بېپلاره مظلومانو محافظ يې،

نو فانی انسان به دوئ په دې دُنيا کښې يرولے نهٔ شی.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## په خُدائ پاک توکل

**١١** ١ زهٔ د مالِک خُدائ په پناه کښې يم.

تهٔ ولې راته وائې، ”لکه د مارغهٔ چې غر ته والوځم،

٢ ګوره بدعمله خپله لينده راکاږی او غشی ويشتو ته برابروی،

او د پټ ځائ نه په نېکانو باندې يې ورَوی.

٣ هرکله چې بنيادونه ورانولے شی،

نو رښتونی خلق به څهٔ وکړے شی؟“

٤ مالِک خُدائ په خپل مقدس کور کښې دے،

هم اوس مالِک خُدائ د خپل آسمانی تخت نه بادشاهی کوی.

هر يو انسان هغه په خپله د نزدې نه ګوری،

او په زمکه هر يو کس آزمائی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ مالِک خُدائ صادقان او بدکاران دواړه معلوموی،

هغه د هغوئ نه نفرت کوی څوک چې ظلمونه خوښوی.

۶ هغه به په بدکارانو او شریرانو بَل سکارهٔ او تاودهٔ ګوګړ ورَوی،

په سوزونکو هواګانو سره ورته سزا ورکوی.

۷ بېشکه صادق مالِک خُدائ د اِنصاف سره مینه کوی،

او نېکان خلق به د هغهٔ د مخ دیدن کوی.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد یو زبور چې د اتهٔ تاریزه رباب د ساز سره وغږولے شو

## په شریره زمانه کښې د مدد دُعا

۱۲ ۱ اے مالِکه خُدایه، تهٔ زمونږ مددګار شه،

په تېزۍ سره پناه کیږی ستا نېک بنیادمان،

ستا وفاداران دی د دې زمکې نه روان.

۲ وائی دروغ په خپلو کښې یو بل ته ګاونډیان،

په زړهٔ کښې دوکه باز او په غوړو شونډو دی ګویان.

۳ مالِکه تهٔ په خپله دوئ نه پرې کړه غوړ شونډان



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوئ نه هغه ژبې پرې کړه چې په لافو دی ګویان.

۴ دوئ وائی چې، ”مونږ به په خپله ژبه هر څۀ حاصل کړُو،

څوک مو د وینا نه ایسارولے شی چې مونږ خپلې شونډې استعمال کړُو؟“

۵ فرمائی مالِک خُدائ، ”زیاتے مې ولیدلو چې وشو په حاجتمندانو

فریاد او زبیرګی ما واورېدل چې وکړل غریبانانو،

نو زۀ به ورشم چې هغوئ بچ کړم،

څنګه چې هغوئ زما د مدد لری ارمان.“

۶ د مالِک خُدائ وعدې دی پاکې،

لکه سپین زر چې صفا شی اووۀ ځله په بټۍ کښې.

۷ اے مالِکه خُدایه مونږ یُو په اطمینان چې به وساتې

نسل د دروغژنو نه به کړې تل په حفاظت دا مظلومان.

۸ خو په هر ځائ کښې ګرځیږی بدکاران

ټول بدی ته په ښۀ سترګه ګوری انسانان.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد یو زبور



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د دشمنانو د لاس نه د خلاصون دُعا

١٣ ١ اے مالِکه خُدایه، تر کومه به تهٔ ما هېروې؟
تر ابده پورې
تر کومه به تهٔ بل خوا ته ګورې؟
٢ تر کومه به زما ذهن پرېشانه وی
هره ورځ زما په زړهٔ کښې به تر کومه خفګان وی؟
تر کومه به دشمن په ما باندې غالب وی؟
٣ مالِکه زما خُدایه، راشه ما له جواب راکړه.
سترګې مې روښانه کړه ګنې مړ به شم،
٤ مهٔ خوشحالوه ما باندې تهٔ زما دشمنان،
چې، ”ور مو کړُو شکست،“ وائی به دوئ مدام.
دوئ مهٔ خوشحالوه زما په لړزان.
٥ ستا په بېحده مینه لرم ایمان،
زهٔ به خوشحالی کوم ځکه چې ستا د خلاصون منم احسان.
٦ مالِکه خُدایه، ستا د صِفت سرود به کړم بیان،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې ته يې په ما مهربان.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د بېدينو کم عقلتوب

**۱۴** ۱ ”نشته دے خُدائ،“ په خپل زړهٔ کښې وائی کم عقلان،
دوئ دی فاسدان ښهٔ عمل يې نشته يو هم داسې نشته چې وی نېکان.

۲ مالِک پاس د آسمان نه ګورى ټول بنيادمان
هغه ګورى چې په رشتيا په دُنيا شته داسې پوهان،
څوک شته په دې دُنيا د خُدائ متلاشيان.

۳ نشته يو هم نشته ټول دى اوړېدلى په غلطه لار روان،
نشته دے يو کس هم چرته نشته دے نېکان.

۴ ولې دوئ نهٔ زده کوی څوک چې دى بدکاران،
دوئ خورى لکه روټۍ زما خلق انسانان
مالِک ته به د دُعا فکر ونهٔ کړی دا بدکاران؟

۵ په سخته يره کښې به پراتهٔ وی بدکاران،
ځکه پاک خُدائ مل دے د صادقانو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ اے بدکارانو تاسو په غریبانانو ظلم کوئ،

خو مالِک خُدائ دے د خپلو خلقو نګهبان.

۷ څوک به راشی د صیون چې آزاد کړی اِسرائیلیان،

کله چې مالِک خُدائ بیا آباد کړی خپل قومیان،

یعقوب به خوشحالی وکړی او خوشحاله به شی اِسرائیلیان.

## د عبادت اصُول. د حضرت داؤد یو زبور

## د خُدائ پاک اراده او رضا

۱۵ ۱ څوک مالِکه خُدایه ستا مقدس کور کښې عبادت ته داخلیدے
شی؟

ستا په مقدس غر څوک ستا حضور کښې اوسیدے شی؟

۲ هغه څوک چې وی بےعیبه او ښهٔ کارونه کوی،

او د زړهٔ د اخلاص نه رښتیا خبرې کوی.

۳ څوک چې نهٔ کړی غیبتونه او په ګاونډی نهٔ کوئ ظلمونه

او نهٔ په خپلو دوستانو باندې بد وائی،

۴ چې منکرانو ته سپک ګوری



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د مالِک خُدائ د وفادارانو قدر کوی،

کۀ هر څومره ورته سخته وی

خو بیا هم مدام ټینګ ولاړ وی په خپل عهد او پیمان،

۵ د قرض په بدل کښې چې څوک نۀ وی سود خواران

او څوک چې د بې‌ګناه خلاف رشوت نۀ قبلوی.

نو داسې چې څوک کوی هغه به قائم وی مدام.

## د حضرت داؤد یو زبور

## په خُدائ پاک ایمان او یقین

۱۶ ۱ اے پاکه خُدایه، ما وساته په خپل امان،

پناه مې راوړه تا ته او شه مې نګهبان.

۲ ما ووئیل مالِک خُدائ ته، "تۀ زما مالِک یې،

زما دغه ټول برکتونه او ښېګړې له تا نه دی."

۳ په زمکه باندې ټول مؤمنان دی رښتینې شریفان،

په دوئ کښې زما خوشحالی ده.

۴ خو اخته به شی هغه خلق په خفګان



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د خُدائ نه غېر منی نور خُدايان.

نهٔ به اخلم برخه د هغوئ په قربانيانو

نهٔ به واخلم د هغوئ د معبودانو نومونه په زبان.

۵ تهٔ يې اے مالِکه خُدايه زما ټول نصيب او برکتونه،

او زما د هر څيز ساتونکے يې تهٔ په خپله.

۶ تا ما له په برخه کښې راکړی دی ښهٔ ځايونه،

بېشکه چې عجيبه دی ستا ميراثونه.

۷ زهٔ به د هغه مالِک خُدائ ادا کړم ثناء او صِفتونه څوک چې ما له کوی هدايتونه،

خپل زړهٔ راته د شپې هم کوی لاربشودنه.

۸ مالِک خُدائ هميشه راسره دے زهٔ په دې پوهېږم.

هغه په خوا کښې راسره دے نو زهٔ به نهٔ غورزېږم.

۹ نو ځکه مې زړهٔ خوشحاله دے خوشحالېږم،

ژوند کوم او په امان کښې اوسېږم،

۱۰ زما روح به تهٔ پرې نهٔږدې په عالمِ ارواح کښې،

خاورې کېدو ته به پرې نهٔ ږدې تهٔ خپل قُدوس.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ تهٔ به ما ته د ژوندون لاربښودنه وکړې،
د خپل حضور خوند به ما له راکړې،
تا سره د تل ژوندون خوشحالی به ما له راکړې.

## د حضرت داؤد دُعا

# ۱۷

۱ اے مالِکه خُدایه، زما د اِنصاف درخواستونه واوره،
زما د مدد کولو فریادونه واوره.
زما دُعا ته ورکړه پاملرنه،
په صادقو شونډو چې کړمه سوالونه.
۲ ما بې‌گناه ثابت کړه،
ځکه ته ټول تا ته څرګند دی چې ښهٔ کوی کارونه.
۳ تا په شپه کښې زما د خیالونو او د زړهٔ وکړل امتحانونه،
پس د امتحان نه دې په ما کښې پیدا نهٔ کړل غلط کارونه،
اراده زما پخه ده په ژبه نهٔ کړم ګناهونه.
۴ ما منلی دی ټول ستا حُکمونه
کوم چې ما ساتی د ظالمانو د لارو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ زۀ همېشه ستا په لاره يم روان،

زۀ ستا نه نۀ يم اوړېدلے، يم دې پېروکار.

۶ زۀ دُعا کومه تا ته، اے خُدايه، تۀ به راکړې جوابونه،

کله چې دُعا کوم غوږ ونيسه ما ته قبول مې کړه سوالونه.

۷ ما ته د خپلې لوئې مينې خواږۀ راوښايه،

په خپل قُدرت دوئ بچ کوې تۀ له دشمنه

څوک چې پناه غواړی له تا نه.

۸ وساته ما داسې لکه ستا د سترګو تور په شان،

د خپل وزرونو په سوری ما پټ کړه.

۹ د بدعملو خلقو نه ما وساته چې په ما کوی حملې،

ما وساته د بېرحمه دشمنانو نه چې يې واچولې ګېرې.

۱۰ کلک کړی دی هغوئ خپل بېرحمه زړونه،

واوره په خپله د هغوئ د لافو ډک کلامونه.

۱۱ زما نه ګېرچاپېره شوی دی، زۀ يې نيولے يم،

کوی دوئ د دې انتظار چې زمکې ته مې راوولی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

﴿١٢﴾ زما د وژلو په تلاش کښې دی دوئ لکه د اوړی ازمری په شان،

لکه د خپل ښکار په طمع پټ ناست چې وی زمرے ځوان.

﴿١٣﴾ اے مالِکه، راپاځه، ودرېږه د دوئ خلاف، په ګوډو کړه شریران،

ما د خپلې تُورې په زور له بدعملو نه بچ کړه.

﴿١٤﴾ اے مالِکه خُدایه، د خپل لاس په طاقت دې تباه کړه هغه خلق،

څوک چې په دې دُنیا لټوی خپل اجرونه.

خو په خېټه ماړهٔ کړه خپل غوره شوی بنیادمان،

د دوئ اولاد سره دې وی ډېر مالونه،

په میراث کښې دې پاتې شی ورته مال او دولتونه.

﴿١٥﴾ ځکه زهٔ یمه صادق ستا مخ به ووینم،

زهٔ چې کله راپاځم ستا دیدن به وکړم په لیدو ستا به مطمئن شم.

**د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور د مالِک خُدائ خِدمتګار. هغهٔ دا سرود مالِک خُدائ ته په هغه ورځ ووئيلو، چې په کومه ورځ مالِک خُدائ دے د خپلو دشمنانو او ساؤل نه وساتلو.**

**د فتحې نظم**

**١٨** ﴿١﴾ اے مالِکه خُدایه تا سره مینه کوم تهٔ په خپله زما زور او طاقت



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې.

٢ مالِک خُدائ ګټ دے زما، قلعه ده زما، او خلاصوونکے دے زما،
زما خُدائ ګټ دے زما، په چا کښې چې ما خپل حفاظت موندلے دے.
هغه دے ډال زما، هغه زور چې بچ کوی ما، او د حفاظت پناه ګاه ده زما.

٣ مالِک خُدائ ته مې وکړل آوازونه څوک چې لائق دے د ثناء صِفتونو،
او هم هغه په خپله مې د دشمنانو نه بچ کوی.

٤ زهٔ د مرګ په پړو کښې راګېر شوے يم،
د بربادئ طوفان مې د سر دپاسه تېر شو.

٥ ګېرچاپېره رانه تاو دی د قبر زنځيرونه،
زما په لار کښې مرګی خپل دامونه غوړولی دی.

٦ په سختئ کښې خپل مالِک ته کړمه آوازونه،
د مدد دپاره ما خپل خُدائ ته وکړل آوازونه.
د خپل مقدس ځايه هغهٔ واورېدل زما آوازونه،
د هغهٔ تر غوږو ورسېدل زما فريادونه.

٧ زمکه باندې زلزله راغله ولړزيده،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ټولو غرونو بنيادونه وخوځېدل،

زلزله څکه پرې راغله چې هغه په غصه وو.

٨ د هغهٔ د پوزې او سپېږمو نه لوږې راووتل،

بل سکارهٔ ترې نه روان وو يروونکى لمبه يې د خولې راووتله.

٩ هغه لاندې ترې راکوز شولو وشلول يې آسمانونه،

د هغهٔ د پښو د لاندې تورې ورېځې وې.

١٠ والوتو هغه په وزرو والا مخلوق سور شولو،

هغه د هوا په وزرو سور شولو.

١١ هغهٔ د خپله ځانه ګېرچاپېره تيارهٔ تاو کړله،

د باران نه ډکه وريځ يې د خپل ځان نه راتاوه کړله.

١٢ د هغهٔ د حضور جلال تورې ورېځې وشلولې،

او ږلۍ او بل سکارهٔ يې راورول.

١٣ واورېدے شو د آسمانه د مالِک خُدائ آواز،

د تندر په شان د خُدائ تعالىٰ راغلو آواز.

١٤ خپل دشمنان يې کړل خوارهٔ د غشو په ويشتو سره،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

و يې زغلول د تندر په ګړزار او په برېښنا سره.

۱۵ اے مالِکه خُدایه ستا په حُکم او په چغه په رټلو

ببخ د سمندر راښکاره شولو، او بنیاد د زمکې راڅرګند شولو.

۱۶ د آسمانه یې خپل لاس کړلو راوړد او زهٔ یې بچ کړم،

زهٔ یې د ډوبو اوبو نه رابهر کړم.

۱۷ بچ یې کړمه زهٔ د زورَور دشمن د لاسه،

چې زما نه یې نفرت کولو او وو زما دپاسه.

۱۸ په ورځ د مصیبت هغوئ کړی راسره جنګونه،

خو مالِک خُدائ زما مل وو په خپله.

۱۹ زهٔ یې یو پُراَمنه ځائ ته راوستم،

ځکه چې هغه رانه خوشحال وو زهٔ یې بچ کړم.

۲۰ ما ته په ښهٔ کولو مالِک اجر راکړے دے،

زما د بې‌ګناهئ په وجه یې ما له انعام راکړے دے.

۲۱ ځکه ما کارونه د مالِک خُدائ پوره کړی دی،

نهٔ مې بد عمل چرته د خُدائ پاک خلاف کړے دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ ما د هغهٔ په ټول قانون عمل کړے دے،

پرېښی نهٔ دی ما د هغهٔ اصُول منلی دی.

۲۳ د خُدائ په وړاندې زهٔ بېداغه يم

خپل ځان مې د ګناه نه بچ ساتلے دے.

۲۴ مالِک ما له د ښهٔ کولو اجر راکړے دے،

هغه پوهيږی چې زهٔ بېګناه يم.

۲۵ تهٔ د وفادارو سره وفادار يې،

تهٔ د هغوئ سره نيکی کوې څوک چې نيکان دی.

۲۶ پاکانو ته تهٔ خپل ځان پاک ښکاره کوې،

او هغوئ څوک چې مکاران دی مکر کوی.

۲۷ تهٔ خلاصون ورکوې عاجزانو له

خو تهٔ په خپله کبر نسکوروې مغرورانو له.

۲۸ اے مالِکه خُدايه، تهٔ زما چراغ يې،

مالِکه خُدايه، زما تيارهٔ په رڼا بدلوې.

۲۹ ستا په مدد زهٔ فوجونه تس نس کولے شم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مالِک خُدائ په مدد د دیوالونو نه دانګلے شم.

۳۰ د خُدائ پاک لاره کامله ده،

د مالِک وعده صحيح ده.

د هر چا دپاره ډال دے څوک چې د هغهٔ غواړی پناه.

۳۱ د مالِک نه بغير بل خُدائ څوک دے؟

او زمونږ د خُدائ نه بغير څوک ګټ دے؟

۳۲ دا خُدائ دے چې زور طاقت راکوی ما له

پُراَمنه کوی دے په خپله لار ما له.

۳۳ هغهٔ جوړې کړی زما پښې د هوسۍ د پښو په شان،

چې شمه پاس په اوچتو غرونو روان.

۳۴ هغه تیاروی جنګ ته زما لاسونه،

چې متې مې راکاږی د زېړو کمانونه.

۳۵ تا ما له د خلاصون ډال راکړے دے،

ستا ښی لاس زما مدد کړے دے،

او ستا مدد زما ځان تکړه کړے دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۶ تا زما د پښو دپاره پراخه لاره جوړه کړله،

ترڅو پښې زما ونۀ ښوئيږى هيڅکله.

۳۷ زۀ په خپل دشمن پسې شوم کړل مې گرفتار،

تر هغې واپس نه شوم ترڅو دوئ مې کړل تار په تار.

۳۸ هغوئ مې داسې ووهل چې بيا پاڅېدے نۀ شول،

هغوئ زما د پښو د لاندې شول.

۳۹ ما له دې راکړو طاقت د جنگ دپاره،

تا دشمنان په پښو کښې وغورزول زما دپاره.

۴۰ تا دشمنان په تېښته وتښتول زما نه،

ما کړل تباه چا چې نفرت کولو زما نه.

۴۱ د بچ کولو يې څوک نۀ وُو هغوئ وکړل د مدد دپاره فريادونه،

دوئ وکړو سوال مالِک خُدائ ته خو هغۀ ورنۀ کړو جواب.

۴۲ زۀ هغوئ مېده کوم لکه د طوفان دوړې،

زۀ يې جارُو کوم لکه د کوڅو خاورې.

۴۳ زۀ تا بچ کړے د باغيانو يم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشر کړے دي د قومونو یم،

او چې څوک ما نۀ پېژندل هغوئ اوس زما خِدمت کوی.

۴۴ منی هغوئ زما امر چې کله شی خبر زما،

بهرنی قومونه سرونه ټيټوی په وړاندې زما.

۴۵ کله چې خبر شی بائيلی خپل همتونه،

راځی ما له په ويره رپېدو د مضبوطو قلاګانو.

۴۶ مالِک خُدائ ژوندے دے، ثنا دې وی زما د پناه ګاه،

لوئی دې وی زما د خلاصونکی خُدائ پاک.

۴۷ څوک چې راکوی ما له تکليفونه نو د هغوئ نه بدل اخلی زما،

هغه خُدائ پاک دے چې قومونه ماتحت کوی زما،

۴۸ څوک چې ما د خپلو دشمنانو نه بچ کوی.

تا زۀ په خپلو دشمنانو باندې اوچت کړم،

او تا زۀ د ظالمانو نه بچ کړم.

۴۹ ځکه مالِک خُدايه زۀ به ستا ثناء صِفت کوم،

ستا د نوم به په قومونو کښې ثناء صِفت کوم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٥٠ مالِک خُدائ ورکوی لوئې فتحې خپل بادشاه له،
ورکوی نۀ ختمېدونکې مينه خپل غوره شوی له،
د تل دپاره داؤد او د هغۀ ټول اولاد له.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د دُنيا په پېدايښت کښې د خُدائ پاک جلال

**۱۹** ١ آسمانونه د خُدائ پاک جلال خومره ښۀ بيانوی،
خلا يې د لاس کارنامې صفا بيانوی.
٢ هره ورځ بلې ورځ پسې متواتر وينا کوی،
هره شپه بلې شپې پسې د هغۀ مشهورتيا کوی.
٣ نۀ کوی خبرې خو په چپه خولۀ وينا کوی
هيڅکله چا نۀ دے اورېدلے آواز يې.
٤ خو د هغوئ آواز په ټوله دُنيا کښې اورېدلے شوے وو،
او د هغوئ کلام د دُنيا په آخرى حدونو پورې رسېدلے وو.
نمر دپاره خُدائ کور جوړ کړے دے پاس په آسمان،
٥ لکه زلمے چې د خپلې کمرې نه بهر راوځی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه څنګه چې يو پهلوان په خوشحالئ د منډې دپاره ليواله وی.

٦ خپله لاره جوړوی په آسمانونو د يو سر نه تر بله.

د ګرمئ نه يې هيڅ څيز پټېدے نۀ شی.

٧ قانون د مالِک خُدائ کامِل دے، روح تازه کوی.

هدايت د مالِک خُدائ باوری دے، د ساده نه هوښيار جوړوی.

٨ حُکمونه د مالِک خُدائ رښتيا دی زړۀ خوشحالوی.

د مالِک خُدائ حُکمونه پاک دی د ژوند پوهه ورکوی.

٩ د مالِک خُدائ يره پاکه ده او تل به وی.

حُکمونه د مالِک خُدائ درست دی هر يو په اِنصاف وی.

١٠ خواهش يې د زرو نه زيات دے،

د سوچه زرو نه هم زيات دے،

دا د شاتو نه هم ډېر خوږ دے،

د هغه شاتو نه چې د ګبين نه راڅاڅی.

١١ دا ما ستا خِدمتګار ته خبرتيا راکوی،

هغه څوک يې چې منی لوئ اجر ورکوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ څوک څنګه د خپل زړۀ په ګناه پوهېدے شی؟

ما پاک کړه د پټو خطاګانو نه.

۱۳ د قصداً ګناهونو نه خپل خِدمتګار بچ کړه،

چې راباندې غالب نۀ شی ما ترې خلاص کړه.

نو داسې زۀ به بچ شمه د جرمونو نه،

او بچ به شمه زۀ د لويو ګناهونو نه.

۱۴ زما خبرې او زما د زړۀ خيالونه دې منظور شی تا ته،

اے مالِکه خُدايه تۀ يې زما پناه ګاه او زما خلاصونکے يې.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د کاميابۍ دپاره دُعا

**۲۰** ۱ په وخت د مصيبت کښې دې مالِک ستا فرياد واورى،

د يعقوب د خُدائ پاک نوم دې د هر نقصان نه ستا حفاظت وکړى.

۲ هغه دې ستا مدد وکړى د خپل مقدس ځائ نه

او داسې به طاقت درکوى د صيون نه.

۳ ټولې قربانۍ دې ستا قبولې کړى



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تولې سوزېدونکې نذرانې دې ستا منظورې کړی.

۴ هغه دې ستا د زړهٔ ارمان پوره کړی

کامیابه دې هغه ستا منصوبې کړی.

۵ نو ستا په کامیابۍ به چغې د خوشحالۍ ووهو

د خپل خُدائ د نوم جنډې به اوچتې کړُو.

مالِک خُدائ دې جواب درکړی ستا د ټولو سوالونو.

۶ اوس زهٔ په دې پوهېږم چې مالِک خُدائ به خپل غوره شوے بادشاه بچ کړی،

هغه به د خپل پاک آسمان نه جواب ورکړی

په خپل لوئ طاقت سره به یې هغه بچ کړی.

۷ څوک فخر کوی په جنګی ګاډو او څوک په آسونو،

خو مونږ د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک په نوم فخر کوُو.

۸ دا قومونه به په ګوډو شی او راوبه غورزیږی،

خو مونږ به راپاڅو او ټینګ به ودریږو.

۹ ورکړه فتح زمونږ بادشاه له، اے مالِکه خُدایه،

کله چې تا ته سوال کوُو مونږ ته جواب راکړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور**

**د کاميابۍ دپاره د مالِک خُدائ ثناء**

# ۲۱

۱ مالِکه خُدايه، بادشاه ستا په طاقت څنګه خوشحالی کوی.

څکه چې هغه ستا په فتح ورکولو څومره لويه خوشحالی کوی.

۲ تا دے ورکړے د هغهٔ د زړهٔ ارمان

تا نهٔ دے رد کړے د هغهٔ د خولې بيان.

۳ تا هغه په ډېرو کاميابو او برکتونو معمور کړے دے

تاج دې د خالص سرو زرو ورپه سر کړے دے.

۴ چې د ژوند سوال يې له تا کړے دے نو تا يې سوال قبول کړے دے

نو د تل دپاره تا د هغهٔ ژوند اوږد کړے دے.

۵ ستا په خلاصون او مدد هغهٔ وموندو عزت،

تا هغهٔ له ورکړو شُهرت، شان او شوکت.

۶ هغهٔ له دې ورکړے برکت نهٔ ختميدونکے

ورکړے خپل ديدار دې ورته زړهٔ خوشحالوونکے.

۷ څکه چې بادشاه په مالِک خُدائ باندې ايمان لری،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خُدائ تعالیٰ په مینه هغه به تل د تیندکونو نه بچ وی.

٨ نو تهٔ به خپل ټول دشمنان راګیر کړې،

څوک چې درنه نفرت کوی نو هغه هر یو به په خپل ښی لاس راګیر کړې.

٩ کله چې تهٔ راښکاره شې په هغوئ به د بټۍ په شان اور بل کړې.

مالِکه خُدایه ستا د غضب اور به دوئ تیر کړی او ستا اور به یې تباه کړی.

١٠ تهٔ به د هغوئ اولاد د زمکې نه جارُو کړې،

تهٔ به هغوئ له نسل ورنهٔ کړې.

١١ کهٔ څهٔ هم بدې ارادې لری تا ته او نیټُونه یې خراب شی

خو کامیابه به هیڅکله د هغوئ منصوبې نهٔ شی.

١٢ تهٔ به کړې هغوئ دې ته جوړ چې په شا شی

دوئ چې کله ستا د لیندې غشو ته مخامخ شی.

١٣ راپاڅه اے مالِکه خُدایه، په خپل ټول قدرت،

مونږ به ووایو سندرې او ثناء ستا د زور او طاقت.

**د موسیقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد یو زبور چې د سحر هوسۍ**



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په ساز کښې به وغږولے شی

## د مدد درخواست او د ثناء صِفت سرودونه

# ۲۲

١ اے زما خُدايه، اے زما خُدايه، زۀ دې ولې پرېښودلم؟

تۀ ولې رانه لرې شوے يې او د مدد فرياد مې نۀ اورې؟

٢ په ورځ کښې تا ته فرياد کوم زما خُدايه خو تۀ جواب نۀ راکوې،

هره شپه تۀ زما آواز اورې، خو ما ته هيڅ آرام رانۀ شی.

٣ خو ستا پاکه هستی پاس په تخت،

اِسرائيليان کوی ستا ثناء صِفت.

٤ زمونږ پلار نيکۀ په تا لرلو ايمان،

او تۀ شوې د هغوئ نګهبان.

٥ دوئ تا ته فريادونه وکړل تا خلاصون ورکړو،

هغوئ مايوسه نۀ شول په تا چې چا اطمينان وکړو.

٦ خو زۀ چينجے يم او انسان نۀ يم،

سپک راته ګوری د تِولو د خندا يم.

٧ څوک چې راته ګوری خندا راپورې کوی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوئ سرونه خوځوی راته سپک ګوری.

۸ دوئ وائی چې، ”لرلو یې په مالِک خُدائ اطمینان آیا دا هغه ثوک دے،

خو مالِک خُدائ دې اوس دے بچ کړی.

ځکه چې مالِک خُدائ بېشانه مینه ورسره کوی.“

۹ تا د مور د خېټې نه په سلامتۍ رابهر کړم،

ما له دې باور راکړو زهٔ دې د مور په سینه لوئ کړم.

۱۰ د پېدایښت نه ستا لاسونو ته وسپارلے شوم،

تهٔ زما خُدائ یې د کوم وخت نه چې پیدا شوم.

۱۱ زما نه لرې مهٔ ودرېږه ځکه چې مصیبت را په سر دے،

او ستا نه علاوه بل څوک نشته چې وی زما مددګار.

۱۲ د ډېرو غوَیانو په شان دشمنانو راګېر کړے یم،

لکه د بسن د یرووُنکو غوَیانو غوندې یې ګېر کړے یم.

۱۳ زما خلاف یې د زمرو په شان خپلې خولې وازې کړې دی

په غړمبار سره ما څیری.

۱۴ توئ شوے یم زهٔ لکه اوبو په شان،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هډوکی د جوړونو نه مې شوی دی بې‌ځایه.

زړۀ زما ویلی شو د موم په شان،

۱۵ تول زور مې خُشک شو د خاورین لوښی په شان،

ژبه مې تالو پورې شوه چسپان،

په خاورو کښې تا پرېښے یم د مړی په شان.

۱۶ د سپو په شان دشمنانو راګېر کړے یم،

د بدکارانو قبیلې راګېر کړے یم،

دوئ په پښو لاسو زخمی کړے یم.

۱۷ تول هډوکی خپل شمېرلے شم،

دشمنان راته راګوری او په ما خوشحالیږی.

۱۸ هغوئ په خپلو کښې تقسیموی جامې زما

په خپلو کښې خسنے پرې وباسی په جامو زما.

۱۹ اے مالِکه خُدایه زما نه لرې مۀ ودرېږه،

تۀ زما زور او طاقت یې زر زما مدد دپاره راشه.

۲۰ ما د تُورې د خولې نه بچ کړه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دغه سپو نه زما قیمتی ژوند بچ کړه.

۲۱ د زمرو د خولې نه ما راوباسه،

او ما د ځنګلی غوَیانو د ښکرو نه په امان کړه.

۲۲ زهٔ به خپلو خلقو ته ستا د نوم لوئی بیان کړم،

ستا ثناء صِفت به زهٔ د جماعت په مینځ کښې وکړم.

۲۳ تاسو څوک چې د خُدائ نه یرېږئ د مالِک خُدائ ستائینه وکړئ،

اے د یعقوب اولاده، تاسو هغهٔ له عزت ورکړئ،

اے بنی اِسرائیلو تاسو ټول د هغهٔ عزت وکړئ.

۲۴ ځکه هغهٔ نهٔ د حاجتمندانو درد ته سپک وکتل،

او نهٔ هغهٔ د هغوئ ضرورتونو ته شا کوی

نو هغه د هغوئ فریادونه اوری.

۲۵ زهٔ به په لویه ډله کښې ستا ثناء صِفت وکړم،

د مؤمنانو په وړاندې به زهٔ خپل نذرونه پیش کړم.

۲۶ غریبانان به ماړهٔ او مطمئن شی،

د مالِک خُدائ ټول لټوونکی به ثناء خوان شی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغوئ زړونه دې د تل دپاره خوشحاله وی.

۲۷ ټوله دُنیا به مالِک خُدائ یاد کړی او هغهٔ ته به راوګرځی،

د دُنیا ټول قومونه او هر خاندان به هغهٔ ته سجده وکړی.

۲۸ ځکه چې مالِک خُدائ بادشاه دے

او د هغهٔ په قومونو حکومت دے.

۲۹ د دُنیا ټول کبرژن به هغهٔ ته په تعظیم شی،

څوک چې فانی دی هغه ټول به ورته په سجده شی

هغوئ به خپل ځانونه ژوندی ساتلے نهٔ شی.

۳۰ راتلونکے نسل به یې خِدمت کوی،

د مالِک خُدائ بیان به راتلونکی نسل ته کوی.

۳۱ هغه څوک چې لا پیدا نهٔ دی د هغهٔ د خلاصون نه به خبر شی

دوئ به د هغهٔ د ټولو کارنامو نه خبر شی.

## د حضرت داؤد یو زبور

## مالِک دے شپون زما

۲۳ ۱ مالِک خُدائ دے شپون زما،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د هيڅ څيز حاجت نشته دے زما.

٢ راکوی آرام په شين چمن کښې ما له،

بوځی مې هغه د آرامو اوبو خوا له.

٣ هغه راکوی تازه او نوے قوت ما له،

په نېغه لار مې بيائی د خپل نوم دپاره.

٤ کۀ څۀ هم د مرګ وادئ نه زۀ تېرېږم،

خو تۀ زما په څنګ يې نو نۀ يرېږم،

ستا په چوکه او امسا زما تسلی ده.

٥ تۀ زما د دشمنانو په وړاندې تياروې ډېر خوراک ما له،

تۀ مې سر په تېلو غوړوې نو په دې عزت راکوې ما له،

تۀ د خپل برکت نه تر څنډو ډکوې پياله ما له.

٦ بېشکه ستا نيکی او مينه به وی زما د ټول ژوند دپاره،

زۀ به د مالِک خُدائ کور کښې اوسېږم د تل دپاره.

## د حضرت داؤد يو زبور



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د جلال بادشاه

**۲۴** ① دا دُنیا د مالِک خُدائ ده او هر څۀ چې په دې کښې دی،
دا ټوله دُنیا او انسانان څوک چې په دې کښې دی.
② په دریابونو باندې اېښی مالِک خُدائ د زمکې بنیادونه دی،
دا زمکه یې په سمندر باندې آباده کړې ده.
③ د مالِک خُدائ غر ته څوک ورختلے شی؟
او څوک د هغۀ مقدس ځائ کښې ودرېدلے شی؟
④ یواځې هغه څوک چې یې زړونه او لاسونه پاک وی،
څوک چې د بُتانو عبادت نۀ کوی،
او هیڅکله د دروغو قسمونه نۀ کوی.
⑤ دوئ ته به د مالِک خُدائ برکت مِلاو شی،
او خپل خلاصونکی خُدائ پاک نه به صداقت حاصل کړی.
⑥ او هم داسې خلق ستا د مخ لټون کوی،
اے د یعقوب خُدایه، دوئ به ستا طلب کوی.
⑦ اے زړو دروازو کولاو شئ، ابدی ورونو خلاص شئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د جلال بادشاه دننه درشی.

٨ هغه د جلال بادشاه څوک دے؟

هغه دے مالِک خُدائ چې ډېر قوی او زورَور دے،

هغه مالِک خُدائ چې په جنګ کښې تکړه دے.

٩ اے زړو دروازو کولاو شئ، ابدی ورونو خلاص شئ،

چې د جلال بادشاه دننه درشی.

١٠ هغه د جلال بادشاه څوک دے؟

هغه ربُ الافواج دے،

هغه د جلال بادشاه دے.

## د حضرت داؤد یو زبور

## د هدایت او حفاظت دپاره دُعا

# ٢٥

١ زما مالِکه خُدایه، زهٔ دُعا غواړم له تا،

٢ اے زما پاکه خُدایه، زهٔ توکل کوم په تا.

ما شرمنده کېدو نه بچ کړه،

مهٔ پرېږده چې دشمنان کامیاب شی په ما.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ هیڅکله شرمنده به نۀ شی هغه څوک چې کوی یقین په تا،

خو شرمیږی به هغوئ چې د نورو سره کوی دوکه.

٤ اے مالِکه خُدایه، ما ته خپلې لارې وښایه،

خپلې لارې راته وښایه چې زۀ په هغې لاړ شم.

٥ تۀ ما د خپل حقیقت خوا له بوځه او هم درس راکړه ما له،

او هر وخت زۀ توکل کوم په تا اے زما خلاصونکی خُدایه.

٦ اے مالِکه خُدایه هغه مینه او رحم دې در په یاد کړه خپله،

چې کوله دې د ازله تا په خپله.

٧ زما د ځوانئ غلطئ او گناه مۀ یادوه

خو ما د خپلې بې‌بها مينې په وجه يادوه،

ځکه چې تۀ مهربان يې اے مالِکه خُدایه.

٨ ښۀ مې مالِک خُدائ دے سم کارونه کوی،

څوک چې وی بې‌لارې هغوئ ته نيغه لار سموی.

٩ هغه عاجزان په سمه لار روانوی،

او خپله لار هغوئ ته ور زده کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ د مالِک خُدائ تهولې لارې دی ړکې د وفا او د مينې،

د هغه چا دپاره چې ساتی د هغهٔ د لوظ تهولې غوښتنې.

۱۱ اے مالِکه خُدايه، د خپل پاک نوم د خاطره،

راويخښه کهٔ هر څومره زما گناه ده لويه.

۱۲ څوک دی هغوئ چې د مالِک خُدائ نه يره کوی؟

هغه به دوئ ته هغه لار وښائی کومه چې دوئ دپاره غوره کول دی.

۱۳ هغوئ به خپل ژوند په خير تېروی،

د هغهٔ اولاد ته به زمکه په ميراث کښې ورکوی.

۱۴ مالِک خُدائ د هغه چا ملگرے دے څوک چې د هغهٔ نه يرېږی،

هغوئ ته به د خپل لوظ شرطونه ورزده کوی.

۱۵ زما نظر به هميشه د مالِک خُدائ طرف ته وی،

هم هغه ما د دشمنانو د دام نه خلاصوی.

۱۶ او خپل فضل په ما وکړه زما طرف ته راوگرځه،

ځکه زهٔ يواځې شوے يم بد حاله.

۱۷ د بد نه بدتر شول زما غمونه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلاص مې کړه تکليفونه.

۱۸ زما غمونو او مصيبتونو ته توجو ورکړه

او زما ټول ګناهونه ما ته معاف کړه.

۱۹ ګوره ښومره ډيرېږی دشمنان زما

ګوره چې دوئ ښومره کرکه کوی له ما.

۲۰ زما ژوند د دوئ نه په امان کړه ما وساته،

ما مهٔ شرموه چې راوړې مې ده پناه تا ته.

۲۱ زما راستی زما نيکی دې پام وکړی په ما،

ځکه چې په تا توکل کړے دے ما.

۲۲ اے پاکه خُدايه، بنی اِسرائيل بچ کړه،

د ټولو مشکلاتو نه يې خلاص کړه.

## د حضرت داؤد يو زبور

## د نيک انسان دُعا

۲۶ ۱ اے مالِکه خُدايه، زما د بےګناهۍ په حقله تاسو فيصله وکړئ،

ځکه چې ما تل نيکی کړې ده،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما په مالِک خُدائ بېشکه باور کړے دے.

٢ اے مالِکه خُدايه په ما آزمېښت وکړه او تيار مې کړه،

زما د زړهٔ او خيالونو آزمېښت وکړه.

٣ خو زهٔ ستا د بېشانه مينې نه همېشه خبر يم،

نو ځکه زهٔ ستا د حقيقت په مطابق ژوند تېروم.

٤ زهٔ د دروغژنو خلقو سره نهٔ کښېنم،

نهٔ د مُنافقانو سره په لاره ځم،

٥ د بدعملو د محفل نه زهٔ نفرت کوم

او نهٔ زهٔ د شريرانو ملګرتيا کوم.

٦ زهٔ خپل لاسونه د ګناه نه وينځم،

اے مالِکه خُدايه، نو ستا قربانګاه نه به طواف کوم.

٧ زهٔ به د شکرانې سندرې وايم

او ستا ټول عجيبه کارونه به وايم.

٨ زهٔ مينه کوم مالِکه خُدايه ستا مقدس کور سره،

چرته چې ستا جلالی حضور اوسيږی هغه ځائ سره.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ ما د ګناهګارانو سره مهٔ حسابوه،

ما د قاتلانو سره مهٔ مجرم کوه.

۱۰ په ناپاکه منصوبو د هغوئ لاسونه سخا دی،

د رشوت نه ډک هر وخت د هغوئ لاسونه دی.

۱۱ خو زهٔ داسې نهٔ يم، زهٔ په دُنيا کښې پاک اوسېږم،

په ما شه مِهربانه او ما بچ کړه.

۱۲ زهٔ اوس په هوار مېدان ولاړ يم،

زهٔ به د ټول جماعت په وړاندې د مالِک خُدائ ثناء صِفت وايم.

## د حضرت داؤد يو زبور

## په مالِک خُدائ د توکل سندره

۲۷ ۱ مالِک خُدائ دے زما خلاصون او زما رڼا

نو بيا زهٔ ولې يره وکړم د چا؟

او مالِک خُدائ دے زما د ژوند قلعه

نو بيا به زهٔ ولې يره وکړم د چا؟

۲ چې کله ما ختمول غواړی بدکاران



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او حمله راباندې وکړی زما دشمنان،

تیندک به وخوری او راګزار به شی زما دشمنان.

۳ هر څو کهٔ رانه تاو شی ګېرچاپېره لښکرې،

زړهٔ کښې يره نهٔ لرم.

کهٔ شروع شی زما خلاف جنګونه،

خو زهٔ به خاطر جمع يم.

۴ د مالِک خُدائ نه هغه څهٔ چې زهٔ يې لټوم، زهٔ دا يو سوال کوم،

چې په کور د مالِک خُدائ کښې ټول عمر اوسېږم،

او چې هغه په خپل کور کښې ولټوم چې د هغهٔ د حُسن ديدن وکړم.

۵ خو په سخته ورځ به هغه ما له په خپل مقدس کور کښې پناه راکړی،

او په خپله خيمه کښې به هغه ما له حفاظت راکړی

او ما به هغه پاس په لوړه د ګټ دپاسه کښېنوی.

۶ نو بيا به زهٔ خپله غړی هسکه کړم

د هغوئ په وړاندې چا چې راګېر کړے يم،

د هغهٔ مقدس کور کښې به د خوشحالئ په چغو قربانی وکړم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ به سندرې او سرود او ثناء صِفت د مالِک خُدائ وکړم.

٧ اے مالِکه خُدايه زما فرياد اوره کله چې زۀ سوال زارى کوم،

مهربان شه، زما سوالونه قبول کړه.

٨ کله چې تا وفرمائيل، ”راشه زما ديدن وکړه،“

نو ما وئيل، ”اے مالِکه خُدايه، زۀ به درشم.“

٩ خپل مخ رانه مۀ اړوه ما ته مۀ په قهر کيږه تۀ،

خپل خِدمتګار دې غصه کښې مۀ پرېږده تۀ،

اے پاکه خُدايه، اوس ما مۀ پرېږده او ما مۀ رد کوه زما خلاصونکے يې تۀ.

١٠ کۀ څۀ هم چې مور او پلار ما ځان له پرېږدى،

خو مالِک خُدائ به ما خپل ځان ته نزدې کړى.

١١ اے مالِکه خُدايه، ما ته خپله لار راوښايه،

ځکه چې دشمن زما په انتظار کښې دے نو په نېغه لار مې بوځه.

١٢ ما د دشمنانو لاسونو ته مۀ پرېږده،

ځکه چې دوئ په ما هغه تهمت لګوى کوم چې ما کړے نۀ وى،

هره لحظه او شيبه کښې د شرارت دهمکى راکوى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ زما يقين دے د مالِک خُدائ مهربانی به ووينم،

ترڅو چې زۀ دلته په دې دُنيا کښې يم.

۱۴ نو مالِک خُدائ ته په صبر او انتظار شه،

نو ډاډه شه او زړَور شه

او د مالِک خُدائ په صبر او انتظار شه.

## د حضرت داؤد يو زبور

## د مدد دپاره دُعا

**۲۸** ۱ زۀ تا ته زاری کومه، اے مالِکه خُدايه زما حفاظت کوونکيه،

خپل غوږونه دې په ما مۀ کڼوه.

کۀ چرې تۀ پاتې شې خاموشه،

زۀ به هم د هغه چا په شان شم چې روان وی قبرستان ته.

۲ زما دُعا واوره او په ما رحم وکړه کله چې زۀ تا ته د مدد دپاره فرياد وکړم،

چې کله هم زۀ خپل لاسونه ستا مقدس مقام په لورې پورته کړم.

۳ ما لری مۀ غورزوه د بدکارانو سره،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او څوک چې بد کوی کارونه د هغوئ سره،

څوک چې کوی په خولهٔ خوږې خبرې ګاونډیانو سره

خو په زړهٔ کښې جوړوی منصوبې د فسادونو سره.

۴ هغوئ ته د هغوئ د عملونو سزا ورکړه

هغوئ ته د هغوئ د بدو کارونو په اندازه بدله ورکړه،

هغوئ ته د خپلو بدو عملونو او کارونو بدله ورکړه

کوم چې دوئ د نورو سره کړی دی هغوئ ته د هغه څهٔ سزا ورکړه.

۵ ځکه چې هغوئ د مالِک خُدائ د کارونو نه بېپرواه دی

او د هغهٔ د لاسونو کړې کارونه نهٔ وینی،

هغه به هغوئ ښکته راګزار کړی،

او هیڅکله به بیا آباد نهٔ شی.

۶ ثناء صِفت دې مالِک خُدائ ته وی،

ځکه چې د رحم دپاره هغهٔ زما ژړا واورېدله.

۷ مالِک خُدائ زما قوت دے زما ډال دے،

زما په هغهٔ د خپل ټول زړهٔ سره یقین دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغۀ ما سره مدد وکړو، او زړۀ مې خوشحاله دے،

زۀ به د ثناء صِفت سندرو سره د هغۀ شکريه ادا کړم.

٨ مالِک خُدائ خپلو خلقو له طاقت ورکوی،

هغه د خپل مسح شوی بادشاه يوه محفوظه قلعه وی.

٩ بچ کړه خپل خاص خلق او ورته برکت ورکړه،

شپون د هغوئ جوړ شه تل يې په خپلو لاسونو کښې اوچت کړه.

## د حضرت داؤد يو زبور

## په طوفان کښې د مالِک خُدائ آواز

٢٩ ١ اے د آسمان مخلوقه، د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ،

د مالِک خُدائ د جلال او د طاقت ثناء صِفت وکړئ.

٢ د مالِک خُدائ د جلالی نوم ثناء صِفت وکړئ،

د مالِک خُدائ عبادت د هغۀ د مقدس شان په مطابق وکړئ.

٣ آواز د مالِک خُدائ د دريابونو دپاسه اورېدے شی، د تندر په شان،

د زورَورو اوبو دپاسه د جلالی خُدائ آواز اورېدے شی د تندر په شان.

٤ آواز د مالِک خُدائ ډېر زورَور دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مالِک خُدائ د آواز لوئ شان دے.

۵ د مالِک خُدائ آواز د زورَور دِیار ونې ماتوی،

د مالِک خُدائ آواز د لبنان د دِیار ونې ماتوی.

۶ هغه د لبنان غرونه په ټوپونو کوی د سخی په شان،

هغه د حرمون غر په ټوپونو کوی لکه د ځوان ځنګلی غوَیی په شان.

۷ د مالِک خُدائ آواز شُغله کوی لکه د برېښنا په شان.

۸ د مالِک خُدائ آواز صحراګانې لړزوی،

د مالِک خُدائ آواز د قادِس دشته خوځوی.

۹ د مالِک خُدائ آواز د څېړۍ ونې کږوی او د ځنګلی ونو پاڼې رژوی،

د هغهٔ په کور کښې هر يو چغې وهی چې، ”خُدائ لوئ دے.“

۱۰ مالِک خُدائ په سېلاب باندې هم خپل حکومت کوی،

مالِک خُدائ د تل دپاره بادشاهی کوی.

۱۱ طاقت ورکوی خپلو خلقو له په خپله مالِک خُدائ،

د امن او امان برکت ورکوی خپلو خلقو له په خپله مالِک خُدائ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد يو زبور، د خُدائ پاک د کور د وقف کېدلو دپاره يو سرود

### د شُکر گزارۍ دُعا

**۳۰** ① اے مالِکه خُدايه ستا ثناء صِفت بيانوم، ځکه چې تا زۀ بچ کړم،
زۀ دې د دشمنانو د مسخرو نۀ کړم.
② اے مالِکه زما خُدايه، ما مدد دپاره تا ته زارى وکړله
او تا ما له شفا راکړله.
③ اے مالِکه خُدايه تا زۀ د قبر نه راوويستم،
تا زۀ د مرګ کندې ته د غورزېدو نه بچ کړم.
④ اے مقدسينو مالِک خُدائ ته سندرې ووايئ،
د هغۀ د مقدس نوم ثناء صِفت ادا کړئ.
⑤ ځکه چې د هغۀ غضب يوه لحظه وى،
خو د هغۀ فضل د ټول عمر وى،
ژړا صرف د شپې وى،
خو سحر کښې بيا خوشحالى وى.
⑥ کله چې زۀ ښۀ ومه نو ما داسې وئيل،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

”زۀ به هیڅکله په لړزان نۀ شم.“

٧ اے مالِکه خُدایه، لکه غر په شان ستا فضل زۀ قوی کړم،

چې مخ دې رانه واړولو نو زۀ شومه مایوسه او حېران.

٨ اے مالِکه خُدایه، ما تا ته ژړا او فریاد وکړو

ما مالِک ته د رحم سوال وکړو او ومې وئیل،

٩ ”تا ته څۀ فائده ده چې زۀ مړ شم، او ګور ته لاړ شم؟

زما خاورې ستا ثناء صِفت کولے شی څۀ؟

دا ستا وفاداری بیانولے شی څۀ؟

١٠ اے مالِکه خُدایه، رحم په ما وکړه سوال مې واوره،

اے مالِکه خُدایه، زما مددګار شه.“

١١ تا زما ویر د خوشحالئ په ګډا باندې بدل کړو،

تا رانه د غم جامې کوزې کړې او د خوشحالئ لباس دې راکړو،

١٢ نو ستا ثناء صِفت به کوم او خاموش به نۀ شم.

اے مالِکه خُدایه، زما پاکه خُدایه، زۀ به د ټول عمر دپاره ستا شکریه ادا کړم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## په خُدائ باندې د توکل کولو دُعا

۳۱ ۞ ۱ اے مالِکه خُدايه، زۀ تا له د پناه دپاره راغلے يم،

ما بچ کړه چې زۀ ونۀ شرمېږم.

په خپل عدالت کښې دې ما له خلاصون راکړه.

۲ خپل غوږ دې ما ته راواړوه زر راشه او خلاصون راکړه ما له،

زما د بچ کولو ګټ او مضبوطه قلعه جوړه شه چې په کوم کښې به امان راکوې ما له.

۳ تۀ زما ګټ او زما قلعه يې.

د خپل نوم د خاطره دې زما لارښودنه وکړه،

۴ ما د هغه دام نه آزاد کړه چې کوم يې په پټه خور کړے دے،

ځکه چې تۀ زما د پناه ځائ يې.

۵ زۀ ستا لاسونو ته خپل روح سپارم،

مالِکه خُدايه تۀ وفادار خُدائ يې تا زۀ بچ کړم.

۶ څوک چې د بېکاره بُتانو عبادت کوی د هغوئ نه زما نفرت دے.

اے مالِکه خُدايه په تا باندې زما يقين دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ زۀ به ستا ابدی مينه کښې خندا او خوشحالی کوم،

ځکه چې تا په تکليفونو کښې وليدم،

او تۀ زما د زړۀ په مشکلاتو کوې پام.

۸ زۀ دې د دشمن لاسونو ته ورنۀ کړم

پراخه مېدان ته دې زۀ بوتلم.

۹ اے مالِکه خُدايه په ما مهربان شه په سختئ کښې يم،

د غم په وجه د سترګو نظر مې لاړو ړوند شوم،

په بدن او روح کمزورے شوم.

۱۰ ژوند مې په غم تير شو، د خفګان سره مې عمر لنډ شو،

ګناهونو مې زور ختم کړے دے، او هډُوکی مې کمزوری شول.

۱۱ دشمنان او ګاونډيان ټول راته په سپکه سترګه ګوری،

تر دې چې دوستان هم ما ته د نزدې راتلو نه يريږی.

کله چې ما کوڅو کښې ووينی، دوئ بل طرف ته زغلی.

۱۲ لکه مړے چې څوک هېر کړی داسې هېر شوم،

زۀ لکه د يو مات لوښی په شان جوړ شوم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ د ځان په حقله ما د ډېرو افواګانې واورېدلې،

او د هرې خوا نه په يرو کښې راګېر شوم.

زما د ختمولو منصوبې دشمن جوړې کړې.

۱۴ خو اے مالِکه خُدايه په تا دے يقين زما،

وايمه چې، ”هم تهٔ خُدائ يې زما.“

۱۵ ستا په لاسونو کښې دے مستقبل زما،

د دشمنانو نه مې بچ کړه څوک چې ظلم کوی په ما.

۱۶ خپله د مخ رڼا دې په خپل خِدمتګار وځلوه.

په خپله نهٔ ختمېدونکې مينې سره دې ما بچ کړه.

۱۷ چې زهٔ ونهٔ شرمېږمه اے مالِکه خُدايه،

خو د مدد دپاره زهٔ تا ته فرياد کوم.

بدعمله دې شرمنده شی،

هغوئ دې په لحد کښې غلې شی.

۱۸ د هغوئ دروغژنې ژبې دې غلې شی

هغه مغرورې ژبې چې نېکانو پسې سپکې وائی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ ستا احسان څومره لوئ وی
چې تا ساتلی د هغه چا دپاره څوک چې تا نه يريږی.
هر هغه چا ته يې زيات ورکوې څوک چې تا ته د پناه دپاره راځی،
او د ټولو خلقو په وړاندې هغوئ له برکت ورکوې.
۲۰ د خپل حضور د سورې لاندې تهٔ هغوئ له پناه ورکوې،
تهٔ هغوئ د خلقو د پټو منصوبو نه بچ ساتې،
او په خپل حضور کښې د خلقو د سپکو خبرو نه ورله پناه ورکوې.
۲۱ د مالِک خُدائ ثناء دې وی، هغهٔ ما ته خپله خاص مينه وښودله
کله چې زهٔ ګېر شوی ښار کښې محاصره وم.
۲۲ نو د يرې نه ما چغه کړه چې، "زهٔ د مالِک نظر نه غورزېدلے يم."
خو تا زما واورېدل کله چې زهٔ د مدد دپاره ژړېدلے يم.
۲۳ اے ټولو مقدسينو د مالِک خُدائ سره مينه کوئ،
مالِک خُدائ خپل وفادار بچ کوی،
او د کبرژنو نه پوره بدله اخلی.
۲۴ نو تاسو زړَور او تکړه اوسئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اے ټولو خوک چې د مالِک خُدائ نه اُمید لرئ.

## د حضرت داؤد يو زبور

## د ګناه اقرار او معاف کېدل

**۳۲** ① بختور دی هغوئ د چا نافرمانی چې معاف شوه،

او د چا په ګناهونو چې پرده واچولے شوه.

② نو څومره بختور هغه کس دے

د چا بد چې مالِک خُدائ حساب نۀ کړی

او څوک چې په خپل ژوند کښې ټګی نۀ کړی.

③ خو چې کله ما خپله ګناه پټوله،

نو زما بدن کمزورے کېدلو

او ټوله ورځ هډوکو به مې درد کولو.

④ هر کله چې شپه او ورځ

ستا د اصلاح درونډ لاس په سر وو زما،

لکه په سختې ګرمۍ کښې زور شو ختم زما.

⑤ نو آخر هم ما د خپلې ګناه اقرار وکړو تا ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو ما پتې نۀ کړې خپلې خطاګانې له تا نه.

نو ما ووئيل خپل ځان سره چې، ”خپله سرکشی به مالِک خُدائ ته بيان کړم.“

نو بيا تا زما د ګناهونو خطا معاف کړه.

۶ نو د دې دپاره هر څوک چې نيکان وی

هغوئ دې هم دا اوس دُعا وغواړی له تا نه،

بې‌شکه دوئ ته به ونۀ رسيږی تکليفونه کۀ هم راشی لوئ سېلابونه.

۷ تۀ زما پناه ګاه يې او د تکليفونو نه دې بچ کړم،

او زۀ دې د کاميابۍ په نغمو کښې تاو کړم.

۸ مالِک خُدائ فرمائی، زۀ به تا ته ښۀ او نيغه لار ستا د ژوند دپاره دروښايم.

زۀ به تا ته نصيحت کوم او په تا به نظر ساتم.

۹ د مست آس يا قچر په شان مۀ جوړېږئ

چې د واګو او قېزې نه بغير نۀ قابو کيږی.

۱۰ بدکارانو او شريرانو له غمونه ډېر وی،

خو د چا چې په هغۀ باندې توکل وی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مالِک خُدائ مينه د هغۀ نه ګېرچاپېره وى.

١١ نو په مالِک خُدائ کښې خوشحاله اوسئ،

تاسو ټول چې د هغۀ تابعدار يئ،

د خوشحالۍ چغې ووهئ، تاسو د چا زړونه چې صفا دى.

## د ثناء صِفت سرود

# ٣٣

١ اے صادقانو، مالِک خُدائ ته د خوشحالۍ سندرې ووايئ،

دا د صادقانو دپاره ښۀ دى چې د هغۀ ثناء ووائى.

٢ د بينجو د ساز سره د مالِک خُدائ ثناء خوان شئ،

د رباب په لسو تارو ساز کښې د هغۀ ثناء خوان شئ.

٣ په نوې حمد د هغۀ ثناء صِفت ادا کړئ،

په حکمت سره رباب ووهئ، او د خوشحالۍ دپاره چغې ووهئ.

٤ د مالِک خُدائ کلام رښتونے دے،

څۀ چې هغه کوى ټول د اطمينان دى.

٥ مالِک خُدائ د صداقت او اِنصاف سره مينه کوى،

د هغۀ په ازلى مينې ټوله زمکه ډکه ده.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ د مالِک خُدائ په کلام سره جوړ شوی آسمانونه دی،

د هغهٔ د خولې په کلام نمر، سپوږمۍ او ټول ستوری جوړ شوی دی.

۷ هغهٔ د سمندر اوبهٔ په یو ځائ جمع کړی دی،

هغهٔ د سمندر اوبهٔ په ذخیرو کښې بندې کړې دی.

۸ د مالِک خُدائ نه دې ټوله دُنیا یره وکړی،

د زمکې هر کس دې د هغهٔ احترام وکړی.

۹ نو چې هغهٔ وفرمائیل، دُنیا پیدا شوه،

د هغهٔ په حُکم ژوند پیدا شو.

۱۰ مالِک خُدائ د قومونو منصوبې بېنتیجې کوی،

هغه د هغوئ ټولې منصوبې باطلوی.

۱۱ خو د مالِک خُدائ منصوبې به د تل دپاره قائمې شی،

او د هغهٔ ارادې به هیڅکله خوځولے نهٔ شی.

۱۲ څومره بختور دے هغه قوم د چا خُدائ چې مالِک خُدائ وی،

او د خپل میراث دپاره چې هغهٔ غوره کړی وی.

۱۳ د آسمان نه مالِک خُدائ لاندې ګوری



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه ټول بنيادمان وينی،

١٤ د خپل تخت نه هغه کتل کوی

ټول خلق وينی کوم چې په زمکه اوسېدل کوی.

١٥ هغه د ټولو د زړونو جوړونکے دے،

نو د هغوئ په هر عمل هغه خبر دے.

١٦ يو بادشاه به هم د خپل لښکر په ډيروالی بچ نۀ شی،

او نۀ به کوم تکړه سپاهی په خپل زور تښتېدے شی.

١٧ د خلاصون دپاره جنګی آس بې‌فائدې شی،

هغه په خپل ټول زور بيا هم تا بچ کولے نۀ شی.

١٨ مالِک خُدائ په هغوئ نظر ساتی څوک چې د هغۀ نه يريږی،

په هغوئ باندې چې د هغۀ په ازلی مينه اُميد ساتی،

١٩ هغه دوئ د مرګ نه بچ ساتی

او د قحط په وخت کښې يې ژوندی ساتی.

٢٠ مونږ په مالِک خُدائ باندې توکل کوُو،

هغه زمونږ مدد او زمونږ ډال دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ په هغۀ کښې زمونږ زړونه خوشحاله دی،

او د هغۀ په پاک نوم زمونږ ایمان دے.

۲۲ مالِکه خُدایه، ستا ابدی مینه دې مونږ سره وی.

لکه څنګه چې له تا نه زمونږ اُمید وی.

## د حضرت داؤد یو زبور د هغه وخت په حقله کله چې هغه د ابی‌مَلِک په وړاندې چا چې هغه د مُلک نه شړلے وو خپل ځان داسې جوړ کړو لکه چې لیونے وی

## د خُدائ د نیکئ په حقله ثناء صِفت

۳۴ ۱ هر وخت به زۀ د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوم،

زۀ به په خپله ژبه ټول عمر د هغۀ ثناء صِفت کوم.

۲ په مالِک خُدائ به زما روح فخر کوی،

بېوسه خلق دې خوشحالی کوی.

۳ راځئ ما سره د مالِک خُدائ لوئی بیان کړئ،

او په شریکه د هغۀ نوم ته لوئی ورکړئ.

۴ نو هغه ما ته جواب راکوی کله چې زۀ د مالِک خُدائ نه سوال کوم،

زۀ یې د خپلې هرې یرې نه خلاص کړم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ ځوک چې په هغهٔ توکل کوی نو د خوشحالئ نه ځلیږی،

مختورن به نهٔ وی او نهٔ به شرمیږی.

۶ مالِک خُدائ زما عاجز دُعا واورېدله،

د خپلو ټولو تکلیفونو نه هغهٔ زهٔ خلاص کړم.

۷ د مالِک خُدائ فرښتې د هغه خلقو نه ګېرچاپېره وی،

بچ ساتی هغوئ ځوک چې د مالِک خُدائ نه په ویره وی.

۸ د مالِک خُدائ ښهٔ والے وآزمايئ او وګورئ چې هغه څومره ښهٔ دے.

ځوک چې د هغهٔ نه پناه غواړی هغه بختور دے،

۹ اے ټولو مقدسينو د مالِک خُدائ نه يره کوئ،

د هغوئ به د هيڅ څيز کمے نهٔ وی ځوک چې ترې نه يره کوی.

۱۰ د زمری بچی به اوږی او کمزوری شی،

خو د چا چې په مالِک خُدائ باندې توکل وی هغه به د هيڅ څيز محتاجه نهٔ شی،

۱۱ راځئ، زما بچو، ما ته غوږ شئ،

نو تاسو به د مالِک خُدائ د يرې نه خبر کړم.

۱۲ په تاسو کښې ځوک داسې شته چې ډېر اوږد عمر غواړی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښې او نيک بختې ورځې ليدل غواړی،

۱۳ نو په خپلې ژبې سره بد مهٔ وايئ

او په خپلو شونډو سره دروغ مهٔ وايئ.

۱۴ ښهٔ کوئ او د بدو نه ځان ساتئ،

امن قائم ساتئ او د هغې کوشش کوئ.

۱۵ د مالِک خُدائ نظر په صادقانو وی

او د هغوئ فريادونه اوری.

۱۶ خو مالِک خُدائ د هغوئ خلاف وی څوک چې بد کارونه کوی،

او د هغوئ نام و نشان د زمکې د مخ نه ورَکَوی.

۱۷ نو مالِک خُدائ يې اوری کله چې صادقان فرياد کوی،

او د ټولو مصيبتونو نه ورته خلاصون ورکوی.

۱۸ مالِک خُدائ هغه چا ته ورنزدې دے څوک چې غمژن وی

او هغوئ ته خلاصون ورکوی څوک چې بې‌حوصلې وی.

۱۹ کهٔ هر څو يو صادق انسان د مصيبتونو سره مخ شی،

خو مالِک خُدائ د هغه ټولو نه هغهٔ ته خلاصون ورکوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ نو مالِک خُدائ د هغهٔ د ټولو اندامونو حفاظت کوی،

چې کله به د هغوئ نه يو هم مات نهٔ شی.

۲۱ بدعمله به په خپله بدکارۍ تول تباه شی،

او د صادقانو دشمن ته به سزا ورکړے شی.

۲۲ خو مالِک خُدائ به خپلو خادِمانو ته خلاصون ورکوی،

هيڅ يو به هم مجرم نهٔ شی ځوک چې د هغهٔ نه پناه غواړی.

## د حضرت داؤد يو زبور

## د مدد دپاره دُعا

**۳۵** ۱ اے مالِکه خُدايه، د هغوئ مخالفت وکړه، ځوک چې زما مخالفت کوی،

هغوئ سره جنګ وکړه ځوک چې زما خلاف جنګ کوی.

۲ خپل ډال زغره دې راواخله،

راپاځه او زما مدد له راشه.

۳ د هغوئ خلاف ځوک چې ما پسې دی خپله تُوره او نيزه دې راواخله.

چې تهٔ زما خلاصونکے يې خُدايه، په دې ما مطمئن کړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ ځوک چې ما قتلول غواړی بې‌عزته او شرمنده دې شی،

ځوک چې ما بربادول غواړی ناکام او شرمنده دې شی.

۵ هغوئ دې په هوا کښې لکه د بوسو په شان والوځی،

او د مالِک خُدائ فرښته دې هغوئ وزغلوی.

۶ د هغوئ لار دې تیارهٔ او ښوئېدونکې شی،

فرښته د مالِک خُدائ دې ورپسې شی.

۷ بې‌سببه هغوئ ما ته ایښودی دی دامونه

بې‌سببه يې زما د نیولو دپاره کوهے کنستے دے،

۸ بربادی دې ناګهانه وربانديې راشی

ما ته ایښی جال کښې دې په خپله ګېر شی،

ما ته چې کنستې ده په هم هغه کنده کښې دې ګېر شی.

۹ نو بیا زهٔ به د مالِک خُدائ خوشحالی کوم.

چې هغه مې بچ کوی نو زهٔ به خوشحالی کوم.

۱۰ زما ټول ځان به ثنا وائی ستا،

”مالِکه خُدایه بل ځوک دے لکه ستا؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د زورَورو نه کمزورى څوک بچ کولے شى.

حاجتمند او مسکينان څوک د شوکمارو نه بچ کولے شى؟“

١١ بې‌رحمه ګواهانو په دروغو وکړه ګواهى په ما،

چې بلکل ترې خبر نۀ يم هغه اِلزامونه يې ولګول په ما.

١٢ هغوئ د ښو په بدل کښې بد راسره کوى،

او زۀ په غم باندې اخته يم.

١٣ خو ما د هغوئ په بيمارۍ، د غم جامې واچولې روژه دار شوم.

او په روژه نيولو او دُعا کولو د دوئ دپاره عاجز شوم،

ما د عاجزۍ نه په دُعا کښې سر ټيټ نيولے وو.

١٤ زۀ داسې خفه وم لکه څنګه چې څوک وى،

خفه په غم د دوستانو يا د ورور.

داسې مې سر ټيټ کړے وو لکه څنګه څوک چې وير کوى د خپلې مور.

١٥ خو دوئ ټول خوشحاله وُو چې راغلے وو غم په ما،

په ملنډو سره راټول شوى وُو دوئ خلاف زما،

هغه کسانو راباندې حمله وکړه چې وُو اجنبيان



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دوئ بېعزتي کوی په ما پورې مدام.

۱۶ لکه د بدکارانو غوندې په بېرحمۍ سره يې وکړله ما پورې خندا،

دوئ د نفرت نه خپل غاښونه وچيچل په ما.

۱۷ اے مالِکه خُدايه، ترڅو پورې به تهٔ دوئ ته ګورې؟

ما د دوئ د خطرناکو حملو نه بچ کړه،

زما ژوند د دې زمرو نه بچ کړه.

۱۸ نو بيا به زهٔ ستا شُکر په لويه ډله کښې ادا کړم.

زهٔ به په ټولو خلقو کښې ستا ثناء صِفت وکړم.

۱۹ مهٔ پرېږده چې زما دشمنان زما په شکست باندې خوشحاله شی،

مهٔ پرېږده هغوئ چې نفرت کوی له ما چې په غم زما خوشحاله شی.

۲۰ د خبر خبرې نهٔ کړی د شر خبرې کوی،

وائی دروغ د هغو پسې څوک چې ژوند په امن کوی.

۲۱ هغوئ په زوره د واه واه چغې وهی،

وائی چې، ”مونږ په خپلو سترګو ليدلے دے.“

۲۲ تا وليدل په خپله، مالِکه خُدايه، مهٔ چپ کېږه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اے مالِکه خُدايه، اوس ما مهٔ پرېږده،

۲۳ راپاڅه، تهٔ راپاڅه او زما دفاع وکړه،

زما دپاره وکالت وکړه، زما پاکه خُدايه او زما مالِکه،

۲۴ مالِکه خُدايه، زما خُدايه

د خپل عدالت په مطابق زما د بېګناهۍ اعلان وکړه،

چې په مصيبت کښې په ما خوشحالی وکړی زما دشمنان مهٔ پرېږده.

۲۵ چې هغوئ په زړهٔ کښې دا ونهٔ وائی خپل،

”ګورئ هغه وشول څهٔ چې مونږ غوښتل.“

او دوئ اوس نهٔ شی وئيلے چې، ”دے مونږ ژوندے تير کړو.“

۲۶ څوک چې زما په تکليفونو خوشحاليږی

هغوئ دې خوار شی او ودې شرميږی،

څوک چې خپل ځان زما دپاسه کوی

په بې‌شرمۍ او په بې‌عزتۍ کښې دې پټ شی.

۲۷ څوک چې زما طرفدارۍ له راشی نو هغوئ له لويه خوشحالی ورکړه،

هغوئ دې تل د مالِک خُدائ ثناء صِفت ادا کوی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک چې د خپل خِدمتګار په خير باندې پُرأمنه خوشحالی کوی.

٢٨ نو زۀ به په ژبه ستا صداقت بيانوم،

ټوله ورځ به زۀ ستا ثناء صِفت کوم.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور د مالِک خُدائ خِدمتګار

## د انسان بدکاری او د خُدائ ښېګړه

# ٣٦

١ د ګناه وهم بدکارو ته په زړۀ کښې لمسون کوی.

هغوئ بلکل د خُدائ پاک نه يره نۀ کوی.

٢ هغوئ په خپل نظر کښې ځان دوکه کوی،

هغوئ ته پته نۀ لګی چې په خپله څومره بدکاره دی.

٣ دوئ په ژبه د دوکې او د بدۍ خبرې کوی.

هغوئ کار د عقل او ښۀ عمل نۀ کوی.

٤ تر دې چې په خپل کټ کښې بدې منصوبې جوړوی.

د بدکارانو په لاره تلل کوی د دوئ ارادې ښې نۀ دی.

او د بدۍ نه مخ نۀ اړوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ مالِکه خُدايه، ستا ابدی مينه آسمانونو ته رسيږی،

او ستا وفاداری د وريځو نه بره رسيږی.

۶ ستا رښتينوالے لکه د لويو غرونو په شان،

ستا اِنصاف لکه د سمندر د ژوروالی په شان،

اے مالِکه خُدايه تهٔ خيال ساتې د انسان او هم د ځناورو.

۷ خُدايه پاکه، ستا رښتينې او ابدی مينه څومره قيمتی ده.

ټول انسانان ستا په وزرو کښې پناه اخلی.

۸ معمور به کړې هغوئ په پريمانه مېلمستيا د خپل کور،

او تهٔ به هغوئ د خپل برکتونو د درياب نه کړې معمور.

۹ خو تهٔ د ژوندون سرچينه يې،

په کوم نُور چې مونږ ليدل کوُو تهٔ هغه نُور يې.

۱۰ خپل ابدی رحمت دې په هغوئ نازل کړه څوک چې تا سره مينه کوی،

او خپل خلاصون ورکړه هغوئ ته څوک چې صادقان دی.

۱۱ مهٔ پرېږده چې ما د پښو لاندې کړی مغروران،

مهٔ پرېږده چې ما وشړی بدکاران.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ ګوره، هغوئ چې بد کوی او بدکاران دی ښنګه راوغورزېدل،

د بیا پاڅېدو نۀ دی سر د لاندې راوغورزېدل.

## د حضرت داؤد یو زبور

## د بدکارانو او مقدسینو اَنجام

# ۳۷

۱ د بدکارانو په حقله ځان مۀ پرېشانوه،

او د ګناهګارانو کارونو ته نیت مۀ بدوه.

۲ ځکه دوئ به اوچ شی د واښو په شان،

او شی به مړاوی د بوټو شنو په شان.

۳ په مالِک خُدائ توکل وکړه او نېکی کوه،

نو په زمکه باندې په امن سره ژوندون کوه.

۴ په مالِک خُدائ کښې خوشحاله اوسه،

نو هغه به پوره کړی ستا د زړۀ ارمانونه.

۵ هر څۀ چې تۀ کوې هغه خپل مالِک خُدائ ته وسپاره،

په هغۀ یقین لره هغه به شی ستا مددګاره.

۶ هغه به ستا رښتینوالے لکه د سحر هسې روښانه کړی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تا سره اِنصاف به لکه د غرمې د نمر هسې روښانه کړی.

٧ د مالِک خُدائ په وړاندې چپ ودرېږه،

او په صبر سره د هغهٔ فېصلو ته انتظار کوه،

او د بدکارانو په کامیابۍ او منصوبو مهٔ خفه کېږه.

٨ تهٔ قهر او غصه مهٔ کوه او مهٔ خفه کېږه،

دا به صرف تا د نقصان په طرف پرېږدی.

٩ ځکه چې تباه به شی بدکاران،

خوک چې په مالِک خُدائ لری ایمان،

دوئ به شی ضرور د زمکې وارثان.

١٠ په لږ وخت کښې به فنا شی بدکاران،

تاسو به یې لټون کوئ خو پیدا به نهٔ شی بدکاران.

١١ د زمکې وارثان به جوړ شی عاجزان،

په خوشحالۍ سره به اوسیږی په امان.

١٢ بدکاران د صادقانو خلاف منصوبې جوړوی

او د غصې نه ورته خپل غاښونه چیچی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ مالِک خُدائ شریرانو پورې خاندی،

ځکه چې هغه د دوئ د قضا ورځ وینی.

۱۴ راکاړی لیندې، خپله تُوره راویاسی بدکاران،

ترڅو چې پرې مړۀ کړی غریبان او مظلومان،

او چې مړۀ کړی هغوئ څوک دی صادقان.

۱۵ خو په خپلو تُورو به سورې شی هم د دوئ زړونه

او د دوئ لیندې به ماتې شینه

۱۶ د یو صادق چې لږ مال او دولت وی،

د بدعملو د ډېر دولت نه به قیمتی وی.

۱۷ او مالِک خُدائ به د بدعملو زور ختم کړی،

خو د صادقانو به حفاظت وکړی.

۱۸ هر وخت د مالِک خُدائ د نیکانو په ژوندون باندې نظر وی،

او هغوئ ته به هغه میراث ورکړے شی چې ابدی وی.

۱۹ په وخت د مصیبت کښې به هغوئ شرمنده نۀ شی،

او دا چې د قحط په ورځو کښې به هغوئ ماړۀ شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ خو بدکاران به فنا شی،

او د مالِک خُدائ دشمنان به لکه د صحرا د ګلونو په شان ختم شی،

او لکه د لوګی په شان به د نظر نه فنا شی.

۲۱ قرض اخلی او هيڅکله يې نۀ واپس کوی بدکاران،

خو ورکوی خير خېرات په سخاوت سره صادقان.

۲۲ مالِک خُدائ چې چا ته برکت ورکړی دوئ به د زمکې وارثان شی،

خو په چا چې لعنت وکړی د دُنيا نه به فنا شی.

۲۳ کۀ مالِک خُدائ د نېکانو د کردار نه خوشحاله وی،

هغه د هغوئ قدمونه سموی.

۲۴ کۀ تيندک وخوری نو ويه نۀ غورزيږی،

ځکه چې مالِک خُدائ يې په خپلو لاسونو کښې اوچتوی.

۲۵ ځوان ومه، بوډا شومه، صادقان مې بې‌اسرې ليدلی نۀ دی،

او د هغوئ بچی مې د روټۍ په سوال ليدلی نۀ دی.

۲۶ په آزاد لاس ورکوی سخاوتونه نېکان،

د دې برکتونه به وګوری د هغوئ بچيان.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ د بدو لاس په سر شئ، ښهٔ کارونو ته ځان سپارئ،
نو بيا به تاسو تول عمر په دُنيا کښې اوسيږئ.

٢٨ مالِک مينه کړی د اِنصاف سره او هغه به هيڅکله پريږدی نهٔ نيکان،
هغه به دوئ وساتی په امان خو تباه به شی اولاد د بدکاران.

٢٩ خو نيکانو ته به زمکه په ميراث کښې ورکړی،
او صادقان به تر ابده په کښې سکونت کړی.

٣٠ نيکان خلق خبرې د حکمت کړی،
او د هغوئ ژبه د اِنصاف خبرې کړی.

٣١ د خُدائ پاک قانون د هغهٔ په زړهٔ کښې دے،
نو ځکه د سمې لارې نه نهٔ ښوئيږی د هغهٔ پښې.

٣٢ بدکاران صادقانو ته پټ ناست وی،
او د هغوئ د قتلولو موقع لټوی.

٣٣ مالِک خُدائ به يې هغوئ ته حواله نهٔ کړی،
په وخت د عدالت به صادقان مجرمان نهٔ کړی.

٣٤ او په مالِک خُدائ باندې توکل کوئ او د هغهٔ د حُکمونو اِطاعت کوئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به تا اوچت کړی چې زمکه درله درکړی.

او تهٔ به وګورې چې بدعمله تباه کړی.

۳۵ ما بې‌رحمه او ظالمان لیدلی دی،

لکه ځنګه چې شنه ونه په خپل ځائ کښې لوئیږی.

۳۶ خو چې دوباره مې ولیدل، هغوئ د دُنیا نه تلی وُو،

ما چې کله هغوئ لټول نو بیا نهٔ وُو.

۳۷ نېکانو او صادقانو ته وګوره،

د دوئ آئنده به وی په خیر سره.

۳۸ خو باغیان به ټول تباه شی،

او د هغوئ نسل به نیست و نابود شی.

۳۹ مالِک خُدائ نېکانو ته خلاصون ورکوی،

او هغه په وخت د مصیبت کښې دوئ ته پناه ورکوی.

۴۰ مالِک خُدائ د هغوئ مدد کوی، او د بدعملو نه خلاصون ورکوی،

هغه دوئ بچ کوی ځکه چې دوئ د هغهٔ نه پناه اخلی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد يو زبور خُدائ پاک ته سوال کول چې هغه ياد ساتى

## د يو بيمار د تکليف په وخت دُعا

۳۸ ① اے مالِکه خُدايه، په خپل قهر کښې ما مۀ رټه

تۀ په خپله غصه کښې سزا ما ته مۀ راکوه.

② ځکه چې ستا غشو سورے کړے يم،

او په خپل لاس دې وهلے يم.

③ ستا د قهر په وجه زما وجود کښې بيمارى ده،

زما د گناه په وجه هډوکى مې مات شوى دى.

④ زما گناهونه په ما باندې غالب شوى دى،

د گناه دا پنډ د وړلو د برداشت نه بهر شوے دے.

⑤ پرهرونه مې ټول سخا شول بوئ ترې روان شوے دے،

زما د کم عقلتوب په وجه مې ځکه دا حال دے.

⑥ زۀ کوږ شوے خراب شوے يم،

زۀ د درد په وجه ټوله ورځ غمژن يم.

⑦ او ملا مې د سرې تبې په وجه سوزيږى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په بدن کښې مې دم نشته ختميږی.

(٨) زۀ کمزورے شوے بلکل تباه شوے يم،

زۀ زبيرګی کوم په زړۀ باندې غمژن يم.

(٩) اے مالِکه خُدايه، زما ټول ارمانونه ستا په وړاندې ښکاره دی،

او زما اسويلی آهونه ستا نه پټ نۀ دی.

(١٠) زړۀ زما درزيږی زما زور په ختميدو دے،

تر دې چې مې نظر د سترګو په ختميدو دے.

(١١) د بيمارئ په وجه زما دوستان او ملګری زما نه په ډډه ودريږی،

تر دې چې خپل خاندان هم رانه لرې لرې کيږی.

(١٢) دشمنانو راته ايښی دی دامونه هغوئ ما قتلول غواړی،

زما د تباهئ منصوبې جوړوی خوک چې ما ته نقصان رسول غواړی،

دوئ ټوله ورځ منصوبې جوړوی راسره دوکه کول غواړی.

(١٣) خو زۀ لکه د يو کُوڼ په شان هيڅ نۀ اورم،

او زۀ د يو ګونګا په شان شوے يم څۀ نۀ وايم.

(١٤) زۀ د يو داسې کس په شان شوے يم چې اوريدے نۀ شی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په خولهٔ باندې هيڅ جواب ورکولے نهٔ شی.

۱۵ زهٔ ستا په طمع يمه، اے مالِکه خُدايه.

اے مالِکه خُدايه تهٔ جواب راکړه، ما له زما پاکه خُدايه.

۱۶ زهٔ تا ته کوم سوال دوئ ما پورې خندا ته مهٔ پرېږده

کله چې زهٔ پرېوځم هغوئ مهٔ خوشحالوه.

۱۷ ځکه زهٔ غورزېدو ته نزدې شوے يم،

او مسلسل دردونو راګېر کړے يم.

۱۸ زهٔ د خپلو ټولو ګناهونو اقرار کوم،

زهٔ په خپلو ګناهونو ډېره پښېمانتيا کوم.

۱۹ زما دشمنان ډېر او تکړه دی،

ډېر دی چې بېوجې ما نه نفرت کوی.

۲۰ د ښو په ځائ دوئ ما سره بد کوی

زهٔ نېکی کوم په دې وجه هغوئ ما سره بدی کوی.

۲۱ اے مالِکه خُدايه، ما مهٔ پرېږده،

اے زما پاکه خُدايه، زما نه لرې مهٔ ودرېږه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٢ زر راشه او زما مدد وکړه،

اے مالِکه خُدايه، زما خلاصونکيه.

## يدوتون د موسيقۍ مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د يو دردمند د ګناه اقرار

**۳۹** ١ ما ووئيل چې، ”زۀ به د خپل عمل خيال ساتم

نو چې په خپله ژبه ګناه ونۀ کړم،

ترڅو چې بدعمله زما د وړاندې وى

زۀ به خپله ژبه چپ ساتم.“

٢ زۀ خو خاموش ولاړ وم، او هيڅ خبره مې هم نۀ کوله،

په دې باندې زما پريشانى نوره هم زياتېدله.

٣ زما د زړۀ پريشانى او غم زياتېدلو.

ما چې څومره سوچ کولو، نو دومره مې غم زياتېدو،

خو آخر هم ما د خپل ځان سره ووئيل،

٤ ”اے مالِکه خُدايه، زما ژوندون چې څومره دے ما ته راوښايه،

چې زما عمر به څومره وى ما ته زما د مرګ نېټه راوښايه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما ته وښايه چې څومره فانی يم.

۵ تا زما د ژوند نه د ژمې مازيګر جوړ کړو،

زما ژوند دې په خپل نظر يوه لحظه کړو،

د ټولو انسانانو ژوندون صرف هوا ده.

۶ هر انسان د سورى په شان په تېزۍ سره د مرګى طرف ته روان وى،

دوئ مال راټولوى خو خبر نۀ دى چې دا به څوک خرچ کوى.

۷ خو اوس، اے مالِکه خُدايه، زۀ د څۀ طمع کوم؟

زۀ په تا باندې توکل کوم.

۸ زما د سرکشۍ نه ما بچ کړه،

ما د کم عقلو د خندا مۀ جوړوه.

۹ زۀ چپ وم، ما خپله خولۀ بنده کړې وه،

ځکه چې هر څۀ تا په خپله کړى وُو.

۱۰ خپل عذاب دې ما نه اخوا کړه ډېر کړېدلے يم،

زۀ ستا د لاس په وهلو ډېر ضعيفه شوے يم.

۱۱ تۀ انسان د هغۀ د ګناه په وجه تنبيه کوې،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او څۀ چې دوئ ته قيمتي وی تۀ هغه د دوئ نه لکه وَينو په شان خورې،

انسان هيڅ نۀ دے خو بس يوه ساه ده،

١٢ اے مالِکه خُدايه، زما دُعا تۀ واوره،

د مدد دپاره زما فرياد واوره،

زما اوښکې مۀ نظر انداز کوه.

زۀ خو د يوې لحظې مېلمه يم،

لکه زما د پلار نيکۀ په شان يم.

١٣ ما لږ پرېږده چې دوباره خوشحاله شم،

د دې نه مخکښې چې لاړ شم او فنا شم.“

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د ثناء صِفت سرود

**۴۰** ١ په صبر ما د مالِک خُدائ انتظار وکړو،

او هغۀ زما فرياد واورېدو او ما ته يې پام وکړو.

٢ هغۀ زۀ د هلاکت د کندې نه رابهر کړم،

او د لمدو ختو نه يې راووېستم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما پښې يې په ګټ کېښودې او مضبوط يې ودرولم.

٣ هغهٔ زما په ژبه باندې نوې نغمه سازه کړه،

او زمونږ د خُدائ پاک د ثناء صِفت حمد يې راکړو،

هېر چې دا ووينی نو هغوئ به وهٔ يرېږی او په مالِک خُدائ به يقين وکړی.

٤ هغه سړے به بختور وی

د چا چې ايمان په مالِک خُدائ وی،

څوک چې مغرورانو ته رجوع نهٔ کوی،

د هغه کبرژنو څوک چې د بُتانو په وجه ګمراه شوی دی.

٥ اے مالِکه خُدايه، زما خُدايه، تا زمونږ دپاره ډېرې معجزې کړې دی،

تا زمونږ دپاره بې‌حسابه منصوبې جوړې کړې دی.

تا سره هيڅ څوک برابر نشته دے

زهٔ يې شمېرلے نهٔ شم ستا عجيبه کارونه خو بې‌شمېره دی.

٦ تهٔ خو د چا نه قربانی او نذرانې نهٔ غواړې،

تا زهٔ په دې خبره باندې پوهه کړم،

د هيچا نه هم سوزېدونکې يا د ګناه نذرانې نهٔ غواړې.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ ما درته ووئیل چې، ”ګوره زهٔ حاضر یم،

لکه څنګه چې په تورات کښې لیکلے شوی دی نو هغه وکړم.

٨ پاکه خُدایه، چې زهٔ ستا رضا پوره کړم،

ستا قانون زما په زړهٔ کښې لیکلے شوے دے.“

٩ ما ستا د خلاصون زیرے په لوئ جماعت کښې بیان کړو،

مالِکه خُدایه تهٔ ښهٔ خبر یې چې ما خپل بیان بند نهٔ کړو،

١٠ ما په زړهٔ کښې ستا د خلاصون خبره پټه نهٔ کړه،

هر ځائ کښې مې ستا د وفادارئ او خلاصون خبره وکړه.

ما ستا د ابدی مینې او وفادارئ خبره په لوئ جماعت کښې وکړه.

١١ مالِکه خُدایه، خپله مهربانی به په ما نهٔ بندوې،

ستا وفاداری او ابدی مینه به همېشه ما بچ کوی.

١٢ خو زهٔ ډېرو مصیبتونو راګېر کړے یم،

لار رانه خطا شوه په ګناهونو کښې ډوب شوے یم،

ګناهونه مې د سر وېښتو نه ډېر دی بې‌وسه شوے یم.

١٣ ما بچ کړه، مالِکه خُدایه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مدد دپاره زر راشه، اے مالِکه خُدايه.

۱۴ څوک چې په کوشش زما د ژوند د ختمولو شی

هغوئ دې وشرميږی او وارخطايئ سره دې مخ شی،

څوک چې په نيت زما د خرابولو شی

هغوئ ټول دې ناکامه او شرمنده شی.

۱۵ هغوئ دې ټول په شرم وشرميږی،

څوک چې راپورې خندا کوی او ما پورې لګيږی.

۱۶ څوک چې ستا په لټون شی

هغوئ دې ټول تا سره خوشحاله شی،

څوک چې ستا خلاصون سره مينه کوی

او دوئ دې تل دا وائی چې، "مالِک خُدائ لوئ دے."

۱۷ بيا هم زهٔ غريب او حاجتمند يم،

زهٔ دې د مالِک خُدائ په نظر يم.

زما مددګار او خلاصوونکيه،

زر راشه، اے پاکه خُدايه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د رحم دپاره د يو بيمار درخواست

۴۱ ⑴ بختور دے هغه خوک چې د مسکينانو خيال ساتی،

کله چې دے په تکليف کښې وی مالِک خُدائ ورله خلاصون ورکوی.

⑵ مالِک خُدائ به د هغهٔ حفاظت کوی او ژوند به يې په امان کښې ساتی،

هغه به په دُنيا کښې ورله برکت ورکړی او د دشمنانو د لاس نه به يې ساتی.

⑶ مالِک خُدائ به يې په بيمارئ کښې خيال ساتی

او هغه به يې د بيمارئ د کټ نه روغ رمټ کړی.

⑷ ما ووئيل چې، "اے مالِکه خُدايه، په ما رحم وکړه ما له شفا راکړه،

ځکه چې ما ستا خلاف گناه کړې ده."

⑸ زما دشمنان په بدنيتئ سره داسې وائی چې، "کله به دے مړ شی،

او نوم به يې خومره زر د زمکې مخ نه ورک شی؟"

⑹ هغوئ چې کله زما ليدو له راځی نو فضول خبرې کوی،

او دروغ وائی او په زړهٔ کښې شرارت راجمع کوی،

او چې کله بهر ځی نو په هر ځائ کښې زما غيبت کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ زما دشمنان ټول زما خلاف خبرې کوی،
هغوئ زما خلاف بد سوچونه کوی،

۸ او دوئ وائی چې، ”په سخت رنځ پروت دے
او د بیا پاڅېدو امکان یې د دې رنځ نه نشته دے.“

۹ تر دې چې زما نزدې دوست په چا باندې چې ما پوره یقین کولو،
نو هغه چا چې روټئ به یې ما سره خوړه هغه هم زما خلاف شولو،

۱۰ خو تهٔ، اے مالِکه خُدایه، په ما رحم وکړه،
چې د هغوئ نه خپله بدله واخلم، ما دوباره روغ کړه.

۱۱ چې تهٔ رانه رضا یې زهٔ په دې پوهېږم،
تا زهٔ د دشمنانو لاسونو ته پرې نهٔ ښودم.

۱۲ تا زهٔ زما د تقوىٰ په وجه اوچت کړم،
او د تل دپاره دې په خپل حضور کښې وساتلم.

۱۳ مبارک دې وی مالِک، د بنی اِسرائیلو خُدائ،
د ازل نه تر ابده آمین، آمین.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: يو زبور د قورح د بچو

## د يو فکرمند کس دُعا

**۴۲** ① څنګه چې هوسۍ د نِهر اوبو پسې تلوسه کوى،

داسې خُدايه پاکه، زړۀ مې تا پسې تلوسه کوى.

② زما زړۀ د خُدائ پاک تږے دے، زۀ د ژوندى خُدائ پاک تږے يم.

زۀ به کله لاړ شم چې د هغۀ حضور کښې ودرېږم؟

③ اوښکې مې خوراک دى شپه او ورځ زۀ ژړېږم،

هر وخت راته خلق لګيا وى،

”ووايه، ستا خُدائ چرته دے؟“

④ تېر وخت چې راپه ياد شى په زړۀ باندې غمژن شم،

چې څنګه ډېرو خلقو سره به زۀ د خُدائ کور ته تلم،

او هغوئ به مې د خُدائ پاک عبادتګاه ته په خپله مشرى کښې بوتلل،

نو په لويه ډله کښې به ما په تېزه

د هغوئ سره د خوشحالۍ په آواز د شُکر ګزارى ثنا وئيله،

⑤ ولې خفه کېږې زما روحه؟ دومره ولې پرېشانه کېږې تۀ؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خُدائ پاک باندې توکل کوه مهٔ پرېشانه کېږه تهٔ،

زهٔ به بيا ستا ثناء صِفت بيان کړم،

پاکه خُدايه څکه چې هم تا زهٔ خلاص کړم.

٦ زړهٔ مې پرېشانه دے نو څکه زهٔ تا يادوم،

د اُردن لرى مُلک او د حرمون او د مِضار د اوچت غرونو نه زهٔ تا يادوم.

٧ ستا د ژورو سمندرونو او ابشارونو شور زهٔ اورم،

موجونو او چپو د سمندر زهٔ ډوب کړم.

٨ مالِک خُدائ د ورځې خپله ابدى مينه په ما راوروى،

د هغهٔ حمد په شپه کښې زما زړهٔ کښې وى،

دُعا کوم هغه خُدائ پاک ته چې څوک ژوند راکوى.

٩ څوک چې زما مضبوط ګټ دے، زهٔ به خُدائ پاک ته داسې ووايم،

”ولې دې هېر کړے يم زما دشمنان

په ما دومره ظلم ولې کوى چې زهٔ غمژن ګرځم؟“

١٠ د دشمن پېغور هډوکى مات کړل ما له

هر وخت راته لګيا وى دشمنان زما



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې، ”ووایه اوس چرته دے خُدائ پاک ستا؟“

۱۱ ولې خفه کېږې زما روحه، دومره ولې پرېشانه کېږې تهٔ؟

په خُدائ پاک باندې توکل کوه مهٔ پرېشانه کېږه تهٔ،

زهٔ به بیا ستا ثناء صِفت بیان کړم،

خُدایه ځکه چې هم تا زهٔ خلاص کړم.

## د پرېشانه انسان دُعا

# ۴۳

۱ اے پاکه خُدایه، ما بےګناه وګرځوه،

د بےایمانه خلقو په خلاف زما په حق کښې فیصله واوروه،

خو تهٔ ما ته د بدکارانو او ټګمارانو نه خلاصون راکوه.

۲ تهٔ زما خُدائ پاک او زما قلعه یې، ولې دې رد کړے یم؟

نو ولې غمژن ګرځم دشمن راباندې ظلم کوی؟

۳ خپل نُور او خپل حقیقت دې نازل کړه، چې ما ته لارښودنه وکړی،

او ما دې هغه مقدس غر ته بوځی کوم ځائ چې تهٔ اوسېږې.

۴ زهٔ به د خُدائ پاک قربانګاه ته ورشم،

هغه خُدائ د چا نه چې ډېر خوشحال شم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زهٔ به د رباب په نغمو کښې ستا ثناء صِفت وکړم،

اے خُدایه، زما پاکه خُدایه.

۵ ولې خفه کېږې زما روحه، دومره ولې پرېشانه کېږې تهٔ؟

په خُدائ پاک باندې توکل کوه مهٔ پرېشانه کېږه تهٔ،

زهٔ به بیا ستا ثناء صِفت بیان کړم،

پاکه خُدایه، ځکه چې هم تا زهٔ خلاص کړم.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د قورح د بچو یو زبور

## د مدد دپاره دُعا

۴۴ ۱ اے پاکه خُدایه، مونږ په خپلو غوږونو اورېدلې دی،

زمونږ پلار نیکهٔ هر هغه څهٔ مونږ ته بیان کړی دی،

کوم کارونه چې تا د هغوئ په زمانه

یعنې پخوا زمانه کښې د هغوئ دپاره کړی دی.

۲ تا په خپل طاقت سره هغه قومونه وویستل،

او زمونږ پلار نیکهٔ دې ودان کړل،

هغه خلق دې تباه کړل، زمونږ پلار نیکهٔ دې آزاد کړل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ خو دا زمکه هغوئ په خپله تُوره نۀ وه ګټلې،

او نۀ د هغوئ لاسونو ورته کاميابی ورکړې،

دا خو ستا د ښی لاس، او ستا د مټ او ستا د مخ رڼا وه،

ځکه چې تا هغوئ سره مينه کړې وه.

٤ تۀ يې زما بادشاه او پاک خُدائ زما،

چا چې د يعقوب اولاد له لويه کاميابی ورکړه.

٥ ستا په زور مونږ خپل دشمنان په شا کړل،

او ستا په نوم مونږ خپل دشمنان د پښو لاندې کړل.

٦ زۀ په خپله لينده باندې يقين نۀ ساتم،

نۀ په خپله تُوره د خلاصون يقين ساتم.

٧ تا مونږ ته په خپلو دشمنانو فتح راکړه،

تا زمونږ مخالفين شرمنده کړل.

٨ مونږ ټوله ورځ په خُدائ پاک باندې فخر کوُو،

مونږ به تل ستا د نوم حمد و ثناء کوُو.

٩ خو اوس تا مونږه رد او رسوا کړُو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تلل دي زمونږ د لښکرو سره بند کړُو.

١٠ تا مونږ د دشمنانو په وړاندې په شا کړُو،

او زمونږ دشمنانو مونږ لوټ کړُو.

١١ مونږ تا د ګډو په شان حلالېدو ته پرېښودو،

او د قومونو په مينځ کښې دې تس نس کړُو.

١٢ تا خپل خلق په کم قيمت خرڅ کړل،

او د هغوئ په خرڅولو کښې دې هيڅ ګټه ونۀ کړله.

١٣ تا مونږ د خپلو ګاونډيانو د خندا کړلو،

تا مونږ د ګېرچاپېره خلقو د ټوقو او مسخرو کړلو.

١٤ تا مونږ نه په قومونو کښې د دوئ د ټوقو ګوډاګی جوړ کړل،

او دوئ مونږ پورې خپل سرونه د نفرت په وجه خوځول.

١٥ زۀ ټوله ورځ بې‌عزته کېږم،

او په مخ مې شرم راخور شوے زۀ شرمېږم.

١٦ ځکه چې خلق راپورې ټوقې مسخرې کوی،

او زما دشمنان رانه د بدل اخستو کوشش کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ دا هر څۀ چې مونږ سره وشول خو بيا هم مونږ تۀ هېر نۀ کړې،

هغه مو نۀ دے مات کړے کوم لوظ چې تا مونږ سره کړے دے.

۱۸ زمونږ زړونه ستا نه نۀ دی اوړېدلی،

او زمونږ قدمونه ستا د لارې نه نۀ دی اخوا شوې.

۱۹ مونږ دې تباه کړُو او د ګيدړانو ښکار دې کړُو،

او په توره تيارۀ کښې دې پرېښودو.

۲۰ کۀ مونږ د خپل خُدائ پاک نوم هېر کړے وو،

او غير معبودانو ته مو خپل لاسونه پورته کړی وُو.

۲۱ کۀ چرې مونږ داسې کړی وُو نو خُدائ به ترې خبر نۀ وو څۀ؟

ځکه چې هغه د زړونو په رازونو باندې خبر نۀ دے څۀ؟

۲۲ خو مونږ ستا دپاره ټوله ورځ د مرګ سره مخ کيږُو،

د خلقو په نظر کښې مونږ د حلالونکو ګډو په شان ګڼلے کيږُو.

۲۳ اے مالِکه خُدايه، راپاڅه ولې تۀ اودۀ کېږې څۀ؟

راپاڅه، او تر ابده پورې مونږ مۀ رد کوه.

۲۴ ولې تۀ زمونږ نه خپل مخ پټوې څۀ؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زمونږ غم او مصيبتونه ولې هېروې څۀ

٢٥ مونږ لاندې خاورو ته راغورزولے شوې يُو،

او په زمکه پړمخې پراتۀ يُو.

٢٦ پاڅه او زمونږ مدد وکړه،

او د خپلې ابدى مينې په وجه دې مونږ ته خلاصون راکړه.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: يو زبور د قورح د اولاد نه د مينې سرود کوم چې د لاله د ګل په ساز کښې وغږولے شو

## د شاهى وادۀ سندره

**۴۵** ١ زړۀ کښې مې وګرځېدله څۀ ښکلې شان خبره

د بادشاه په حقله زۀ وايم ښۀ غوندې سندره،

د ماهر ليکوال په شان قلم دے زما ژبه.

٢ په ټولو سړو کښې د هر چا نه ښائسته يې تۀ

ستا د خولې خبرې ښکلې ملغلرې دى،

د تل دپاره تۀ خُدائ بختور کړے يې.

٣ خپله تُوره دې راواخله اے جنګياليه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تهٔ ډېر شان او شوکت او دبدبه لرې.

۴ په خپله دبدبه او جلال کښې راشه د کامیابۍ دپاره،

چې د حقیقت، عاجزۍ او اِنصاف شې طرفداره

ستا ښے لاس دې تا ته یرووںکی او عجیبه کارونه کړی در زده

۵ ستا تېرهٔ غشی دې د دشمنانو زړهٔ غوځ کړی،

ستا په پښو کښې دې ټول قومونه راګزار شی.

۶ اے پاکه خُدایه، ستا تخت، به تر ابده پاتې وی،

د اِنصاف امسا به ستا د بادشاهۍ امسا وی.

۷ تهٔ د صداقت سره مینه او د شرارت نه نفرت کوې،

نو ځکه خُدایٔ پاک، ستا خُدایٔ پاک تهٔ د خوشحالۍ په تېلو مسح کړے یې.

او تهٔ یې په خپلو دوستانو کښې اوچت کړے یې.

۸ ستا د جامو نه د مصالحو، د پیپل او کیکر عطرو خوشبوئی راځی،

ستا په ښکلې محلونو کښې سازونه د رباب تا خوشحالوی.

۹ ستا عزتمندو ښځو کښې د بادشاهانو لوڼه شاملې دی،

د اوفیر د زرو ډکه مَلِکه دې ښی لاس ته ولاړه ده.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۰) اے شهزادګۍ، ما ته غوږ شه، څۀ چې درته زۀ وايم په هغې غور وکړه،

د خپل پلار کور او خپل خلق هېر کړه.

(۱۱) ستا ښول او سنګار به بادشاه خپل طرف ته راکاږی،

ځکه چې هغه ستاسو مالِک دے د هغۀ تابعدارې اوسئ.

(۱۲) تا له د ښالو سره د صور خلق به راشی،

دولتمند خلق به ستا مهربانی غواړی.

(۱۳) شهزادګۍ به په محل کښې ښکلې ښکاری،

د سرو زرو تارونو نه يې جامې دی جوړې شوې.

(۱۴) د ګُلکارۍ په جامو کښې يې بادشاه له راوستله،

پېغلې ملګرې هم ورسره راروانې دی.

(۱۵) خاندی خوشحالېږی راروانې دی،

او د بادشاه محل ته رادننه شی.

(۱۶) ستا زامن به د خپل پلار نيکۀ په شان بادشاهان جوړ شی،

تۀ به هغوئ په ټېرو مُلکونو حکمرانان جوړ کړې.

(۱۷) نسل در نسل به زۀ ستا نوم د عزت قابل کړم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو قومونه به تر ابده پورې ستا ثناء خوان وی.

## د موسيقۍ مشر دپاره: يو سرود د قورح د زامنو چې به په خوږ آواز سره وئيلے شی

## خُدائ پاک زمونږ زور او ګټ دے

۴۶ ① خُدائ پاک زمونږ پناه ګاه او قوت دے،

په وخت د مصيبت کښې حاضر او تل مددګار دے.

② نو مونږ به نۀ يريږو کۀ په زمکه زلزله راشی،

او کۀ غرونه د سمندر په مينځ کښې راګزار شی.

③ او يا د سمندر اوبۀ غرار او ځګونه وکړی،

او غرونه د اوبو د زور په وجه وخوځولے شی.

④ يو بل درياب دے چې نِهرونه يې د خُدائ پاک ښار خوشحالوی،

او د خُدائ تعالىٰ مقدس کور خوشحالوی.

⑤ او خُدائ پاک د هغه ښار په مينځ کښې اوسيږی نو هغه به نۀ تباه کيږی،

او د سحر وختی نه د هغه ښار ساتنه کوی.

⑥ قومونه وارخطا دی، بادشاهتونه به نسکور شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې خُدائ پاک آواز وکړی نو دا زمکه به ويلې شی.

٧ ربُ الافواج خُدائ زمونږ مل دے،

د يعقوب خُدائ پاک زمونږ پناه ګاه دے،

٨ راشئ او د مالِک خُدائ کارونه وګورئ،

هغه تباهی چې کومه هغۀ په دُنيا باندې راوستلې ده وګورئ.

٩ هغه په ټوله دُنيا کښې جنګونه ختموی،

ليندې او نېزې ماتوی او ډالونه سوزوی.

١٠ ”په آرام شئ او په دې پوهه شئ زۀ خُدائ پاک يم،

زۀ به په ټولو قومونو کښې اعلىٰ يم،

زۀ به په ټوله دُنيا کښې اوچت يم.“

١١ ربُ الافواج خُدائ زمونږ مل دے،

د يعقوب خُدائ پاک زمونږ پناه ګاه دے.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: يو زبور د قورح د بچو

## مالِک خُدائ د ټولې دُنيا بادشاه دے

٤٧ ١ اے ټولو خلقو لاسونه ووهئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د خوشحالۍ سرود په اوچت آواز سره ووايئ.

٢ مالِک خُدائ تعالىٰ ډېر ډار لرونکے د رُعب داب مالِک دے،

هغه په ټولې دُنيا لوئ بادشاه دے.

٣ هغهٔ ټول قومونه زمونږ تابع کړل،

او مُلکونه يې زمونږ د پښو لاندې کړل.

٤ مونږ له يې په ميراث کښې زمکه راکړله،

په کومه چې يعقوب فخر کولو او د هغه چا سره چې خُدائ مينه کوله.

٥ خُدائ پاک د خلقو په چغو سورو کښې تخت ته خيژى،

چې مالِک خُدائ بره تخت ته ځى نو د بيګلو آوازونه دى.

٦ د خُدائ پاک ثناء صِفت کوئ ثنا يې ووايئ،

زمونږ بادشاه ته سندرې او ثناء صِفت وکړئ.

٧ ځکه خُدائ پاک په ټوله زمکه بادشاه دے،

هغهٔ ته د ثناء حمد، زبور ووايئ.

٨ خُدائ په خپل مقدس تخت باندې ناست دے،

او په ټولو قومونو بادشاهي کوى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ د دُنيا حکمرانان رايوځائ شوی دی،

د اِبراهيم د خُدائ خلق ورسره دی،

د دُنيا ټول بادشاهان د خُدائ پاک دی،

نو ځکه د هغۀ په هر ځائ کښې ډېر عزت کيږی.

## يو سرود، د قورح د زامنو يو زبور

## صيون د خُدائ ښار

**۴۸** ١ مالِک خُدائ لوئ دے، او د ثناء صِفت لائق دے،

زمونږ د خُدائ په ښار، يعنې مقدس غر کښې.

٢ د هغۀ ښار په خپل اوچتوالی کښې ښکلے دے، او ټولې دُنيا ته خوشحالی ورکوی.

د صيون غر او مقدس غر چې د لوئ بادشاه ښار دے،

٣ خُدائ په خپله د دې ښار په برجونو کښې موجود دے،

او خپل ځان يې د ښار محافظ ښودلے دے.

٤ وګوره چې د دُنيا بادشاهانو لښکرې رايوځائ کړې او متحد شول،

او د ښار په خلاف د جنګ په خيال راوړاندې شول.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ هغوئ چې هغه ښار وليدو نو حق حېران شول،

ټول د يرې نه په تېښته وتښتېدل.

۶ هغوئ هلته د يرې نه شول په لړزان،

ښځې چې په تکليف پيدا کيږی ماشومان.

۷ لکه د ترسيس د بحری بيړو په شان تا هغوئ تباه کړل،

د زورَور مشرقی بادونو په زور دې تس نس کړل.

۸ لکه ښځې چې مونږ اورېدلی نو اوس مو په خپلو سترګو وليدل،

زمونږ د خُدائ په ښار يعنې د ربُ الافواج په ښار کښې،

خُدائ به تل دا ښار آبادولو او د هغې حفاظت به يې کولو.

۹ اے پاکه خُدايه، مونږ ستا په عبادتګاه کښې يُو،

او ستا په نۀ ختمېدونکې مينې باندې فکر کوُو.

۱۰ اے خُدايه، لکه ښځه چې دې نوم په ټوله دُنيا خور دے،

دغه شان ستا ثناء صِفت په ټوله دُنيا خور دے،

ستا ښے لاس د صداقت نه ډک دے.

۱۱ د صيون د غرۀ خلق دې خوشحالی وکړی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د يهوداه ټول ښارونه دې خوشحالى وکړى

دا ټول دې ستا د عدالت په وجه خوشحالى وکړى.

١٢ صيون ته لاړ شئ او ګېرچاپېره ترې نه وګرځئ،

او برجونه يې وشمېرئ،

١٣ دېوالونو ته يې وګورئ او په محلونو يې نظر واچوئ،

ترڅو تاسو د هغې نه خپل آئنده نسلونه خبر کړئ.

١٤ ځکه چې هم دا خُدائ د تل دپاره زمونږ خُدائ پاک دے،

هغه تر آخر وخته زمونږ رهنما دے.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د قورح د بچو يو زبور

## په مال دولت د يقين کولو کم عقلتوب

# ۴۹

١ اے قومونو تاسو ټول دا واورئ،

ځوک چې په دُنيا کښې اوسېږئ ما ته غوږ ونيسئ،

٢ خاصو او عامو، مالدارو او غريبانو واورئ،

٣ زما ژبه په حِکمت سره خبرې بيانوى،

او د زړۀ بيان مې خلقو ته پوههورکوى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ زۀ به متلونو ته خپل غوږ ونيسمه،

د رباب په ساز کښې به زۀ د راز وينا وکړمه،

۵ نو زۀ به ولې يرېږمه کۀ سخته په ما راشى،

کله چې د دوکه مارو په شرارتونو کښې راګېر شم.

۶ دوئ چې په خپل مال دولت باندې يقين لرى،

او په خپل ډېر مال دولت فخر کوى.

۷ هيڅوک د چا د ژوند قيمت ورکولے نۀ شى،

او نۀ خُدائ پاک له د هغۀ د سر کفاره ورکولے شى.

۸ د ژوندون قيمت بې‌بها دے،

د ژوندون دپاره هيڅ قيمت پوره نۀ دے.

۹ چې هغه دې تر ابده ژوندے پاتې شى،

او هيڅکله دې قبر ته لاړ نۀ شى.

۱۰ نو ټول خلق به ووينى چې پوهان هم مرۀ کيږى،

جاهلان او بې‌وقوفان به يو ځائ هلاک شى.

او د ټولو نه به مال دولت نورو ته پاتې شى



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ قبر د هغوئ ابدی کور دے،

چرته چې به هغوئ د تل دپاره وی،

کۀ څۀ هم چې هغوئ جائيدادونه په خپل نوم خېژولی دی.

١٢ خو انسانان د خپل دولت په وجه ژوندی پاتې کېدے نۀ شی،

او هغوئ به لکه د ځناور په شان مړۀ شی.

١٣ دا د هغوئ نصيب دے څوک چې په خپل ځان توکل کوی،

او څوک چې د دوئ په لاره روان وی.

١٤ د ګډو د رمې په شان هسې به د مرګ کندې ته ګزار شی،

چرته چې مرګ به د دوئ شپون وی.

په سحر کښې به نېکان په دوئ حکومت کوی،

د دوئ بدن به په قبر کښې ختم شی،

او قبر به د دوئ کور شی.

١٥ خو خُدائ پاک به ما له د قبر نه خلاصون راکړی،

ځکه چې هغه به ضرور ما خپل ځان ته راکاږی.

١٦ هيڅکله مۀ خفه کېږه کۀ يو سړے مالداره کيږی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د چا د کور شان او شوکت چې زياتيږی.

١٧ ځکه چې کله هغه مړ شی د ځان سره به هيڅ څيز نۀ وړی،

د هغۀ شان او شوکت به قبر ته د هغۀ سره نۀ ځی،

١٨ کله چې هغه ژوندے وو خپل ځان يې بختور ګڼلو،

خلقو يې صِفتونه کول کله چې مالداره وو.

١٩ خو د خپل پلار او نيکۀ په شان دوئ به آخر مړۀ شی،

نو کله به هم دوئ د ژوندون رڼا ونۀ وينی.

٢٠ هغه څوک چې ډېر مال او دولت لری خو دے نۀ پوهيږی

چې دوئ به د ځناورو په شان ختميږی.

## د آسف يو زبور

## منلے شوی صحيح قربانی

**٥٠** ١ قادر مطلق خُدائ، مالِک خُدائ د زمکې خلقو ته حُکم وکړو،

او د مشرق نه تر مغرب پورې د زمکې خلق يې راوغوښتل.

٢ د صيون نه چې په ښائست باندې پوره دے

نو خُدائ پاک د هغه ځائ نه ځليدلے دے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ زمونږ خُدائ به راشى او خاموشه به نۀ وى

سوزېدونکے اور به ترې نه مخکښې او سخت طوفان به ترې چاپېره وى

٤ هغه به زمکه او پاس آسمانونه ګواهۍ دپاره راوغواړى

چې د خپل قوم عدالت وکړى،

٥ ”زما تول نېکان ما ته راغونډ کړئ

چا چې ما سره د قربانۍ په ذريعه لوظ کړے دے.“

٦ آسمانونه د هغۀ د صداقت اعلان کوى

ځکه چې په خپله خُدائ قاضى فيصله کوى.

٧ ”اے زما خلقو ما ته غوږ شئ زۀ به تاسو ته خبرې وکړم

اے بنى اِسرائيلو زۀ ستاسو خلاف دا ګواهى کوم.

چې هم زۀ خُدائ يم او ستاسو خُدائ پاک يم،

٨ ستاسو د قربانيانو په وجه زۀ تاسو نۀ رټم،

او ستاسو مسلسل سوزېدونکې قربانيانې زما په وړاندې دى

٩ ستاسو د غوجل غوَيى ته زما ضرورت نشته

او نۀ مې حاجت شته ستاسو د شپول يو چېلى ته



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ولې چې د ځنګلونو ټول او هر يو ځناور زما دی،

او په زرګونو غرونو کښې د ښاروو رمې زما دی.

۱۱ زهٔ د غرونو هر يو مارغهٔ نه خبر يم،

او د هوارو ټول مخلوق زما دی.

۱۲ کهٔ چرې زهٔ اوږے شوے وم خو بيا هم به مې وئيلی نهٔ وُو تا ته،

ځکه چې دُنيا او څهٔ چې په کښې دی هغه ټول زما دی.

۱۳ ولې زهٔ څهٔ د غوَيانو غوښې خورم؟

او يا زهٔ د چېلو وينې څښم؟

۱۴ ستاسو قربانئ خُدائ ته شُکر ګزاری کول دی،

او دا ستاسو د خُدائ تعالیٰ سره کړې وعدې او نذرانې پوره کوی،

۱۵ په وخت د مصيبت کښې ما ته آواز راکړئ،

زهٔ به تاسو د مصيبت نه بچ کړمه او تاسو به زما عزت وکړئ.“

۱۶ خو بدعمله ته خُدائ پاک وفرمائيل،

”تاسو ولې زما قانون بيانوئ، او زما د لوظ خبرې په خپله ژبه کوئ؟

۱۷ تاسو د اصلاح نه نفرت کوئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تاسو زما حُکمونه شاته غورزوئ.

۱۸ کله چې غل ووينئ نو تاسو ورسره مل شئ،

تاسو ملګرتيا د زناکارو کوئ.

۱۹ هر وخت مو ژبه د بدئ نه ډکه وى،

تۀ په خپله ژبه د دروغو خبرې کوى.

۲۰ هر وخت تاسو د خپل ورور خلاف خبرې کوئ،

د خپلې مور د بچى تاسو هر ځائ کښې غيبت کوئ.

۲۱ ستا په دې کارونو زۀ چپ پاتې شوم،

زۀ دې هم د خپل ځان په شان وګڼلم.

خو زۀ دې اوس رټمه او په تا اِلزام لګوم،

۲۲ ما ته غوږ شئ چا چې زۀ هېر کړے يم هغوئ ټول دې توبه ګار شى،

زۀ به مو ټوټې کړم او هيڅ څوک به نۀ وى چې ستاسو مددګار شى.

۲۳ څوک هم چې د شُکر ګزارئ قربانى کوى نو زما احترام کوى.

څوک چې هم په صحيح لار روان وى،

نو زۀ به ورته د خُدائ خلاصون څرګند کړم.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**د موسیقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور. په هغه وخت کښې ليکلے شوے دے چې ناتن پيغمبر د حضرت داؤد سره د بتسبع د واقعې په حقله بحث وکړو.**

## د معافۍ دُعا

51 ① د خپل رحم په مطابق دې په ما مهربان شه خُدايه،

او د خپلې ازلی مينې په وجه دې په ما رحم وکړه،

د خپل لوئ رحم په مطابق دې زما ګناهونه ختم کړه.

② ټول ګناهونه زما ووينځه،

او د ګناه نه مې پاک او صفا کړه.

③ زۀ په خپل شرارت باندې پوهه يم،

زۀ په خپلو بدو ټول عمر فکرمند يم.

④ ستا او يواځې ستا خلاف مې ګناه کړې ده زۀ ګناه ګار يم،

ما هغه کار کړے دے کوم چې ستا په نظر کښې بد دے.

تۀ دې په خپلو خبرو کښې رښتينې وګرځې،

او ستا عدالت زما په حق کښې ټيک دے.

⑤ ګوره، زۀ د ازل نه بدعمله يم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مور د ګېډې نه زۀ بلکل ګناه ګار يم.

٦ نو چې اخلاص او صداقت رانه غواړې،

نو تۀ په خپله زما زړۀ ته پوهه راکړه.

٧ تۀ زما ګناه ووينځه نو زۀ به صفا شم،

تۀ مې ووينځه نو زۀ به هم د واورې نه زيات سپين شم.

٨ ما ته د خندا او خوشحالئ خبرې وکړه،

کوم هډُوکی چې تا ما ته مات کړی وُو اوس دې خوشحالی وکړی.

٩ زما د ګناهونو نه مخ واړوه،

زما بدئ ټولې صفا کړه.

١٠ پاکه خُدايه صفا زړۀ ما له راکړه،

په ما کښې تازه او وفادار روح واچوه.

١١ ما تۀ د خپل حضور نه مۀ شړه،

خپل مقدس روح زما نه مۀ بوځه.

١٢ ستا د خلاصون خوشحالی بيا يو وارې راکړه.

او زما روح ستا تابعدارئ ته مائل کړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ نو زۀ به نافرمانو ته وښايم ستا حُکمونه،

نو ګناه ګار به يو ځل بيا تا ته راوګرځی.

۱۴ اے خُدايه، ما د وينې تويولو د جرم نه معاف کړه،

نو بيا به زۀ په خوشحالۍ سره ستا د معافۍ سرود بيان کړم.

۱۵ اے مالِکه خُدايه زما شونډې خلاصې کړه،

او زۀ به په خپله خولۀ ستا ثناء صِفت وکړم.

۱۶ چې زۀ يې تا ته وړاندې کړم تۀ قربانۍ نۀ غواړې،

او نۀ په سوزېدونکو قربانو تۀ خوشحالېږې.

۱۷ پاکه خُدايه تا ته د عاجز او مات روحونو خوښه ده قربانی،

تۀ غمژن او توبه ګار زړۀ سپک نۀ ګڼې.

۱۸ پاکه خُدايه د صيون ښار مدد وکړه مهربان شه،

د يروشلم دېوالونه جوړ کړه.

۱۹ نو هلته به تا ته رښتينې قربانۍ پېش شی

او ټولې سوزېدونکې نذرانې چې تۀ پرې خوشحاله شې،

او ستا په قربان‌ګاه باندې به غويان تا ته وړاندې شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بدکاره سړی اَنجام

**۵۲**

① تهٔ ولې په خپلو بدو فخر کوې زورَوره؟

ولې تهٔ خبر نهٔ يې چې د خُدائ مينه وی د تل دپاره؟

② ژبه دې د نورو خلقو د تباهۍ په لټون کښې ده،

او لکه د تېرې چړې په شان ده او تګی ماره ده.

③ تاسو بدی سره د نيکۍ نه زياته مينه کوئ،

تاسو د ټګۍ سره د رښتيا نه زياته مينه کوئ.

④ تاسو دا خوښوئ چې په خپلو خبرو نور خلق تباه کړئ،

تاسو دروغژن يئ.

⑤ خو خُدائ به تاسو د تل دپاره تباه کړی.

د کور نه به دې راونيسی او د ژوندو د دُنيا نه به دې بېخ ختم کړی،

⑥ صادقان چې دا وګوری نو ويه يرېږی،

دوئ به هغهٔ پورې خاندی او ويه وائی،

⑦ "ګورئ، دا هغه زورَور سپاهی دے چا چې د خُدائ په حفاظت يقين نهٔ کولو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو هغهٔ په خپل ډېر مال دولت باندې يقين کولو،

او نور هم زورَور شولو په شرارت کولو.“

٨ خو زهٔ د زيتون د ونې په شان د خُدائ په کور کښې زرغون شوے يم،

زهٔ د خُدائ په ابدی مينه تر ابده پورې يقين لرم.

٩ تا چې څهٔ کړی دی په هغې تر ابده ستا شُکر ادا کوم،

ستا د پاکانو په وړاندې به زهٔ ستا د نوم د ښهٔ والی بيان کوم.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د محلت په مطابق د حضرت داؤد يو نظم

## د انسان ګناه

# ٥٣

١ کم عقلان په خپل زړهٔ کښې وائی چې، ”خُدائ پاک نشته.“

دوئ په بدو اخته شول او بدعمله دی،

تر دې چې يو هم نشته چې نيک وی.

٢ پاس د آسمانه خُدائ انسانانو ته ګوری،

ګوری چې څوک شته چې وی هوښيار او د خُدائ لټون کوی.

٣ خو ټول بې‌لارې شوی دی،

او ټول يو شان خراب شوی دی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يو کس هم ښۀ نۀ کوی داسې يو هم نشته چې ښۀ کارونه وکړی.

۴ ولې څوک چې بدکارونه کوی دوئ نۀ پوهيږی.

خو دوئ زما بنيادمان لکه د روټۍ لواړ تېروی،

او هيڅکله هم دوئ د خُدائ پاک نه دُعا نۀ غواړی.

۵ خو بيا هم داسې ويرېدل چې دې نه وړاندې کله هم داسې نۀ وُو يرېدلی.

خُدائ پاک به ستا د دشمنانو هډُوکی تس نس کړی.

او هغوئ به وشرميږی ځکه چې خُدائ پاک سپک کړی دی.

۶ څوک به راشی د صيون چې آزاد کړی بنی اِسرائيل،

کله چې خُدائ پاک بيا آباد کړی خپل قوميان،

يعقوب به خوشحالی وکړی او بنی اِسرائيل به خوشحاله شی.

**د موسيقۍ د مشر دپاره: د تاريزه سامان سره د حضرت داؤد يو نظم کله چې زيفت ساؤل له لاړو او ورې وئيل، "داؤد زمونږ سره پټ دے."**

**د دشمنانو نه د حفاظت دپاره دُعا**

**۵۴** ۱ په خپل نوم سره دې ما ته خلاصون راکړه خُدايه،

په خپل قدرت سره دې زما بې‌گناهی ثابته کړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ دُعا زما واوره، اے پاکه خُدايه،

د خولې خبرې زما واوره.

٣ پردى خلق په ما حملې کوى او ظالمان زما د مرګ کوشش کوى،

او هغوئ د خُدائ پاک پرواه نۀ کوى.

٤ خو بېشکه خُدائ زما مددګار دے،

او مالِک خُدائ په خپله ما ژوندے ساتى.

٥ زما دشمنان دې په خپلو بدو کښې په خپله راګير شى،

او خپله وفادارى دې وښايه او دوئ تباه کړه.

٦ زۀ به د زړۀ نه تا ته نذرانې پېش کړم،

ځکه چې ستا نوم خوږ دے زۀ به ستا د نوم ثناء صِفت وکړم.

٧ بېشکه چې زۀ تا د ټولو مصيبتونو نه بچ کړم،

او زۀ د خپلو دشمنانو شکست په خپلو سترګو باندې وينم.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور چې د رباب سره غږولے شى

## د دوستانو د خيانت په حقله دُعا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۵۵

۱ اے پاکه خُدایه، واوره سوال زما،

ځان مۀ غلے کوه په سوال زارئ زما.

۲ جواب راکړه او واوره زما.

خپلو پرېشانو ډېر زورَولے يم،

۳ زما دشمنان ما يره وی، او ښکاره دهمکيانې راکوی،

او په خپل قهر کښې دوئ زما نه نفرت کوی.

۴ په سينه کښې د يرې نه درزيږی زړۀ زما،

او د مرګ يرې زۀ راګېر کړے يم.

۵ يرې يم نيولے په لړزان يم،

زۀ يرې او رپېدلو راخستے يم.

۶ کاش چې زما د ګوګوشتکو په شان وزرې وے،

زۀ به په هوا کښې الوتلے او په آرام به وے.

۷ زۀ به په هوا کښې الوتلے د دې ځايه وے،

زۀ به په صحرا کښې اوسېدلے وے.

۸ ما به ځان دپاره په تېزئ سره د پناه ځائ لټولے وے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترخو چې زۀ دې سختو هواګانو طوفانونو نه امان کښې وے.

٩ اے مالِکه خُدایه د بدکارو خبرې ګډې وډې کړه،

ځکه زۀ په ښار کښې وینمه ظلم او جنګونه.

١٠ د حمله کوونکو خلاف یې شپه او ورځ د دېوالونو نه ګشت کیږی،

خو حقیقی خطره هغه بدعملی ده کومه چې په ښار کښې دننه کیږی.

١١ تباهی یې د ښار په مینځ کښې ده،

ډکې دی کوڅې د ظلم او دوکې نه.

١٢ کۀ چرې دشمن کوله بېعزتی زما،

نو دا به برداشت کړے وے ما،

کۀ دشمن چرې پخپله راپاڅېدلے وے په خلاف زما،

نو خپل ځان د هغوئ نه به پټ کړے وے ما.

١٣ خو دا تۀ یې او انسان یې لکه زما،

او ملګرے او نزدې دوست یې زما.

١٤ مونږ به د یو بل سره ښې خوږې خبرې کولې،

او د خُدائ د کور په ګڼه کښې به یو ځائ ګرځېدلو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ زما دشمنان دې ناګهانه مړهٔ شی،
هغوئ دې په قبر کښې ژوندی ورښخ شی،
ځکه چې شرارت د دوئ په زړونو کښې وردننه شوے دے.
۱۶ خو زهٔ به خُدائ پاک ته آواز وکړم،
او مالِک خُدائ به بچ کړی ما.
۱۷ سحر، غرمه او ماښام
به زهٔ هغهٔ ته خپل فریادونه وړاندې کوم،
او هغه به واوری آواز زما.
۱۸ هغه به مې په حفاظت سره بچ کوی،
د هغه جنګ نه کوم چې زما په خلاف وی،
کهٔ څهٔ هم چې ډیر خلق زما په ضد وی.
۱۹ خُدائ پاک چې د ازل نه په تخت ناست دے،
هغه به زما سوال واوری او هغوئ له به شکست ورکړی.
کوم خلق چې خپلې لارې نهٔ بدلوی،
او د خُدائ پاک نه نهٔ یریږی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ زما ملګری په خپلو دوستانو باندې حمله کړې ده،

او خپل لوظ يې مات کړے دے.

٢١ د هغهٔ خبرې خوږې پستې دی،

خو د هغهٔ په زړهٔ کښې خبرې د نفرت دی.

د هغهٔ خبرې د تېلو په شان نرمې دی،

خو دا د تېرو تُورو په شان غوڅونکې دی.

٢٢ خپل مشکلات مالِک خُدائ ته پرېږده،

او هغه به ستا حفاظت وکړی،

هغه صادقان نهٔ پرېږدی چې شکست وخوری.

٢٣ خو، اے پاکه خُدايه، تهٔ به خپله د تباهئ په کنده کښې وغورزوې شريران،

په ځوانئ کښې به مړهٔ شی دوکه ماران او قاتلان.

خو زهٔ به لرم په تا باندې ايمان.

**د موسيقئ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور، طرز: لرې د ځنګلونو کښې خاموشه کوتره. دا ښائسته سندره د هغه وخت متعلق ده کله چې فلستيانو هغه په جات کښې راګير کړو.**



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## توکل په خُدائ پاک

۵۶ ① اے پاکه خُدایه، په ما رحم وکړه، خلق راپسې شوی دی،

تړوله ورځ دشمنان په ما باندې سختې حملې کوی.

② زما دشمنان ټوله ورځ ما وهی.

ډېر زيات دی مغروره څوک چې ما سره جنګ کوی.

③ خو کله چې زۀ وویرېږم،

نو زۀ به په تا باندې توکل وکړم.

④ کومه وعده چې هغۀ کړې ده، زۀ د خُدائ پاک ثناء صِفت کوم.

نو زۀ نۀ يرېږم ځکه چې په خُدائ باندې توکل کوم.

نو فانی انسان به ما سره څۀ وکړی؟

⑤ زما دشمنان ټوله ورځ زما خبرې بدلوی،

هر وخت هغوئ زما خلاف منصوبې جوړوی.

⑥ ټول راټول شوی دی او پټ ناست دی،

په هر قدم کښې راپسې دی او زما د مرګ خواهش کوی.

⑦ چې په خپل شرارت کښې وتښتی دوئ مۀ پرېږدئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اے پاکه خُدایه، په خپل قهر او غضب کښې دې دوئ ته شکست ورکړه.

٨ تهٔ د ټولو تکلیفونو نه خبر یې زما،

اوښکې دې یو لوښی کښې راغونډې کړې دی زما،

ټول د غم حساب دې په خپل کِتاب کښې لیکلے زما.

٩ دشمنان به مې وتښتی چې په کومه ورځ تا ته آواز وکړم،

خُدائ زما ملګرے دے زهٔ په دې باندې پوهېږم.

١٠ کومه وعده چې خُدائ پاک ما سره کړې ده

په هغې زهٔ د خُدائ ثناء صِفت کوم.

او کومه وعده چې مالِک خُدائ کړې ده په هغې زهٔ د خُدائ شُکر ګزار یم.

١١ نو زهٔ نهٔ یرېږمه ځکه چې په خُدائ پاک باندې توکل کوم.

نو فانی انسان به ما سره څهٔ وکړی؟

١٢ اے پاکه خُدایه، زهٔ به تا سره د نذرانې وعده خپله سر ته رسوم،

زهٔ به تا ته د شکرانې نذرانې پېش کوم،

١٣ تا زهٔ د مرګ نه خلاص کړم.

تا په خپله زهٔ د تیندک خوړلو نه وساتلم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې زۀ د ژوند په نُور کښې د خُدائ په حضور کښې وګرځم.

**د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور د هغه وخت په حقله کله چې هغه د ساؤل نه وتښتېدو او په غار کښې پټ شو چې په هغه ساز کښې وغږولے شو چې "مۀ تباه کوه"**

**د مدد دپاره دُعا**

**۵۷** ① رحم په ما وکړه، پاکه خُدايه، رحم غواړم،

او تا له درځمه او زۀ ستا نه امان غواړم.

ستا د وزرو په سورى کښې پناه غواړم

ترڅو چې خطرناک طوفان تير شى.

② زۀ خو خُدائ تعالىٰ ته سوال زارى کوم،

کوم خُدائ پاک چې خپل مقصد زما دپاره سر ته رسوى.

③ هغه به زما د خلاصون دپاره د آسمان نه مدد راولېږى،

او څوک چې ما ګېرول غواړى هغوئ به شرمنده کړى.

خُدائ پاک دې ما ته خپله ابدى مينه او وفادارى وښائى.

④ د يرونکو زمرو په مينځ کښې راګېر شوے يم،

کوم چې د بنيادم غوښو خوړلو ته اوږے ناست وى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د چا غابښونه چې د نېزو او غشو په شان وی او ژبې يې تېرې تُورې وی.

٥ پاکه خُدايه، خپل عظمت دې په آسمانونو کښې څرګند کړه،

او خپل جلال دې په ټوله زمکه باندې وځلوه.

٦ زما دشمنانو ما ته دامونه خوارۀ کړی دی،

زۀ د خپلې پرېشانئ په وجه ستړے شوے يم.

زما په لار کښې دوئ کنده جوړه کړې ده.

خو په خپله هم دوئ په کښې غورزېدلی دی.

٧ زما زړۀ مطمئن دے زړۀ مې په تا مطمئن دے پاکه خُدايه،

زۀ به هر وخت په سرود کښې ستا ثناء صِفت کوم.

٨ زما زړګيه پاڅه، زما سريندې او ربابه پاڅه،

زۀ د سحر سباون په ثناء او صِفت راپاڅوم.

٩ اے مالِکه خُدايه، زۀ به ستا شکريه په ټولو خلقو کښې ادا کړم،

زۀ به ټولو قومونو کښې ستا صِفت بيان کړم.

١٠ ستا ابدی مينه آسمانونو ته رسيږی،

هم ستا وفاداری آسمانونو سره لګيږی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ پاکه خُدایه، خپل عظمت دې په آسمانونو کښې ښکاره کړه،

او جلال دې په ټوله زمکه باندې وښَلوه.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد یو زبور چې د "مهٔ تباه کوئ" د ساز په حقله ووئیلے شو

## د بدکارانو سزا

**۵۸** ۱ بادشاهانو تاسو کله هم په رښتیا ښې فیصلې کړې دی څهٔ؟

تاسو د خلقو عدالت په اِنصاف کوئ څهٔ؟

۲ نه بلکې تاسو په زړونو کښې د بې‌اِنصافۍ منصوبې جوړَوئ،

او تاسو په دُنیا کښې شرارت خوروئ.

۳ د پیدا کیدو نه وړاندې شریران خو بې‌لارې دی،

او د مور نه دروغژن پیدا شوی دی.

۴ دوئ لکه د مار په شان زهریله خبرې کوی،

دوئ لکه د کُوڼ کوبرا په شان غوږونه په ځان راړولی دی،

۵ د پاړو د شپیلۍ آواز نهٔ اوری،

کهٔ هر څومره پاړو ښهٔ شپیلۍ ورته غږوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦ د دوئ غاښونه مات کړه، پاکه خُدايه،

د دې زمرو ژامنې ماتې کړه، مالِکه خُدايه.

٧ لکه په خُشکه زمکه کښې چې اوبهٔ ورکيږى دغه شان دې دوئ ورک شى،

او کله چې هغوئ ليندې راکاږى د دوئ غشى دې په خپله مات شى.

٨ هغوئ دې لکه د ګوجې په شان په خپله ويلى شى،

لکه څنګه چې مړ ماشوم رڼا ليدلې نهٔ وى دوئ دې داسې شى.

٩ خُدائ به ډېر زر ورله واړهٔ زاړهٔ ټول ختم کړى،

لکه د ازغو اور چې د لوښى د ګرمېدو نه وړاندې ختم شى.

١٠ صادقان به خوشحاله شى کله چې دوئ انتقام وګورى،

نو خپلې پښې به د شريرانو په وينو کښې ووينځى.

١١ او خلق به دا ووائى،

”بې‌شکه چې صادقان به خپل اجر ومومى،

بې‌شکه چې يو داسې خُدائ شته چې د دُنيا اِنصاف کوى.“

**د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور د هغه وخت په**



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**حقله کله چې ساؤل فوجيان د داؤد کور ته ورولېږل چې هغه مړ کړى. چې ”مۀ تباه کوئ“ د ساز په حقله ووئيلے شو**

**د حفاظت دپاره دُعا**

۵۹ ① ما د خپلو دشمنانو نه خلاص کړه، پاکه خُدايه،

ځوک چې زما خلاف حملې کوى ما د هغوئ نه بچ کړه.

② ما د بدکارانو نه بچ کړه،

ما د قاتلانو نه آزاد کړه.

③ زما د وژلو دپاره پټ ناست دى،

او خطرناک دشمنان زما خلاف رايوځائ شوى دى،

کۀ څۀ هم ما د دوئ خلاف هيڅ ګناه نۀ ده کړې.

④ چا سره مې هم بد نۀ دى کړى خو بيا هم ځان د حملې دپاره تياروى.

راپاڅه او حال مې ګوره چې څۀ وشول او مدد دپاره راشه.

⑤ اے مالِکه قادر مطلق خُدايه، د بنى اِسرائيلو خُدايه،

راپاڅه او ټولو قومونو له سزا ورکړه،

دې بدکارو غدارانو باندې هيڅ رحم مۀ کوه.

⑥ هغوئ هر ماښام لکه د کوڅه ډب سپو په شان راوځى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې د ښار په لارو کوڅو کښې ګشت کوی نو غپيږی.

٧ وګورئ چې د خپلو خُلو نه څنګه ګډې وډې نوستل کوی،

د دوئ ژبې لکه د تېرو تُورو په شان غوځول کوی،

دوئ په زړهٔ کښې وائی چې، ”څوک هم مونږ نه خبر نهٔ دی.“

٨ خو تهٔ، اے مالِکه خُدايه، هغوئ پورې خندا کوې،

تهٔ په دوئ ټولو غېر قومونو پورې مسخرې کوې.

٩ پاکه خُدايه تهٔ زما زور يې، زما سترګې تا ته دی،

خو هم دا تهٔ زما پناه ګاه يې.

١٠ زما مينه ناک خُدائ به د مدد دپاره ما سره جوړه شی،

او ما ته به د خپلو دشمنانو شکست راپه ګوته کړی.

١١ خو تهٔ دوئ مهٔ وژنه، اے مالِکه زمونږ ډاله،

څکه چې زما قوم به دا سبق هېر کړی.

په خپل طاقت دې دوئ تس نس کړه

او تهٔ دوئ ښکته راګزار کړه،

١٢ د خپلې خولې او د شونډو د ګناه په وجه چې کومه کوی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په هم هغه ښيرو او دروغو او کبر کښې دې په خپله راګیر شی.

۱۳ په خپل قهر سره دې دوئ تباه کړه،

چې يو هم پاتې نۀ شی بلکل يې جارُو کړه.

نو ټوله دُنيا په دې خبر کړه،

چې خُدائ په بنی اِسرائيلو حکومت کوی.

۱۴ زما دشمنان هر ماښام لکه د کوخه ډب سپو راواپس کیږی،

کله چې د ښار په لارو کوڅو کښې ګشت کوی نو غپیږی.

۱۵ ګرځی لکه سپی هسې خوراک پسې،

پاتې چې شی اوږی، کوی سپی هسې غرار.

۱۶ خو زۀ به ستا طاقت بيانوم،

زۀ به ستا مينه هر سحر په خوشحالۍ سره ستايم.

هم دا تۀ زما اوچته قلعه او پناه ګاه يې

او په تکليفونو کښې زما خلاصون يې.

۱۷ تۀ زما زور او طاقت يې زۀ به ستا ثناء صِفت کوم،

تۀ په خپله زما پناه ګاه يې، پاکه خُدايه او کوې ما سره مينه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور، چې ښۀ دے د تعليم دپاره د هغه وخت په مطابق چې داؤد د آرامنهرين سره او آرامضوباه سره جنګ وکړو او يوآب راواپس شو او دولس زره ادوميان يې د مالګې په دره کښې ووژل او د هغه ساز سره به وغږولے شی چې ورته "د ګواهۍ د لاله ګل" وئيلے شي.**

**د خلاصون دپاره دُعا**

۶۰ ① تا مونږ رد کړو او زمونږ دېوالونه دې راوغورزول اے خُدايه.

مونږ ته په قهر شوے وې خو دوباره خپل مقام واپس راکړه.

② تا په زمکه زلزله راوستله او هغه وشلېدله،

څکه چې ټوله خوځيږی چاؤدونه يې بند کړه.

③ تا خپلو خلقو ته ډېرې سختې ښودلی دی،

مے دې مونږ ته راکړل او ډغرې مو وخوړلې.

④ تا د هغوئ دپاره جنډا اوچته کړه څوک چې تا نه يرېږی،

چې دا به د حملې خلاف د پناه نښه وی.

⑤ په خپل ښی لاس دې مونږ سره مدد وکړه او مونږ بچ کړه،

چې چا سره چې تۀ مينه کوې هغوئ ته خلاصون ورکړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ د خپل مقدس ځائ نه خُدائ داسې وفرمائيل،

”د فتحې په خوشحالۍ کښې به زۀ شِکم تقسيم کړم،

او د سُکات د درې ناپ تول به وکړم.

۷ جِلعاد او منسى دواړه زما دى.

اِفرائيم زما ټوپۍ او يهوداه زما د بادشاهۍ کونتۍ ده.

۸ موآب زما د وينځلو ښانک دے او هغه به زما خِدمتګار وى.

او زۀ په ادوم باندې خپلې څپلۍ پاکومه

او زۀ به په فلستيه مُلک باندې د کاميابۍ چغه وهم.“

۹ خو څوک به ما د قلعې پوخ ښار ته داخل کړى؟

څوک به ما ادوم ته ورسوى؟

۱۰ اے خُدايه، تا مونږه رد کړى يُو څۀ؟

تۀ به نور زمونږ لښکرو سره په لار نۀ ځې څۀ.

۱۱ د دشمن خلاف زمونږ مدد وکړه،

ځکه چې د انسانانو مدد بېفائدې دے.

۱۲ د خُدائ مدد به مونږ له کاميابى راکړى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به زمونږ دشمنان د پښو لاندې کړی.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور چې د رباب سره غږولے شی

## د حفاظت دپاره د خُدائ پاک نه دُعا

٦١ ① اے پاکه خُدايه، زما سوال زاری واوره،

او زما دُعا ته غوږ ونيسه.

② د دُنيا د آخر نه تا ته نعرې وهم،

کله چې زړهٔ زما بې‌حاله شی.

اوچت ګټ ته مې بوځه او ما ته هلته پناه راکړه.

③ ځکه چې تهٔ زما مضبوط برج او پناه ګاه يې،

چرته چې د دشمن نه په امان کښې يم.

④ زهٔ غواړم چې تر ابده ستا مقدس ځائ کښې اوسېږم،

او ستا د وزرو لاندې پناه واخلم.

⑤ تا، زما منښتې پاکه خُدايه، اورېدلې دی،

او هم هغه ميراث دې ما ته راکړے دے کوم چې هغوئ ته ورکوې څوک چې ستا نه يرېږی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ بادشاه له د عمر ورځې ډېرې کړه،

د هغهٔ عمر تر ډېرو نسلونو پورې زيات کړه.

۷ هغه دې د خُدائ پاک په حضور کښې د تل دپاره بادشاهی وکړی،

هغهٔ ته خپله مينه او وفا وروبښايه چې دے حفاظت وکړی.

۸ نو دغه شان به تل عمر ستا د نوم ثناء صِفت کوم،

چې ما څنګه وعدې درسره کړی دی هغه روزانه پوره کوم.

## د موسيقۍ د مشر يدوتون دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د خُدائ پاک په خلاصون باور کول

**۶۲**

۱ زما ځان صرف په خُدائ پاک کښې آرام مومی،

ځکه چې زما د خلاصون مالِک هغه دے.

۲ هغه په خپله زما ګټ او خلاصونکے دے،

او زهٔ به هيڅکله په لړزان نهٔ شم هغه زما د امان ځائ دے.

۳ تاسو تل به ترڅو په سړی باندې حملې کوئ؟

کوم کس چې د کچه دېوال او کمزوری باړ په شان وی.

۴ دوئ صرف په دې سوچ کښې دی چې هغه د خپل عزت مقام نه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوغورزوی.

دوئ له دروغ وئیل خوند ورکوی،

په خولهٔ خو دوئ برکت ورکوی،

خو په زړهٔ کښې دوئ لعنت کوی.

۵ اے زما روحه صرف په خُدائ پاک کښې په آرام سره صبر وکړه.

ځکه چې زما ټول اُمیدونه هغهٔ پورې تړلی دی.

۶ هغه په خپله زما ګټ او خلاصونکے دے.

او زهٔ به هیڅکله په لړزان نهٔ شم هغه زما د امان ځائ دے.

۷ زما عزت او خلاصون د خُدائ له طرفه دے،

هغه زما غټ ګټ او پناه ګاه دے.

۸ اے خلقو هر وخت هغهٔ باندې یقین ساتئ.

تاسو هغهٔ ته د خپل زړهٔ مشکل بیانوئ،

ځکه چې خُدائ پاک زمونږ پناه ګاه دے.

۹ عام خلق څهٔ حیثیت نهٔ لری د هغهٔ په وړاندې،

زورَور خلق هم هغه نهٔ دی کوم چې دوئ ښکاری،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کۀ هغوئ ټول په تله وتلی دا به د هوا نه هم سپک وی.

١٠ چې په ظلم زیاتی یقین ونۀ کړئ،

او نۀ د غلا د مال اسرا وکړئ.

ولې چې ځان وریورې ونۀ ترړئ،

هر څومره چې دولت ستا زیاتیږی.

١١ خُدائ پاک یو ځل وفرمائیل،

نو ما بار بار واورېدل،

چې خُدائ پاک زورَور دے،

١٢ او چې پاکه خُدایه ستا مینه نۀ ختمېدونکې ده.

بېشکه چې تۀ هر چا ته د هغوئ د کارونو په مطابق اجر ورکوې.

## زما ځان د خُدائ ترږے دے

## د حضرت داؤد یو زبور کله چې هغه د یهوداه په بیابان کښې وو

٦٣ ١ اے خُدایه، تۀ زما خُدائ پاک یې.

د زړۀ نه ستا په لټون کښې یم،

روح او زما ځان ستا ترږے دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه اویهٔ چې نهٔ وی په زمکه خشکه او شاړه.

٢ تهٔ ما په خپل مقدس مقام کښې لیدلے یې،

او ستا جلال او زور هم ما لیدلے دے.

٣ ستا نهٔ ختمېدونکې مینه د ژوند نه ښهٔ ده،

نو ځکه به زما شونډې ستا لوئی بیانوی.

۴ ترڅو چې زهٔ ژوندے یم ستا ثناء صِفت به ادا کوم،

او خپل لاسونه به په دُعا کښې ستا په نوم پورته کړم.

۵ ځان به زما داسې موړ شی لکه په غوره خوراک.

زهٔ به په خوشحالئ سره وایم ستا ثناء او صِفت،

٦ زهٔ چې پروت یمه په کټ کښې هم تا یادوم،

ستا په حقله شپه کښې ټوله شپه فکر کوم.

٧ ځکه چې تهٔ زما مددګار یې،

په سوری د وزرو کښې ستا د خوشحالئ سندرې وایم.

٨ ما خپل ځان تا پورې تړلے دے،

ستا زورَور لاس زهٔ په امان کښې ساتلے یم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ څوک چې کوشش کوی زما د وژلو،

خو دوئ به ټول لاړ شی لاندې د خاورو.

١٠ په جنګ کښې به هغوئ لاندې شی د تُورو،

او دوئ به شی خوراک د ګیدړانو.

١١ خو بادشاه به خوشحالیږی د خُدائ پاک په نوم،

او ټولو چا چې د خُدائ په نوم قسم خوړلے،

هغوئ به د هغهٔ ثناء صِفت کوی،

ځکه چې د دروغژنو خولې به بندې شی.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد یو زبور

## د دشمنانو د شر نه د حفاظت دُعا

**٦٤** ١ اے پاکه خُدایه، زما آواز تهٔ واوره،

زما ژوند د دشمنانو د یرې نه وساته.

٢ ما د بدعمله د پټو منصوبو نه په امان کړه،

ما د بدکردارو د قبیلې نه په امان کړه.

٣ خپلې ژبې یې لکه د تُورو په شان تیرې کړې دی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغوئ بدې او ترخې خبرې لکه وژونکو غشو په شان دی،

۴ هغوئ د پټ ځائ نه په بې‌ګناه کس ګزارونه کوی.

دوئ د چا نه نهٔ يريږی ناڅاپه پرې ګزارونه کوی.

۵ په بدو منصوبو کښې دوئ د يو بل ډاډګيرنه کوی.

او په خپلو کښې په مشورې سره پټ دامونه ږدی،

په خپلو کښې دا خيال کوی چې څوک به مونږ وګوری؟

۶ دوئ په بې‌اِنصافئ سره منصوبې جوړوی،

او دوئ وائی چې، "مونږ ډېره ښهٔ منصوبه جوړه کړُو."

د انسان عقل او زړهٔ دواړه څومره چالاکه دی.

۷ خو خُدائ پاک به دوئ په غشو باندې ولی،

او ناګهانه به دوئ زخمی کړی.

۸ د دوئ خپلې ژبې به هم دوئ تباه کوی.

هر هغه څوک چې دوئ ته ګوری نو په سپکه به خپل سرونه هغوئ پورې خوځوی،

۹ او ټول انسانان به وهٔ يريږی.

دوئ به د خُدائ پاک د شان کارونه بيان کړی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغهٔ په کارونو به فکر کوی.

۱۰ ټول صادقان دې د مالِک خُدائ خوشحالی وکړی

او په هغهٔ کښې دې پناه واخلی.

او ټول نېکان دې د خُدائ پاک ثناء صِفت ادا کړی.

## د موسيقئ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د فصل راټولو شُکر گزاری

۶۵ ۱ په صيون کښې، پاکه خُدايه، تهٔ د ثناء صِفت لائق يې.

منښتې به هم تا ته وړاندې کيږی

۲ تهٔ په خپله د ټولو دُعاګانې اورې،

ټول خلق به تا ته راشی.

۳ کله چې مونږ د خپلو ګناهونو لاندې راګېر شولو،

نو زمونږ ټول ګناهونه دې معاف کړل.

۴ بختور دی هغوئ څوک چې تا په خپله غوره کړی دی،

چې ستا په دربار کښې اوسيږی او خپل ځان ته دې نزدې کړی دی.

مونږ به ستا د مقدس کور په نعمتونو ماړهٔ کړې.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ تا زمونږ دُعا داسې قبوله کړه

چې تا زمونږ دپاره د صداقت حېرانونکې کارونه کړی دی،

اے زمونږ خلاصونکیه زمونږ پاکه خُدایه.

د دُنیا د یو سر نه تر بل سره پورې،

او تر لرې سمندرونو پورې تۀ د هر چا اُمید یې.

۶ تا چې غرونه په خپل زور ودرولې دی،

خپل ځان دې په طاقت سمبال کړے دے.

۷ ستا په حُکم د سمندر زوروَری چپې او موجونه قلارېږی،

او هم ستا په حُکم د قومونو چغې سورې په قلارېږی.

۸ ستا د عجیبه کارونو نه دا دُنیا د یو سره تر بله ټوله یرېږی،

د نمر ختو نه د نمر پرېوتو پورې تۀ د خلقو د خوشحالئ د آوازونو سبب کېږې.

۹ تۀ د زمکې خیال ساتې اوبۀ ورکوې او ښۀ یې زرخېزه کوې،

د خُدائ پاک سیندونه د اوبو نه ډک شُو.

نو خلقو ته د غلې دانې بندوبست وشو.

نو دغه شان دې په زمکه انتظام وکړو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ قُلبه شوې پټۍ په باران سيرابه کوې،

لوړې ژورې او لوټې يې هواروې.

په باران سره يې نرموې،

او فصلونو ته يې برکت ورکوې.

۱۱ تا کال ته په آبادۍ سره برکت ورکړو،

تر دې چې ګاډۍ او کوټې دې دانو نه انبار کړې.

۱۲ د صحراګانو د څرند ځايونه دې سرسبزه کړل،

او د غرونو لمنو ته دې د خوشحالۍ جامې واغوستې.

۱۳ د څرند ځايونه د رمو نه ډک شو،

او ټول پټۍ د دانو نه ډک شو.

هر خيز نعرې وهی او د خوشحالۍ سندرې وائی.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د زبور يو حمد

## د شُکر ګزارۍ سرود

**۶۶** ۱ اے د ټولې دُنيا خلقو خوشحالی وکړئ.

خُدائ پاک ته د خوشحالۍ نعرې ووهئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ د هغهٔ د نوم د جلال سندرې ووايئ،

او د هغهٔ جلالی حمدوثناء بيان کړئ.

۳ خُدائ پاک ته ووايئ، "ستا کارونه هيبتناک دی او زور طاقت دې ډېر لوئ دے.

نو ځکه ستا ټولو دشمنانو ستا په وړاندې خپل سرونه ټيټ کړی دی.

۴ په ټوله دُنيا کښې هر يو کس ستا عبادت کوی

ستا حمدوثناء وائی او ستا د نوم ثناء صِفت کوی."

۵ خُدائ پاک چې څهٔ کړي دی راشئ هغه وګورئ،

او هغهٔ چې بنيادمو له کوم لوئ کارونه کړی دی هغه وګورئ.

۶ هغهٔ سمندر په وُچه زمکه باندې بدل کړو،

نو هغوئ ښهٔ خوشحالی وکړه کله چې پېدل په کښې تير شول.

۷ هغه د تل دپاره په خپل طاقت بادشاهی کوی،

او قومونه د خپل نظر لاندې ساتی

چې دوئ خو د دهٔ خلاف سرکشی نهٔ کوی.

۸ اے ټولو قومونو آواز پورته کړئ،

زمونږ د خُدائ پاک ثناء صِفت وکړئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ د هغهٔ په لاس کښې زمونږ ژوندون دے

زمونږ پښې يې د تيندک خوړلو نه ساتلى دى.

۱۰ نو پاکه خُدايه تا خو مونږه آزمائيلى يُو،

داسې لکه سپين زر دې په اور صفا کړى يُو.

۱۱ مونږ دې په جال کښې راګېر کړلو،

تا زمونږ په ملا دروند بار کېښودلو.

۱۲ تا زمونږ دشمنان زمونږ په سر باندې تېرېدو ته پرېښودل،

او مونږ دې اور او سېلاب نه تير کړُو،

خو آخر دې هم مونږ د آرام او برکتونو ځائ ته راوستُو.

۱۳ زهٔ به سوزېدونکې قربانۍ ستا کور ته راوړم،

خپلې کړې وعدې به تا سره پوره کړم،

۱۴ څهٔ چې ما منلى وُو هم هغه به وکړم

کوم وخت کښې چې زهٔ سخته کښې ګېر وم.

۱۵ زهٔ به په قربانګاه باندې ځربه څاروى پيش کړم،

او دې سره به غوَيان او چېلۍ هم قربانى کړم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ ما ته راشئ او غوږ ونيسئ تاسو ټول څوک چې د خُدائ پاک نه يرېږئ،
نو تاسو ته به زهٔ اوس ووايم چې هغهٔ ما له څهٔ کړى دى.

۱۷ په خپله خولهٔ ما هغهٔ ته سوال زارى وکړه
او زما ژبې د هغهٔ ثناء صِفت بيان کړو.

۱۸ کهٔ زما په زړهٔ کښې د ګناه دپاره ځائ وو،
نو مالِک خُدائ به زما سوال اورېدلے نهٔ وو.

۱۹ خو بېشکه خُدائ پاک ما ته غوږ نيولے دے،
او هغهٔ زما د دُعا آواز اورېدلے دے.

۲۰ ثناء صِفت دې هغه خُدائ پاک ته وى چا چې زما دُعا رد نهٔ کړه،
هغهٔ خپله ابدى مينه ما سره ختمه نهٔ کړه.

**د موسيقىٔ د مشر دپاره: چې د رباب د تارونو سره وغږولے شو، د حمدوثناء يو زبور**

## د شُکر ګزارئ سرود

## ۶۷

۱ خُدائ پاک دې په مونږ مهربانه شى او مونږ ته دې برکت راکړى،
او په مونږ دې د خپل مخ نُور وځلوى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ او په ټوله دُنيا کښې دې ستا لارې وپېژندلے شى،

ستا د خلاصون نه دې ټول قومونه خبر شى.

٣ اے پاکه خُدايه، په ټولو قومونو دې ستا ثناء صِفت بيان شى،

او ټول قومونه دې ستا ثناء خوان شى.

٤ ټول قومونه دې ستا خوشحالى وکړى او د خوښۍ سندرې دې ووائى،

ځکه چې تهٔ د قومونو اِنصاف کوې او د دُنيا خلقو ته لارښودنه کوې،

٥ ټول قومونه دې ستا ثناء صِفت بيان کړى، اے پاکه خُدايه،

ستا په صِفت دې ټول قومونه ثناء خوان شى.

٦ نو بيا به زمکه خپل پېداوار ورکړى،

خُدائ پاک زمونږ خُدائ به مونږ له برکت راکړى.

٧ خُدائ پاک به مونږ له برکت راکړى،

او د دُنيا تر آخره ټول خلق به د هغهٔ نه ويره وکړى.

**د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد د حمدوثناء يو زبور**

**د کاميابۍ سرود**

## ۶۸

١ پاکه خُدايه راپاڅه، او خپل دشمنان دې خوارهٔ وارهٔ کړه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې تا نه نفرت کوی هغوئ تالا والا کړه.

٢ لکه څنګه چې لوګے د هوا په وړاندې زغلی،

دغه شان تاسو دوئ د خپل ځان نه وزغلوئ.

لکه څنګه چې موم د اور په مخکښې ویلې کیږی،

دغه شان دې بدکاره خلق د خُدائ پاک په وړاندې تباه کیږی.

٣ خو صادقان دې د هغهٔ په وړاندې خوشحالی وکړی،

د خُدائ پاک په حضور کښې دې خوشحاله شی،

او د خوښئ نعرې دې وکړی.

٤ خُدائ پاک ته سرود ووایئ، او د هغهٔ د نوم ثناء صِفت بیان کړئ،

ځوک چې سور په وریځو راځی هغه دروند کړئ،

د هغهٔ نوم مالِک خُدائ دے او د هغهٔ په وړاندې خوشحالی وکړئ،

٥ د یتیمانو دپاره پلار دے او د کونډو حفاظت کوی،

هم دا خُدائ پاک دے ځوک چې په خپل مقدس ځائ کښې سکونت کوی.

٦ تهٔ بېکسه ته خاندان او قیدی ته خوشحالی او آزادی ورکوی.

خو سرکشه خلق په اوچو او سوکړو کښې ژوند کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ اے پاکه خُدایه، کله چې تهٔ د خپلو خلقو لاربنود وې،

او په بیابان کښې د هغوئ په وړاندې روان وې،

٨ زمکه وخوځېدله او باران د بره آسمانه ووربېدو د خُدائ پاک په وړاندې،

د سینا په صحرا کښې او د بنی اِسرائیل د خُدائ پاک په وړاندې.

٩ په شیبو شیبو باران دې راشروع کړو پاکه خُدایه.

ترڅو تهٔ خُشکه زمکه کړې تازه او آباده،

١٠ ستا غوره شوی خلق په هغه ځائ کښې اوسېدل.

پاکه خُدایه، تا مسکینان د خپل سخاوت په وجه ماړهٔ کړل.

١١ مالِک خُدائ حُکم وکړو،

او ډېرو ګڼو ښځو دا زېرے ورسولو،

١٢ "بادشاهان سره د فوجه وتښتېدل."

په کور کښې ښځو د غنیمت مالونه تقسیم کړل.

١٣ هغوئ خزانې وموندلې کهٔ څهٔ هم څوک چې شپول کښې اوسېدل،

کونترې چې د سپینو زرو وزرونه یې وُو او بنې یې د سرو زرو وې.

١٤ کله چې قادر خُدائ ټول بادشاهان خوارهٔ وارهٔ کړل،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د واورې په شان په ضلمون غر ورېدل.

۱۵ بسن غرونه ښومره اوچت دى،

د بسن د غرۀ ډېرې دنګې ښوکې دى.

۱۶ اے لوړو غرونو تاسو ولې د حسد په نظر ګورئ،

هغه غرونو ته کوم

چې خُدائ د خپل ځان د اوسېدو دپاره منتخب کړى دى؟

چرته چې به مالِک خُدائ د تل دپاره اوسيږى.

۱۷ د مالِک خُدائ جنګى ګاډىَ دى په سلګونو او زرګونو.

مالِک خُدائ د سينا د غرۀ نه خپل مقدس ځائ ته راغلو.

۱۸ کله چې تۀ بره لاړې قېديان دې ځان سره بوتلل.

د بنيادمو نه درته تحفې مِلاو شوې

د هغوئ نه هم کومو چې بغاوت کړے وو.

نو هم داسې مالِک خُدائ هلته استوګنه وکړله.

۱۹ زمونږ خلاصونکى مالِک خُدائ ته دې ثناء وى،

ښوک چې هره ورځ زمونږ بوج وړى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ زمونږ قادر مطلق خُدائ هغه مالِک خُدائ دے څوک چې خلاصون ورکوی،

قادر مطلق خُدائ څوک چې مونږ د مرګ نه خلاصوی.

۲۱ خو مالِک خُدائ به د خپلو دشمنانو سر هوار کړی،

او د هغوئ کوپړئ به هواره کړی څوک چې د ګناه په لار روان وی.

۲۲ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”زهٔ به خپل دشمنان د بسن نه واپس راښکته کړم،

زهٔ به هغوئ د سمندر د تل نه راوباسم،

۲۳ تاسو به د هغوئ په وينو کښې خپلې پښې ووينځئ،

او ستاسو سپی به خپله حِصه په خپلو ژبو وڅټی.“

۲۴ اے پاکه خُدايه، ستا جلوس هر چا وليدلو،

زما د خُدائ پاک او زما د بادشاه جلوس چې مقدس ځائ ته داخليدو.

۲۵ سندرغاړی ترې نه وړاندې او وروستو موسيقاران دی،

او په مينځ کښې يې پيغلې جينکۍ دی چې تمبلونه غږوی،

۲۶ ”په لويو ډلو کښې د خُدائ پاک ثناء صِفت ادا کړئ،

د بنی اِسرائيلو په جماعت کښې د مالِک خُدائ صِفت وکړئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ د بنیامین وړه قبیله د دوئ لاربښودنه کوی،

بیا ورپسې د یهوداه شهزادګان راروان دی،

په هغوئ پسې د زبولون او نفتالی شهزادګان راروان دی.

٢٨ پاکه خُدایه، خپل زور دې وښایه.

لکه څنګه چې تا مخکښې ښودلے وو

مونږ ته خپل زور بیا وښایه، پاکه خُدایه.

٢٩ ستا د مقدس کور په خاطر چې په یروشلم کښې دے،

بادشاهان تا له تحفې راوړی.

٣٠ مِصر ورټه څوک چې د وحشی څناورو په شان د لوخو په ځنګل کښې اوسیږی،

او هغه قومونه چې د ځنګلی غوَیانو د رمو په شان د سخو په مینځ کښې دی ورټه،

او دوئ عاجزه کړه چې تا ته د سپینو زرو نذرانې وړاندې کړی.

هغه خلق خوارۀ وارۀ کړه څوک چې د جنګ شوق کوی.

٣١ مِصریان دې د زېړو د قیمتی تُحفو سره راشی،

او د ایتهوپیا خلق دې خُدائ ته لاس په دُعا شی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ د دُنیا بادشاهتونو د خُدائ د لویئ سندرې ووایئ،

مالِک خُدائ ته سندرې ووایئ او ثناء صِفت بیان کړئ.

۳۳ د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ څوک چې په عرش باندې د ازل نه ناست دی،

هغه چا ته څوک چې په دروند آواز غړیږی.

۳۴ خُدائ پاک په خپل قدرت کښې وستایئ،

د چا چې دبدبه په بنی اِسرائیلو او زور په آسمانونو دے.

۳۵ په خپل مقدس ځائ کښې ستا شان څومره لوئ دے، پاکه خُدایه،

د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک طاقت او قدرت ورکوی خپلو خلقو ته،

ثناء صِفت دې وی خُدائ پاک ته.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د نیلوفر د ګل د ساز په مطابق، چې حضرت داؤد لیکلے وو

## د مدد غوښتلو دپاره دُعا

# ۶۹

۱ اے پاکه خُدایه، ما بچ کړه،

ځکه چې سیلاب مې تر مرۍ رارسیدلے دے.

۲ زما د پښو دپاره کلکه زمکه نشته خټو کښې ډوبیږم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په ژورو اوبو کښې سېلاب راګېر کړے يم ډوبېږم.

٣ مرۍ مې وُچه شوه په چغو ستړے شوم،

خُدائ ته په انتظار کولو مې نظر کم شو.

٤ څوک چې ما نه نفرت کوى زما د سر وېښتو نه زيات دى.

هغوئ بېسببه ما سره دشمنى کوى او چې ما ختمول غواړى ډېر دى.

هغوئ رانه هغه څۀ واپس غواړى چې مې پټ کړى نۀ دى.

٥ اے پاکه خُدايه، تا ته پته ده چې زۀ څومره بېوقوفه يم،

او ستا نه پټ نۀ دى زما ګناهونه.

٦ اے مالِکه خُدايه، ربُ الافواج خُدايه څوک چې په تا باندې توکل کوى،

هغوئ دې زما په وجه شرمنده نۀ شى څوک چې ستا لټون کوى.

اے د بنى اِسرائيل خُدايه، هغوئ دې زما په وجه شرمنده نۀ شى.

٧ ستا دپاره ما د خلقو سپکاوے برداشت کړو

او د شرم په وجه ما خپل سر ښکته کړو.

٨ تر دې چې خپلو ورونړو راته د پردو نظر وکړو،

او زۀ په خپلو ورونړو کښې پردے شوم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ ستا د کور غېرت دپاره زهٔ وسوزېدم،

ځوک چې تا سپکوی د هغوئ سپکوالے زهٔ برداشت کوم.

۱۰ کله چې زهٔ ژاړم او روژه ونیسم،

نو دوئ په ما پورې خندا کوی.

۱۱ کله چې زهٔ د ټاټ جامې واچوم

نو دوئ په ما پورې خندا کوی.

۱۲ په لارو کوڅو کښې ما پورې ټوقې کوی،

شرابیان مې په بې‌عزتۍ سره په سندرو کښې یادوی.

۱۳ خو مالِکه خُدایه، په مناسب وخت کښې دې زما دُعا واوره،

په خپله لویه مینه کښې دې زما د خلاصون سوال قبول کړه.

۱۴ ما په ختو کښې د ډوبېدو نه بچ کړه،

ځوک چې رانه نفرت کوی د هغوئ نه ما بچ کړه،

او د ژورو اوبو نه مې رابهر کړه.

۱۵ زما د سر دپاسه سېلاب تېرېدو ته مهٔ پرېږده،

په اوبو کښې ډوبېدو ته مې مهٔ پرېږده،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او لحد ته غورزېدو ته مې مهٔ پرېږده.

۱۶ اے مالِکه خُدایه، د خپلې ابدی مینې په نېکئ کښې دې زما سوال قبول کړه،

او په خپله لویه مهربانئ کښې دې ما ته خپل مخ راواړوه.

۱۷ د خپل بنده نه دې مخ مهٔ پټوه،

په سختئ کښې راګېر يمه دُعا مې زر قبوله کړه.

۱۸ ما له نزدې راشه او په قيمت مې واخله،

ما د خپلو دشمنانو د لاس نه خلاص کړه.

۱۹ تا ته پته ده چې زهٔ څومره بېعزته شوم او څومره وشرمولے شوم،

زما ټول دشمنان ستا په وړاندې دی.

۲۰ دېرې بېعزتئ مې زړهٔ مات کړے دے نااُميده يم،

څوک نهٔ وُو چې په ما يې رحم کړے وے، يو هم نهٔ وو،

څوک نهٔ وُو چې ما له يې تسلی راکړے وے، يو هم نهٔ وو.

۲۱ د روټئ په ځائ يې زهر راله راکړل،

د اوبو په ځائ سرکه يې راله راکړه.

۲۲ د هغوئ دسترخوان دې د هغوئ دپاره جال او دام شی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغوئ مال دولت دې ورته دام وګرځی.

٢٣ سترګې يې ړندې کړه چې هغوئ ونۀ وينی،

او د هغوئ ملاګانې دې د تل دپاره ټيټې شی.

٢٤ تۀ دې خپل قهر په هغوئ نازل کړه،

او ستا هيبتناکه غصه دې هغوئ راګېر کړی.

٢٥ د هغوئ کورونه دې وران شی،

د هغوئ په خېمو کښې دې د اوسېدو هيڅ څوک پاتې نۀ شی.

٢٦ چا له چې تا سزا ورکړه په هغوئ ظلم کوی،

او ورله په زخمونو باندې مالګې دوړه وی.

٢٧ هغوئ سره د ټولو ګناهونو ذره ذره حساب وکړه،

او په خپل خلاصون کښې ورته برخه مۀ ورکوه.

٢٨ د هغوئ نومونه دې د ژوندون د کِتاب نه لرې شی،

د صادقانو په شمېر کښې دې حساب نۀ شی.

٢٩ په درد کښې يم او په ما باندې سختی ده،

اے پاکه خُدايه، په خپل خلاصون دې ما بچ کړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ زۀ به د خُدائ د نوم ثناء صِفت وکړم،

په شُکر گزارئ سره به د هغۀ عزت وکړم.

۳۱ دا به مالِک خُدائ د غوَيي د قربانئ نه زيات خوشحاله کړی،

د دې نه زيات چې پوره غوَيے ورته د ښکرونو او سومونو سره وړاندې کړی.

۳۲ مظلومان چې دا ووينی نو ډېر به خوشحاله شی،

ځوک چې د خُدائ پاک لټون کوی نو هغوئ به هم ډاډه شی.

۳۳ ځکه چې د مظلومانو ژړا مالِک خُدائ په خپله اوری،

او هغه کله هم خپل قېديان نۀ هېروی.

۳۴ اے زمکې او آسمانه د خُدائ ثناء ووايئ،

سمندرونو او هر څۀ چې په کښې گرځی.

۳۵ خُدائ به صيون بچ کړی او دوباره به د يهوداه ښارونه آباد کړی،

نو خلق به هغه ځائ کښې اوسيږی او دوئ ته به يې په ميراث کښې ورکړی.

۳۶ د هغۀ د خِدمتگارانو اولاد ته به يې ميراث کښې ورکړی،

هغوئ به په کښې اوسيږی څوک چې د هغۀ د نوم سره مينه کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد ليکلے شوے درخواست

## د مدد دپاره دعا

٧٠ ① پاکه خُدايه، ما ته خلاصون راکړه،

مالِکه خُدايه، زر راشه، او زما مدد وکړه.

② هغوئ څوک چې زما د مرګ کولو کوشش کوی،

هغوئ دې شرمنده او سرګردانه شی،

هغوئ ټول څوک چې زما تباه کېدل غواړی،

دوئ ټول دې شکست وخوری او شرمنده دې شی.

③ هغه څوک چې ما پورې خندا کوی،

هغوئ دې ماتے وخوری وارخطا دې شی.

④ هغوئ څوک چې ستا لټون کښې ګرځی،

هغوئ دې خوښی وکړی او خوشحاله دې شی،

څوک چې ستا خلاصون سره مينه کوی،

همېشه دې د مالِک خُدائ لوئی بيانوی.

⑤ زۀ ډېر غريب او حاجتمند يم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اې خُدايه، ما له زر راشه،

اې زما مددګاره او خلاصوونکيه،

اې مالِکه خُدايه، نور انتظار مهٔ کوه.

## د يو بوډا سړی دُعا

# ۷۱

١ زما مالِکه خُدايه ستا پناه له راغلے يم،

ما مهٔ پرېږده چې په شرم وشرمېږم،

٢ په خپل صداقت سره دې ما بچ کړه او خلاصون راکړه،

ما ته غوږ ونيسه او ما بچ کړه.

٣ تهٔ زما د پناه ګټ شه چرته چې زهٔ هر وخت ورتلے شم،

تهٔ حُکم ورته وکړه چې زهٔ په کښې بچ شم.

ځکه چې تهٔ يې زما ګټ او قلعه.

٤ زما پاکه خُدايه، ما د بدعملو د لاسونو نه خلاص کړه،

او د بدکارانو او ظالمانو د قبضې نه مې خلاص کړه.

٥ اې قادر مطلق مالِکه خُدايه صرف تهٔ زما اُميد يې،

او د ورکوټوالی نه په تا باندې توکل کوم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦ زما د پېدا کېدو سره سم ما هم په تا بهروسه کړې ده،

او هم تا زما خيال وساتلو د مور په ګېډه.

زۀ به همېشه ستا ثناء صِفت کوم.

٧ د ډېرو خلقو په وړاندې عجيبه غوندې مثال ګرځېدلے يم،

خو تۀ مضبوطه پناه ګاه يې زما دپاره.

٨ ټوله ورځ زۀ په ژبه ستا ثناء صِفت کوم،

ستا شان او شوکت ټوله ورځ بيانوم.

٩ په بوډاوالی کښې چې ما ونۀ غورزوې،

هرکله چې زما زور ختم شی ما مۀ هېروه.

١٠ زما دشمنان زما خلاف خبرې کوی،

څوک چې راپسې دی هغوئ زما د وژلو بندوبست کوی.

١١ دوئ وائی، "خُدائ پاک ترې نه لاس اخستے دے نو ورپسې شئ او راتينګ يې کړئ.

هيڅ څوک نشته چې هغۀ له خلاصون ورکړی."

١٢ زما نه لرې مۀ اوسېږه، اے مالِکه خُدايه،

زما پاکه خُدايه، ستا مِنت کوم ما ته زر راشه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ ځوک چې ما پورې تور تړی نو و دې شرمیږی او تباه دې شی،

ځوک چې ما ته نقصان رسول غواړی،

هغوئ دې سپک شی او په شرمونو کښې دې پټ شی.

۱۴ خو زهٔ به همیشه دپاره ستا نه اُمید کوم،

زهٔ به ستا ثناء صِفت ډیر ډیر کوم.

۱۵ زهٔ به په خپله ستا صداقت بیان کړم،

ټوله ورځ به ستا خلاصون بیانوم،

کهٔ څهٔ هم زهٔ په وینا کښې ماهر نهٔ یم.

۱۶ اے قادر مطلق مالِک خُدایه زهٔ به ستا د لویئ کارونه بیان کړم.

چې صرف تهٔ اِنصاف کوونکے یې زهٔ به هر چا ته ووایم.

۱۷ د ورکوټوالی نه دې ما له تعلیم راکړے دے اے پاکه خُدایه،

زهٔ تر ننه پورې ستا عجیبه کارونه ستایم.

۱۸ کهٔ چرې زهٔ هم بوډا او سپین‌ږیرے شم،

خو اے پاکه خُدایه، ما مهٔ پرېږده ځان له،

ترڅو چې زهٔ راتلونکی نسل ته ستا قدرت بیان نهٔ کړم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ټولو را روانو نسلونو ته ستا زور بيان نۀ کړم.

(۱۹) ستا صداقت آسمانونو ته رسيږی پاکه خُدايه،

هم دا تا کړي دی لوئ کارونه.

ستا په شان بل څوک نشته پاکه خُدايه.

(۲۰) کۀ څۀ هم تا زۀ د ډېرو سختو سره مخ کړم،

تۀ به دوباره ما ژوندے کړې،

او د زمکې د ژورې کندې نه به مې راوباسې.

(۲۱) تۀ به زما عزت زيات کړې،

يو ځل بيا به ډاډګيرنه راکړې.

(۲۲) زۀ به ستا ثناء صِفت د سريندې په ساز کښې کوم،

ځکه چې تۀ په خپلو وعدو وفادار يې،

زۀ به د رباب په نغمو کښې ستا صِفت کوم،

اے د بنی اِسرائيلو مقدس خُدايه.

(۲۳) زما شونډې به د خوشحالۍ وکړی آوازونه،

کله چې زۀ ستا ثناء صِفت کومه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې تا زهٔ بچ کړے یم.

۲۴ زما ژبه به ستا صداقت ټوله ورځ بیانوی،

ځکه چا چې غوښتل چې ما ته نقصان ورسوی

هغوئ به په شرم او په بې‌عزتۍ اخته وی.

## د حضرت سلیمان دُعا

# ۷۲

۱ اے خُدایه پاکه، د اِنصاف دپاره بادشاه له همت ورکړه،

او د بادشاه زوئ له صداقت ورکړه.

۲ هغه به په صداقت سره د خلقو عدالت وکړی،

ستا د مظلومانو به په اِنصاف سره عدالت وکړی.

۳ غرونه به خلقو ته آبادی راولی،

غونډۍ دې د صداقت مېوه ونیسی.

۴ او هغه به د خلقو په مینځ کښې د مظلومانو مدد وکړی،

او د غریبانانو بچو ته به خلاصون ورکړی،

او ظالمان به د پښو لاندې کړی.

۵ ترڅو چې په آسمان کښې نمر او سپوږمۍ وی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول خلق به تا نه يريږی،

نسل در نسل به دا جاری وی.

۶ نو بادشاه دې د باران په شان د واښو په پټو راوريږی،

لکه د باران په څاڅکو چې زمکه سيرابيږی.

۷ د هغهٔ په ورځو کښې به صادقان آباد وی،

ترڅو چې په آسمان کښې سپوږمۍ وی نو تر هغه وخته به آباد وی.

۸ هغه به د سمندر نه تر سمندر پورې،

او د فرات د سيند نه د زمکې تر آخره به حکومت کوی.

۹ د دشتو کوچيان به د هغهٔ په وړاندې په سجده شی،

د هغهٔ دشمنان به خاوری په خولهٔ شی.

۱۰ هغهٔ ته به د ترسيس بادشاهان او د لرو لرو جزيرو نه قلنګ راوړی،

هغهٔ ته به د شيبا او سِيبا بادشاهان تحفې راوړی.

۱۱ ټول بادشاهان به هغهٔ ته په سجده شی،

ټول قومونه به د هغهٔ خِدمت ګزار شی.

۱۲ هغه به حاجتمندو له خلاصون ورکړی څوک چې هغهٔ ته وژاړی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغه مظلومانو به مددګار وی د چا چې څوک نۀ وی.

⑬ په ضعيفانو او په حاجتمندانو به رحم وکړی،

او حاجتمندان به د مرګ نه بچ کړی.

⑭ هغه به دوئ د ظلم او جبر نه بچ کړی،

د هغۀ په نظر کښې د دوئ وينه ډېره قيمتی.

⑮ د بادشاه عمر دې ډېر شی د شيبا سرۀ زر دې هغۀ ته ورکړے شی،

خلق دې تل د هغۀ دپاره دُعا وغواړی،

او ټوله ورځ دې هغۀ ته د خُدائ پاک برکت ورکړے شی.

⑯ غله دانه دې په مُلک کښې ډېره تېره شی،

تر دې چې د غرونو په سرونو دې غلې دانې وشی.

د لبنان د مېوو په شان دې مېوه زياته شی،

لکه څنګه چې پټی د واښو نه شنۀ دی، دغه شان دې انسانان په کښې ډېر شی.

⑰ د بادشاه نوم دې د تل دپاره پاتې شی،

ترڅو چې نمر وی تر هغې دې پاتې شی.

ټول قومونه دې د هغۀ په وسيله برکتی شی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغوئ دې ورته بختور ووائی،

۱۸ ثناء صِفت دې مالِک خُدائ، د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک ته وی،

څوک چې په يواځې ځان په خپله عجيبه کارونه کوی.

۱۹ د هغۀ جلالی نوم ته دې د تل دپاره ثناء صِفت وی،

ټوله زمکه دې د هغۀ د جلال نه ډکه وی. آمين ثُمه آمين.

۲۰ دا د داؤد د دُعاګانو خاتمه ده،

څوک چې د يَسى زوئ دے.

## د حضرت آسف يو زبور

# ۷۳

۱ خُدائ پاک بېشکه د بنی اِسرائيلو سره ښۀ دے،

او د چا زړونه چې صفا وی د هغوئ سره ښۀ دے.

۲ خو څومره چې زما په متعلق خبره وه تقريباً پښې مې ښوئېدو ته نزدې شوې وې،

نزدې وه چې زمکه مې د پښو نه تښتېدلے وے.

۳ نو ما د کبرژنو سره کينه وکړه،

هرکله چې ما د بدکارانو ترقی وليده.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ هغوئ هيڅ قسمه تکليف نۀ لری،

او د هغوئ وجود صحتمند او قوی وی.

۵ او د نورو خلقو غوندې هغوئ په تکليف کښې نۀ دی،

او د نورو خلقو غوندې په سختو او کړاونو کښې نۀ دی.

۶ ځکه د دوئ غاړه د فخر امېل دے،

او دوئ د شرارت جامې اغوستې دی.

۷ د مال دولت په وجه هغوئ غټې سترګې دی،

د دوئ د ذهنونو د ګنده خيالاتو څۀ حد نشته.

۸ د خلقو بې‌عزتی کوی او د نفرت او حسد نه ډکې خبرې کوی،

په کبرژنه لهجه په خپله ژبه سره د ظلم او زياتې خبرې کوی.

۹ د هغوئ خبرې د آسمان نه هم اوچتې دی،

او په خپله ژبه يې ټوله دُنيا وخوړله.

۱۰ نو په دې وجه د خُدائ پاک د غوره شوو خلقو هم دوئ ته پام شو،

او د هغوئ خبرو منلو ته ليواله شو.

۱۱ دوئ وائی چې، ”خُدائ پاک ته به پته لګی څۀ؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ تعالیٰ سره داسې عِلم شته دے څۀ؟“

١٢ دا بدکاران وګورئ دغه شان وی،

چې ژوند يې په آرام وی مال دولت يې زياتيږی.

١٣ نو بيا ما هسې خپل زړۀ پاک ساتلے دے،

او ځان مې هسې د ګناه نه بچ ساتلے دے.

١٤ زۀ به تړوله ورځ کړيدلم،

هر سحر به وهلے کيدلم.

١٥ کۀ چرې ما داسې وئيلے،

نو ما به ستا د بچو هم شيطانت کړے وو.

١٦ کله چې ما پرې د پوهيدو کوشش وکړو،

نو دا کار ما ته سخت ښکاره شو.

١٧ ترڅو چې زۀ د خُدائ پاک مقدس ځائ ته ورننوتم،

نو بيا زۀ د بدکارانو د اَنجام نه خبر شوم.

١٨ تا بېشکه چې هغوئ په ښوئيدونکې زمکه ودرولی دی،

هغوئ تا د بربادۍ کندې ته ښکته غورزولی دی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ ناګهانه به هغوئ برباد شی،

دوئ به په يره او وحشت کښې راګېر شی او په پوره طور سره به فنا شی،

۲۰ لکه څنګه چې خوک د خوب نه راپاڅی او خوب ليدل يې ختم شی.

نو هغوئ به هم ختم شی کله چې تهٔ مالِکه خُدايه راپاڅې.

۲۱ نو کله چې زما زړهٔ خفه وو،

او روح زما په ما کښې زخمی شوے وو.

۲۲ زهٔ خومره بېاحساسه او جټ جاهله وم،

زهٔ به تا ته د بېعقله ځناور په شان ښکاره کېدم.

۲۳ خو د هر څهٔ باوجود به بيا هم زهٔ د تل دپاره تا سره يم،

په خپله مې د ښی لاس نه راونيسه.

۲۴ د خپلې مشورې په ذريعه زما رهنمائی کوې،

نو آخر به هم ما خپل جلال ته راوغواړې.

۲۵ په آسمان کښې زما څوک دی بې له تا نه؟

د بل چا خواهش نهٔ لرم په زمکه غير ستا نه.

۲۶ کهٔ هر څومره زما زړهٔ او بدن کمزوری وی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو د تل دپاره به خُدائ زما د زړۀ زور او اُميد وی.

۲۷ څوک چې تا نه لرې دی هغوئ به تباه شی،

او هغوئ چې تا سره وفادار نۀ وی نو تباه به شی.

۲۸ خو زما دپاره به دا ښۀ وی چې زۀ خُدائ ته نزدې شم.

ما تۀ خپله پناه گاه جوړه کړې قادر مطلق مالِکه خُدايه،

زۀ به ستا ټول کارونه بيانوم.

## د حضرت آسف يو سرود

# ۷۴

۱ اے خُدايه پاکه، ولې، تا مونږ د تل دپاره رد کړی يُو څۀ؟

ولې ستا غصه به د خپلې رمې په گډو باندې وی څۀ؟

۲ هغه خلق راپه ياد کړه چې د پخوا نه تا په بيعه اخستی دی،

او د هغه قوم فديه دې ورکړې ده کوم چې ستا ميراث دے،

د صيون غر راپه ياد کړه کوم ځائ چې تۀ اوسيدلے يې.

۳ د هغوئ په دائمی کنډرو کښې خپل قدم کېږده،

ځکه چې دشمن ستا په عبادتخانه کښې هر څۀ تباه کړی دی.

۴ ستا په عبادتگاه کښې ستا دشمنانو چغې وهلې دی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دوئ هلته خپلې د فتحې جنډې لګولې دی.

۵ دوئ د هغه کسانو په شان ښکاری چا چې خپل تبرُونه اوچت کړی وی

چې په هغوئ د ونو نه غټې ونې راوغورزوی.

۶ هغوئ ستا د عبادتګاه ټولې د ګُلکارئ تختې په خپلو تبرُونو او ترښځو

سره ورانې کړې.

۷ ستا پاک ځائ ته يې اور واچولو او ختم يې کړو،

او ستا د نوم د اوسېدلو ځائ يې سپک او بې‌حرمته کړو.

۸ او هغوئ په خپلو زړونو کښې وائی چې، "مونږ به دوئ بلکل چخنی کړُو."

دوئ هغه ټول ځايونه وسوزول کوم ځائ به چې د خُدائ پاک عبادت کېدو.

۹ مونږ نۀ معجزه وليده او نۀ راسره پېغمبر پاتې شو،

او په مونږ کښې هيڅ څوک په دې نۀ پوهېدو چې دا حالت به کله ختم شی.

۱۰ اے پاکه خُدايه، ترڅو به دشمن ستا نوم پورې خندا کوی؟

او تل به هغه ستا د نوم بې‌حرمتی کوی؟

۱۱ تا ولې خپل زورَور ښے لاس استعمال نۀ کړو؟

نو خپل لاس او قدرت دې راخرګند کړه او دوئ برباد کړه.

۱۲ خو پاکه خُدايه د ازله تۀ يې بادشاه زما،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمکې له راوړے خلاصون دے تا.

۱۳ تا په خپل قدرت سره سمندر په مینځ جدا کړو،

د غټو بلاګانو سرونه دې په سمندر کښې مات کړل.

۱۴ تا د سمندری بلاګانو سرونه مات کړل،

او د صحراګانو په ځناورو دې د دوئ غوښې وخوړې.

۱۵ تا زمونږ دپاره چينې او نِهرونه پرانستل،

او تل بهېدونکی دریابونه دې وُچ کړل.

۱۶ ورځې دی کۀ شپې دی دواړه ستا دی،

نمر او سپوږمی تا په خپل ځائ مقرر کړی دی.

۱۷ تا په خپله د زمکې ټول سرحدونه مقرر کړل،

تا دواړه د ګرمۍ او يخنۍ موسمونه پیدا کړل.

۱۸ مالِکه خُدایه رایاد کړه چې دشمن به څنګه تا پورې ټوقې کولې،

او څنګه به کم عقلانو ستا د نوم ګستاخی کوله،

۱۹ د خپلې ګوګوشتکې ژوند ځناورو ته مۀ حواله کوه

او د خپلو مظلومانو ژوند د تل دپاره مۀ هېروه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٠ د خپل لوظ احترام کوه،

ځکه چې د زمکې ټول تيارهٔ ځايونه د ظلم نه ډک دی.

٢١ مظلومان مهٔ پرېږده چې دوباره شرمنده شی،

مسکينان او غريبانان دې ستا د نوم ثنا خوان شی،

٢٢ راپاځه، پاکه خُدايه، او د خپلې دعوې دفاع وکړه،

راپه ياد کړه چې څومره بېوقوفانو هر وخت ستا د نوم ګستاخی کوله،

٢٣ د خپلو مخالفو نعرې ياد ساته،

د خپلو دشمنانو شور چې هر وخت چغې وهی.

## د سرود مشر دپاره: د آسف يو زبور چې په ساز کښې وغږولے شو مهٔ تباه کوئ

## د خُدائ پاک عدالت کول

**٧٥** ١ مونږ پاکه خُدايه ستا شُکر کوُو،

مونږ شُکر کوُو چې ستا نوم نزدې دے،

او خلق ستا د عجيبه کارونو په حقله خبرې کوی.

٢ تا وفرمائيل چې، "مقرر شوے وخت زهٔ په خپله خپل ځان له خوښوم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا زۀ يم چې دغه رنګ د اِنصاف فېصلې کوم.

٣ کله چې دُنيا او هر ژوندے څيز هم په کښې لړزيږى،

خو دا زۀ يم چې د دې ستنې مې کلکې نيولې دى.

٤ مغرُورو ته وايمه چې لافې نۀ کوى،

او بدکارانو ته وايمه چې په خپل قدرت فخر نۀ کوى،

٥ خپل ښکرونه د آسمان خلاف مۀ اوچتوئ،

او په هسکه غړۍ خبرې مۀ کوئ.“

٦ هيڅ څوک د مشرق نه تر مغربه پورې نشته،

او نۀ په صحرا کښې څوک شته چې انسان اوچت کړى.

٧ خو دا خُدائ پاک دے څوک چې اِنصاف کوى،

او هغه يو لاندې کوى او بل اوچتوى.

٨ د مالِک خُدائ په لاس کښې پيالۍ ده،

چې د هغۀ د غضب د ترخو ميو نه ډکه ده،

هغه يې توئيوى چې د دُنيا ټول بدعمله خلق يې تر آخره پورې وڅښى.

٩ خو زۀ به يې تر ابده پورې ستايم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ به په سندرو کښې د يعقوب د خُدائ پاک ثناء صِفت کوم.

۱۰ مالِک خُدائ فرمائی چې زۀ به د ټولو شريرانو ښکرونه مات کړم،

خو د نېکانو ښکرونه به اوچت کړم.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د رباب د تارونو سره، د حضرت آسف يو زبور، يو حمد

# ۷۶

۱ خُدائ پاک په يهوداه کښې مشهور دے،

د هغۀ په بنی اِسرائيلو کښې لوئ نوم دے.

۲ د هغۀ خيمه په شاليم کښې ده،

او د هغۀ استوګنه په صيون کښې ده.

۳ هلته هغۀ د اور غشی مات کړل،

ډالونه او تُورې او وسله يې د جنګ مات کړل.

۴ تۀ نُور او جلال لرې،

د اوچتو غرونو نه زيات شان او شوکت لرې.

۵ د دشمنانو تکړه کسان هلته لوټ شول او په ابدی خوب اوده شول.

يو جنګيالی بيا هم خپل لاسونه اوچتولے نۀ شول.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ ستا په رڼلو، اے د يعقوب پاکه خُدايه،

آسونه او سورلی يې دواړه شول په خوب اودۀ.

۷ صرف ستا نه يريدل په کار دی،

کله چې تۀ په قهر يې څوک ستا په وړاندې ودريدے شی؟

۸ کله چې تا د آسمان نه د اِنصاف نعره وکړه.

نو زمکه ويريدله او خاموشه شوه

۹ اے پاکه خُدايه، کله چې تۀ د عدالت دپاره ودريږې،

چې د دُنيا ټول مظلومان بچ کړی.

۱۰ ځکه د انسانانو غصه ستا د ثناء سبب جوړيږی،

او د هغوئ د قهر نتيجه ستا د جلال باعث جوړيږی.

۱۱ مالِک خُدائ خپل خُدائ ته منښتې ومنئ او هغه بيا ورکړئ،

هغوئ ټول چې د هغۀ په خوا او شا کښې دی،

او د چا نه چې يريدل په کار دی هغۀ ته دې نذرونه ورکړی،

۱۲ هغه حاکمان عاجزان کوی،

او د زمکې بادشاهان د هغۀ نه يره کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۷۷

۱ ما د مدد دپاره خُدائ پاک ته ژړا وکړه،
ما ژړا وکړه خُدائ پاک ته چې زما واوره.
۲ کله چې ما باندې سخته وه مالِک خُدائ مې راياد کړے وو.
ټوله شپه مې خپل لاسونه د دُعا دپاره اوچت کړی وُو.
خو بيا هم زما زړۀ بےقراره وو.
۳ اے پاکه خُدايه، په دردونو کښې زۀ تا يادوم،
او روح مې مړاوے شو او زۀ په فکر کښې ډوب شوم.
۴ ستا نه ټوله شپه سترګې پټولے نۀ شم،
زۀ د ډيرې پريشانۍ نه خبرې کولے نۀ شم.
۵ ما په تير شوو ورځو سوچ کولو،
په تير شوو کالونو باندې مې سوچ کولو.
۶ ما ټوله شپه خپل سرودونه يادول،
په سوچونو کښې ډوب شوے وم او سوالونه راته پيدا شول،
۷ ”ولې مالِک خُدائ به د تل دپاره ما شړی څۀ؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولې هغه به بيا خپله مِهربانى ما ته نۀ ښائى څۀ؟

٨ ولې د هغۀ نۀ ختمېدونکې مينه د تل دپاره ختمه شوه څۀ؟

ولې د هغۀ وعده د تل دپاره ناکامیابه شوه څۀ؟

٩ ولې خُدائ پاک مهربانى هېره کړې ده څۀ؟

ولې په غصه کښې هغۀ خپل رحم واپس کړے دے څۀ؟“

١٠ نو بيا ما خپل ځان سره ووئيل چې، ”زۀ څومره دردمند يم،

چې د خُدائ تعالىٰ ښے لاس نور ما سره نۀ دے.“

١١ زۀ به د مالِک خُدائ کارونه راپه ياد کړم.

زۀ به ستا پخوانى معجزې رايادې کړم،

١٢ زۀ به ستا په ټولو کارونو سوچ وکړم،

او ستا په ټولو کارونو به فکر وکړم،

١٣ اے پاکه خُدايه، ستا لارې او طريقې مقدسې دى،

داسې کوم يو خُدائ دے چې زمونږ خُدائ پاک ته رسى؟

١۴ تۀ هغه خُدائ پاک يې چې معجزې کوى،

تۀ خپل قدرت د قومونو په مينځ کښې ښکاره کوې.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵ په خپلو تکړه لاسونو دې خپلو خلقو ته خلاصون ورکوې،

د یعقوب او د یوسف اولاد ته خلاصون ورکوې.

۱۶ اے پاکه خُدایه، کله چې اوبو تهٔ ولیدلې،

نو په اوبو باندې یرې نه لړزان راغلو،

او په ژورو اوبو باندې سخته یره راغله.

۱۷ وریځو بارانونه راوورول،

او په آسمان کښې د تندر آوازونه شول،

او ستا د بریښنا غشی په کښې پرقیدل.

۱۸ ستا د تندر آوازونه په طوفان کښې واورېدے شول،

ستا بریښنا ټوله دُنیا رڼا کړه،

زمکه په لړزان او رپېدو شوه.

۱۹ ستا لار د سمندر په مینځ کښې ده،

او په خطرناکو اوبو کښې ستا لاره ده،

کهٔ څهٔ هم چې د پښې نښه دې نهٔ ښکارېده.

۲۰ تا د خپلو خلقو رهنمائی لکه د رمو وکړه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هارون او د موسیٰ په لاس دې د هغوئ رهنمائی وکړه.

## د حضرت آسف یو نظم

# ۷۸

۱ اے زما خلقو زما تعلیم ته غوږ ونیسئ،

زما د خولې خبرو ته غوږ ونیسئ.

۲ زهٔ به خپله خولهٔ په مِثالونو پرانیزم،

زهٔ به زاړهٔ او پټ رازونه راښکاره کړم.

۳ مونږ چې څهٔ اورېدلی او پېژندلی دی،

او څهٔ چې زمونږ پلار نیکهٔ مونږ ته وئیلی دی،

۴ مونږ به دا د هغوئ د اولاد نه نهٔ پټوُو،

مونږ به دا راتلونکی نسل ته ووایو،

د مالِک خُدائ د جلالی کارونو او طاقت او معجزو بیان به وکړُو.

۵ هغهٔ خپل شریعت یعقوب ته ورکړو،

او خپل اصُول یې د بنی اِسرائیلو دپاره جوړ کړل.

او هغهٔ زمونږ پلار نیکهٔ ته حُکم وکړو،

چې خپلو ماشومانو ته دې تعلیم ورکړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٦ او په دې باندې به راتلونکے نسل پوهه شی،

او هم هغه ماشومان چې وروستو به پيدا شی،

او بيا به په خپل نمبر سره هغوئ هم خپلو ماشومانو ته ووائی.

٧ نو بيا به دوئ په خُدائ توکل وکړی،

او د هغهٔ کارونه به نهٔ هېروی،

خو د هغهٔ حُکمونه به منی.

٨ دوئ به د خپل پلار نيکهٔ په شان نهٔ وی،

او هغوئ به سرکشه او باغيان نهٔ وی،

د چا زړونه چې خُدائ پاک ته وفادار نهٔ وُو،

او د هغوئ احساس هم خُدائ پاک ته وفادار نهٔ وو.

٩ د اِفرائيم خلق سره د دې چې په غشو او ليندو سمبال وُو،

خو بيا هم ټول د جنګ په ورځ د ميدان نه وتښتېدل.

١٠ هغوئ د خُدائ پاک لوظ پوره نهٔ کړو،

هغوئ د هغهٔ شريعت رد کړو او عمل يې پرې ونهٔ کړو.

١١ هغوئ دا هېر کړل چې هغهٔ څهٔ کړی وُو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه عجیبه کارنامې کومې چې هغۀ ورته ښودلې وې.

۱۲ هغۀ د هغوئ د پلار نیکۀ په وړاندې معجزې وکړې،

د مِصر په خاوره او د ضُعن په زمکه یې وکړې.

۱۳ سمندر یې په مینځ دوه کړو هغوئ یې ترې نه تیر کړل،

او هغۀ اوبۀ د دیوال په شان ودرولې.

۱۴ په ورځ کښې به هغۀ د وریځ په ذریعه رهنمائی کوله،

او ټوله شپه به یې د اور په رڼا سره بوتلل.

۱۵ په بیابان کښې ورته ګټې وشلولو،

او هغوئ ته لکه د سیند غوندې ډیرې اوبۀ ورکړې.

۱۶ او هغۀ د ګټې نه نِهرونه روان کړل،

او اوبۀ ترې نه لکه د دریابونو روانې شوې.

۱۷ خو بیا هم هغوئ د خُدائ خلاف ګناه کوله،

او په صحرا کښې یې د خُدائ تعالیٰ خلاف سرکشی وکړه.

۱۸ دوئ قصداً د خُدائ پاک آزمیښت وکړو،

او د هغۀ نه یې د خوښې خوراک وغوښتو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ هغوئ د خُدائ پاک خلاف خبرې کولې،

”خُدائ پاک په بیابان کښې د خوراک بندوبست نۀ شی کولے؟

۲۰ کله چې هغۀ ګټ ووهلو نو اوبۀ ترې نه روانې شوې،

او ډیرې ولې ترې نه روانې شوې،

خو هغه مونږ له خوراک هم راکولے شی څۀ؟

هغه خپلو خلقو له غوښه ورکولے شی څۀ؟“

۲۱ ولې کله چې مالِک خُدائ د دوئ دا خبرې واورېدې نو ډېر زیات غصه شو،

او د یعقوب خلاف اور راوچت شو،

او د هغۀ غضب د بنی اِسرائیلو خلاف راوچت شو،

۲۲ ځکه چې په خُدائ پاک یې یقین نۀ کولو،

او د هغۀ په خلاصون یې هم باور نۀ کولو.

۲۳ خو هغۀ بره آسمانونو ته حُکم وکړو،

نو دروازې پرانستلے شوې د آسمانونو،

۲۴ او هغۀ د خوراک دپاره خلقو ته راولېږل من،

هغۀ هغوئ له خوراک ورکړو د آسمان.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۵ انسانانو د فرښتو خوراک وخوړو.

چې څومره يې خوړلے شو هغهٔ دوئ ته دومره راوليږلو.

۲۶ هغهٔ آسمانونو نه مشرقی هواګانې راوستلې،

او هغهٔ په خپل قُدرت سره جنوبی هواګانې راوستلې.

۲۷ هغهٔ په دوئ غوښه لکه د ګرد په شان راووروله،

او مارغان يې ورته لکه د سمندر د غاړې د شګو په شان راوليږل.

۲۸ دا مارغان يې د هغوئ د کيمپ مينځ ته راوستل،

او د هغوئ د خيمو په خوا کښې کښيناستل.

۲۹ دوئ ته يې دومره خوراک ورکړو چې د هغوئ نه سبوا هم شو،

څهٔ چې د دوئ د خوراک خواهش وو هغه هم دوئ ته ورکړے شو.

۳۰ دوئ لا ماړهٔ شوی نهٔ وُو،

خوراک يې لا په خولهٔ کښې وو،

۳۱ چې د خُدائ پاک قهر د دوئ خلاف راوچت شو.

او هغهٔ د دوئ نه تکړه خلق مړهٔ کړل،

او د بنی اِسرائيلو ځوانان يې هلاک کړل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ د دې هر څهٔ باوجود هغوئ بيا هم ګناه کوله،

او د معجزو سره يې بيا هم ايمان نهٔ ساتلو.

۳۳ نو د هغوئ ژوند بې‌اهميته تير شو،

عمر يې په يره يره تير شو.

۳۴ خو کله چې خُدائ پاک د هغوئ نه ځينې هلاک کړل،

نو آخر يې هم د خُدائ پاک لټون شروع کړو.

هغوئ توبه وويستله او د زړهٔ نه د خُدائ خواهشمند شول.

۳۵ نو دوئ ته ياد شُو چې خُدائ پاک د دوئ د پناه ګټ وو،

او دا چې خُدائ تعالىٰ د دوئ خلاصونکے وو.

۳۶ خو په خولهٔ يې د هغهٔ خوشامندى وکړله،

او په ژبه باندې يې هغهٔ ته دروغ ووئيل.

۳۷ او د دوئ زړونه هغهٔ ته وفادار نهٔ وُو،

او دوئ د هغهٔ د لوظ سره وفادار نهٔ وُو.

۳۸ خو هغه دوئ سره ډير مهربانه وو.

د هغوئ ګناهونه يې معاف کړل او هغوئ يې تباه نهٔ کړل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اکثر يې خپله غصه قابو کوله او خپل ټول قهر او غضب يې څرګند نۀ کړلو.

۳۹ هغۀ راياد کړل چې بنيادم خو د غوښې نه جوړ دے،

د هغې هوا په شان دے چې لګی او بيا نۀ واپس کيږی.

۴۰ څو وارې هغوئ په بيابان کښې د هغۀ خلاف بغاوت وکړو،

او هغه يې په بيابان کښې خفه کړو.

۴۱ او په بيا بيا يې په خُدائ پاک باندې آزميښت وکړو،

دوئ د اِسرائيلو مقدس ذات خفه کړو.

۴۲ دوئ ته د هغۀ قدرت ياد نۀ وو،

نۀ ورته دا ياد وُو چې په کومه ورځ هغۀ د ظالمانو نه خلاص کړی وُو.

۴۳ هغوئ هغه معجزې رايادې نۀ کړې کومې چې په مِصر کښې شوې وې،

او نۀ هغه عجيبه کارنامې چې په ضُعن کښې شوې وې.

۴۴ هغۀ د دوئ سيندونه په وينو بدل کړل،

دوئ د خپلو نِهرونو اوبۀ څښلے نۀ شوې.

۴۵ هغۀ دوئ پسې د مچانو لښکر راوليږلو چې دوئ تباه کړی،

او د چيندخانو عذاب چې دوئ ته تکليف ورکړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۴۶) هغۀ د دوئ فصلونه مُلخانو ته حواله کړل،

او د هغوئ غله دانه قحطی مُلخانو وخوړله.

(۴۷) هغۀ د دوئ د انګورو باغونه په ږلئ سره تباه کړل،

او د دوئ اینځران یې ټول ږلئ سره تباه کړل.

(۴۸) او هغۀ د دوئ څاروی ږلئ ته حواله کړل،

او د دوئ رَمې یې د برېښنا غشو ته حواله کړې.

(۴۹) هغۀ دوئ ته خپله سخته غصه وښودله،

او خپل غضب او قهر یې ورته وښودلو،

او د هلاکونکو فرښتو دسته یې راولېږله.

(۵۰) هغۀ خپلې غصې ته لار جوړه کړه،

او هغۀ دوئ د مرګ نه بچ نۀ کړل،

خو دوئ یې وبا ته په حواله کړل.

(۵۱) هغۀ د مِصریانو ټول مشران زامن مړۀ کړل،

د حام په خیمو کښې یې د هغوئ د نارینتوب وړومبۍ مېوه ختمه کړه.

(۵۲) خو هغۀ خپل خلق لکه د رمو په شان ترې نه بهر راوویستل،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د ګېډو په شان يې په بيابان کښې د هغوئ لارښودنه وکړه.

۵۳ چې دوئ ونهٔ يرېږى نو هغهٔ ورته پر امن لار وښودله،

خو سمندر د دوئ دشمنان غرق کړل.

۵۴ نو وروستو يې هغوئ د خپل مقدس مُلک سرحد ته راوستل،

هغه غرېزه مُلک ته چې هغهٔ په خپل قدرت سره قبضه کړو.

۵۵ د دوئ نه وړاندې هغهٔ د هغې مُلک نه خلق وشړل،

او په ميراث کښې د هغوئ زمکې دوئ ته حواله کړې

او هغهٔ د بنى اِسرائيلو ټولې قبيلې د دوئ په کورنو کښې سمبالې کړې.

۵۶ خو هغوئ په مالِک خُدائ باندې آزمېښت وکړلو،

او د خُدائ تعالىٰ خلاف يې سرکشى وکړه

او دوئ د هغهٔ د حُکمونو خيال ونهٔ ساتلو.

۵۷ هغوئ د خپل پلار نيکهٔ غوندې بې‌وفا او بې‌ايمانه وُو،

لکه د خرابې لينديې په شان نا باوره وُو.

۵۸ دوئ هغه په بُت‌خانو جوړولو باندې غصه کړلو،

او هغوئ د هغهٔ غيرت د دوئ د بُتانو په خلاف راوپارولو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۹ کله چې خُدائ پاک د دوئ نه خبر شو نو هغه ډېر په قهر شو،

او هغهٔ اِسرائیل په مکمل طور رد کړل.

۶۰ او هغهٔ د سیلا پاکه خېمه پرېښوده،

کومه خېمه چې هغهٔ د بنیادمو مینځ کښې لګولې وه.

۶۱ او هغهٔ خپل د لوظ صندوق نورو ته حواله کړو،

او خپل شان و شوکت يې دشمنانو ته حواله کړو.

۶۲ هغهٔ خپل خلق د تُورې خولې ته ورکړل،

او خپل منتخب شوی قوم ته هغه ډېر غصه وو.

۶۳ په اور يې د هغوئ ځوانان تباه کړل،

او پېغلو يې سندرې د وادهٔ وانهٔ ورېدلې.

۶۴ د دوئ اِمامان يې په تُوره ووژل،

او د دوئ کونډو ماتم ونهٔ کړو.

۶۵ مالِک راپاڅېدو لکه څنګه چې څوک د خوب نه راویښ شی،

لکه څنګه چې بنیادم د شرابو په نشه مست شی.

۶۶ هغهٔ خپل دشمنان په شا وتنبول،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه يې د تل دپاره په شرمونو وشرمول.

٦٧ هغهٔ د يوسف اولاد رد کړو،

او هغهٔ د اِفرائيم قبيله غوره نهٔ کړه.

٦٨ خو هغهٔ د يهوداه قبيله غوره کړه،

او د صيون غر چې زياته مينه يې ورسره وه.

٦٩ هغهٔ هلته خپل مقدس ځائ لکه د لوړو آسمانونو په شان جوړ کړو،

او لکه د هغه زمکې په شان چې د تل دپاره يې قائمه کړې ده.

٧٠ هغهٔ د خپل خِدمت دپاره داؤد منتخب کړو،

او هغه يې د ګډو د شپول نه راوچت کړو.

٧١ د ګډو د شپونتوب نه يې هغه راوستلو،

چې شپون شی د يعقوب د خپلو خلقو،

د خپل غوره شوی قوم اِسرائيلو شپونتوب يې پرې وکړلو.

٧٢ او داؤد په پوره زړهٔ سره د دوئ شپونتوب وکړو،

او په عقلمندۍ سره يې د هغوئ لاربشودنه وکړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت آسف يو زبور

٧٩ ① اے پاکه خُدايه غېر قومونو ستا مُلک قبضه کړے دے،

هغوئ ستا د مقدس کور بےحرمتي وکړه

او هغوئ يروشلم په کنډرو بدل کړے دے.

② هغوئ ستا د خادِمانو لاشونه د هوا مارغانو ته وغورزول،

او ستا د مقدسينو غوښې يې ځنګلی ځناورو ته واچولې.

③ هغوئ د دوئ وينه د يروشلم په کوڅو کښې لکه د اوبو توئ کړه،

او داسې څوک نشته چې د دوئ مړی ښخ کړی.

④ مونږ خپلو ګاونډيانو ته سپک ښکارو،

او ګېرچاپېره خلق مونږ پورې خاندی او بےعزتي مو کوی.

⑤ ترڅو پورې به مالِکه خُدايه؟ تهٔ مونږ ته ولې په قهر يې؟ د تل دپاره څهٔ؟

ترڅو پورې به ستا غېرت د اور په شان بليږی؟

⑥ خپل غضب دې په هغه قومونو نازل کړه چې تا نهٔ پېژنی،

هغه بادشاهتونو ته په قهر شه کوم چې دې نوم نهٔ اخلی،

⑦ ځکه چې هغوئ د يعقوب اولاد لواړ تير کړے دے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او مُلک يې ورله په کنډرو بدل کړے دے.

٨ مونږ د پلار نيکۀ په ګناه مۀ نيسه،

په مونږ دې ستا رحم زر تر زره راشى،

ځکه چې مونږ ډېر خوار و زار شوى يُو،

٩ زمونږ مدد وکړه، اے زمونږ خلاصونکى پاکه خُدايه،

چې ستا نوم جلال ومومى،

د خپل نوم په خاطر مونږ ته خلاصون راکړه او زمونږ ګناهونه معاف کړه.

١٠ غېر قومونه دې ولې داسې ووائى چې، ”د دوئ خُدائ پاک چرته دے؟“

زمونږ د سترګو په وړاندې دا قومونه پوهه کړه،

چې تا د خپلو خادِمانو د توئ شوې وينې انتقام واخستو.

١١ د قېديانو فرياد په خپله واوره،

په چا چې د مرګ فېصله شوې ده د خپل مټ په زور دې هغه بچ کړه.

١٢ اے مالِکه خُدايه، تۀ زمونږ ګاونډيانو له اووۀ چنده سزا ورکړه،

د هغه سپکوالى په وجه کوم چې دوئ تا پورې کړے دے،

١٣ نو بيا به مونږ ستا خلق ستا د شپول ګډې به ستا ثناء صِفت د تل دپاره وکړُو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او مونږ به ستا ثناء صِفت د یو نسل نه تر بل نسله پورې جارى ساتو.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د لوظ د نیلوفر د ګلونو د ساز سره، د حضرت آسف یو زبور

## د اِسرائیل د بحالۍ دپاره دُعا

**۸۰** ١ اے د بنی اِسرائیلو شپونکیه، زمونږ سوال زارى واوره،

تا چا چې د یوسف لکه د رمې هسې لارښودنه وکړه،

تهٔ چې اے خُدایه پاکه پاس په تخت د وزرو والا مخلوق مینځ کښې ناست یې خپل جلال راښکاره کړه

٢ د اِفرائیم، بنیامین او د منسی په وړاندې

خپل قدرت دې ځرګند کړه.

او زمونږ د خلاصون دپاره راشه.

٣ پاکه خُدایه، مونږ دوباره په خپل حال کړه،

د خپل مخ رڼا دې په مونږ وځلوه،

چې ترڅو مونږ خلاصون حاصل کړُو.

٤ اے مالِکه خُدایه، ربُ الافواج خُدایه ستا غضب به په خپل قوم تر کومې پورې وى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تهٔ به ترڅو پورې د خپلو خلقو دُعاګانې نهٔ اورې؟

٥ تا د غم په خوراک دوئ ماړهٔ کړل،

او د اوښکو ډک جام دې په دوئ باندې وڅښلو.

٦ تا مونږ د خپلو ګاونډيانو د خندا کړُو،

او زمونږ د دشمنانو دې مونږ د مسخرو کړُو.

٧ ربُ الافواج خُدايه، مونږ دوباره په خپل حال کړه،

د خپل مخ رڼا دې په مونږ وځلوه،

چې ترڅو مونږ خلاصون حاصل کړُو.

٨ تا خپل قوم لکه د انګور د بوټی په شان د مِصر نه راوړلو،

او غېر قومونه دې وشړل او د هغوئ په ځائ دې دوئ په خپل مُلک کښې
ولګول.

٩ تا د دې دپاره زمکه ښهٔ تياره کړه،

او جرړې يې وکړې او زمکه يې ډکه کړه.

١٠ ټول غرونه د دې په سورى کښې پټ شول،

او لوړ او قوى دِيار او هم د انګور څانګې په کښې پټې شوې.

١١ څانګې يې د سمندر پورې خورې شوې،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د فرات د سيند پورې يې څېلۍ خورې شوې.

۱۲ تا ولې ديوالونه ورله راوغورزول،

د دې دپاره چې څوک په لاره تېرېږي انګور ترې راشوکوي؟

۱۳ ځنګلي خنزيران دا تباه کوي،

او ځنګلي ځناور په کښې څرن کوي.

۱۴ اے ربُ الافواج خُدايه، مونږ ته راوګرځه،

د آسمان نه لاندې راوګوره،

او خپل د انګور بوټے دې وګوره،

۱۵ هغه جرړه چې ستا ښي لاس لګولې ده،

او هغه زوئ چې تا خپل ځان دپاره لوئ کړے دے.

۱۶ ستا د انګورو بوټے پرې کړے شوے دے، او اور ته غورزولے شوے دے.

او په خپل قهر دې دا خلق تباه کړه.

۱۷ ستا ښے لاس دې ستا په ښي طرف خلقو باندې وی،

د بنی آدم زوئ چې تا خپل ځان دپاره لوئ کړے دے.

۱۸ نو داسې به بيا مونږ کله هم تا نه وانۀ وړُو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږ ژوندی پرېږده چې ستا د نوم ثناء صِفت وکړُو.

۱۹ اے ربُ الافواج خُدایه، مونږ دوباره په خپل حال کړه،

د خپل مخ رڼا دې په مونږ وځلوه،

چې ترڅو مونږ خلاصون حاصل کړُو.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د ګتیت د ساز په مطابق، د حضرت آسف یو زبور

## سرکشه اِسرائيل ته د مالِک خُدائ عرض کول

۸۱ ۱ خُدائ پاک ته د خوشحالۍ حمدونه ووایئ څوک چې زمونږ زور دے،

د یعقوب پاک خُدائ ته سندرې ووایئ

۲ سازونه وغږوئ او تمبل ووهئ،

د رباب او سرینديِ سازونه وغږوئ.

۳ د نوې میاشتې په لیدو سره بیګل ووهئ،

او زمونږ د اختر د ورځې په راتلو سره کله چې سپوږمۍ پوره وی.

۴ دا د بنی اِسرائيلو دپاره اصُول دے،

او د یعقوب د خُدائ پاک قانون دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ هغهٔ د یوسف دپاره یو قانون جوړ کړو،

چې کله هغه د مِصر په خلاف راووتو.

چرته چې مونږ نا آشنا آواز واورېدلو چې پرې نهٔ پوهېدلو.

۶ هغه وائی چې، ”ما درله د اوږو نه بوج اخوا کړو،

ما ستا لاسونه د دروند بوج نه آزاد کړل.

۷ تاسو چې په سخته کښې نعرې وکړې نو ما تاسو بچ کړئ،

ما درله د تندر د وریځو نه جواب درکړو.

کله چې په مریبه کښې اوبهٔ نهٔ وې ما ستاسو ایمان وآزمائیلو.

۸ زما غوره شوو خلقو ما ته غوږ ونیسئ تاسو ته خبردارے درکوم،

کاش چې تاسو اے بنی اِسرائیلو، ما ته پام وکړئ.

۹ ستاسو په مینځ کښې دې غېر معبودان نهٔ وی.

تاسو چرې هم بل معبود ته سجده ونهٔ کړئ.

۱۰ زهٔ مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک یم،

چا چې تاسو د مِصر نه بهر راوویستئ.

خپلې خولې خلاصې کړئ نو زهٔ به تاسو له خوراک درکړم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ خو زما خلق به زما خبره نۀ اورى،

بنى اِسرائيل به زما تابعدارى نۀ کوى.

۱۲ نو ځکه ما هغوئ د دوئ د سخت زړۀ عملونو ته حواله کړل،

ترڅو چې د خپلو زړونو خواهشونه پوره کړى.

۱۳ کاش چې زما خلق ما ته غوږ ونيسى،

او کۀ چرې بنى اِسرائيل زما په نقش قدم لاړ شى،

۱۴ نو ژومره زر به بيا ما د دوئ دشمنان تباه کړى وے،

او د دوئ د دشمنانو خلاف به ما خپل لاس اوچت کړے وے.

۱۵ څوک چې مالِک خُدائ سره کينه لرى

د هغۀ په وړاندې به د يرې نه په ريږدو پربوځى،

د هغوئ سزا به د تل دپاره وى.

۱۶ خو تاسو ته به د ښو غنمو خوراک درکړم،

او تا به د صحرا په شاتو باندې موړ کړم.“

## د حضرت آسف يو زبور



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اِنصاف کولو دپاره دُعا

۸۲ ① خُدائ پاک په خپل آسماني دربار کښې ولاړ دے،

او د نورو معبودانو په مينځ کښې عدالت کوی،

② "ترڅو پورې به تاسو په بې‌اِنصافئ سره فيصلې کوئ،

ترڅو پورې به تاسو د بدکارو طرفدارے کوئ؟

③ د غريب او د يتيم د حق نه حفاظت وکړئ،

او د حاجتمندو او بې‌وسو د حق سره اِنصاف کوئ.

④ کمزوری او حاجتمند بچ کړئ،

او هغوئ د بدعملو د لاسونو نه خلاص کړئ."

⑤ ظالمانو ته هيڅ پته نشته او په هيڅ نۀ پوهيږی.

دوئ په تيارو کښې ګرځيږی،

د زمکې ټول بنيادونه خوځيدلی دی.

⑥ ما وئيل چې، "تاسو خو خُدايان يئ،

تاسو ټول د خُدائ تعالىٰ بچيان يئ.

⑦ خو تاسو به هم د فانی مخلوق په شان مړۀ شئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو به هم لکه د نورو بادشاهانو راګزار شئ.“

٨ پاکه خُدايه، راپاڅه، د دې زمکې عدالت وکړه،

ځکه چې ټول قومونه ستا ميراث دی.

## يو حمد، د حضرت آسف يو زبور

## د اِسرائيل د دشمنانو خلاف دُعا

٨٣ ١ پاکه خُدايه چپ مۀ پاتې کېږه،

پاکه خُدايه مۀ غلے کېږه مۀ چپ کېږه.

٢ وګوره ستا دشمنان راپارېدلی دی،

او څوک چې تا نه نفرت کوی سرکشئ سره راپاڅېدلی دی.

٣ ستا د قوم خلاف يې ارادې د چل نه ډکې دی،

تۀ چې چا سره مينه کوې د هغوئ خلاف منصوبې جوړوې.

٤ دوئ وائی، ”راځئ چې د يو قوم غوندې يې تباه کړُو،

چې د بنی اِسرائيلو نوم په دُنيا کښې نور پاتې نۀ شی.“

٥ په يو سوچ سره دوئ په شريکه منصوبې جوړوی،

دوئ ستا خلاف يو موټے شول او اِتحاد جوړوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ په هغوئ کښې دا قومونه شريک وُو ادوميان او اِسمٰعيليان،

موآب او هاجريان،

۷ جبل، عمون، عماليقيان،

ورسره، صور او فلستيان.

۸ تر دې چې اسوريان ورسره هم يو ځائ شوی دی،

او خپل طاقت يې د لوط اولاد سره رايوځائ کړے دے.

۹ کوم کار دې چې د ميديانيانو سره کړے وو د دوئ سره يې هم وکړه،

لکه څنګه چې تا د سِسيرا او د يابين سره د قيسون درياب په غاړه کړے

وو،

۱۰ څوک چې په عين دور کښې تباه شول،

او د دوئ د بدن نه د پټو ډيران جوړ شو.

۱۱ د هغوئ مشران د عوريب او زئيب په شان مړۀ کړه،

او شهزادګان يې لکه د ضلمنع او د زبيح په شان مړۀ کړه،

۱۲ دا په کښې چا ووئيل چې، ”راځئ

چې د خُدائ پاک د څرن ځايونه قبضه کړُو.“

۱۳ اے پاکه خُدايه زما، هغوئ لکه د خر بوټي په شان سپک کړه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او لکه د بوسو دوئ د باد په وړاندې والوځوه،

۱۴ لکه څنګه چې اور ځنګل سوزوی،

او لکه شُغلې چې غرونه لمبه کوی،

۱۵ نو په خپل زورَور باد سره دې هغوئ په مخه واخله،

او هغوئ په خپل طوفان سره ويروه.

۱۶ تهٔ هغوئ په شرمونو وشرموه،

نو مالِکه خُدايه، ترڅو چې خلق ستا د نوم لټون وکړی.

۱۷ هغوئ دې د تل دپاره وشرميږی چې ويريږی.

او هغوئ دې د شرم په حالت کښې مړهٔ شی.

۱۸ تهٔ هغوئ په دې پوهه کړه چې هغه هم تهٔ يې د چا نوم چې مالِک خُدائ دے،

او هم دا تهٔ يواځې په ټوله زمکه د ټولو نه اوچت خُدائ تعالیٰ يې.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د ګتيت ساز په انداز کښې، د قورح د زامنو يو زبور

**۸۴** ۱ ستا د اوسيدو ځائ څومره ښکلے دے،

اے مالِکه ربُ الافواجه خُدايه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ روح مې ليواله دے تر دې چې ناتوانه دے،

د دې دپاره چې زۀ د مالِک خُدائ دربار ته ننوځم.

زما زړۀ او زما ځان په چغه د ژوندى خُدائ ثناء صِفت کوى.

۳ چنچنې خو هم کور پيدا کړے دے،

طوطاګرکى خو هم خپل ځان دپاره جاله جوړه کړې ده،

ستا د قربانګاه سره نزدې چې خپل بچى په کښې لوئ کړى

اے مالِکه خُدايه، ربُ الافواجه زما بادشاه او زما پاکه خُدايه،

۴ بختور دى هغوئ څوک چې ستا کور کښې اوسيږى،

دوئ به مدام هلته ستا ثناء صِفت کوى.

۵ بختور دى هغوئ د چا طاقت چې په تا کښې دے،

چا چې خپل زړونه د يروشلم سفر پورې تړلى دى،

۶ کله چې دوئ د بکا وادۍ نه تېريږى،

دوئ ترې نه د چينو وادۍ جوړوى.

د منې بارانونه په کښې د اوبو تالابونه جوړوى.

۷ د دوئ طاقت به په سفر کولو سره نور هم زيات شى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تر دې چې په صیون کښې د خُدائ پاک په وړاندې ودرېږی.

٨ اے مالِکه ربُ الافواج خُدایه، سوال مې واوره،

اے د یعقوب پاکه خُدایه، ما ته غوږ شه.

٩ زمونږ پاکه خُدایه، زمونږ په ډال نظر ساته،

خپل غوره شوی ته په ښۀ نظر کاتۀ وکړه.

١٠ ستا په دربار کښې یوه ورځ بهتره ده

په تېرېدو د بل ځائ د زرو ورځو نه.

زۀ د خُدائ پاک په کور کښې دربان ښۀ یم

نه چې د شریرانو په خېمو کښې اوسېږم.

١١ خو مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک نمر او ډال دے.

ځکه چې مالِک خُدائ به مونږ ته خپل فضل او عزت راکړی،

هغه د هر هغه چا نه ښۀ څیزونه نۀ ایساروی

د کومو خلقو لارې چې بېداغه وی.

١٢ اے مالِکه خُدایه، ربُ الافواج خُدایه،

بختور دے هغه څوک چې په تا توکل کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موسیقۍ د مشر دپاره: د قورح د زامنو یو زبور

## د برکت دپاره دعا

۸۵ ① اے مالِکه خُدایه، تا خپل برکت په خپل مُلک باندې وکړو،
او تا دوباره د یعقوب خوش قسمتی بحال کړه.
② تا د خپلو خلقو خطاګانې معاف کړې،
تا د هغوئ په ټولو ګناهونه پرده واچوله.
③ تا خپله غصه په خپل ځان تیره کړه،
تا د خپل قهر لمبه په خپله باندې سره کړه.
④ اے مالِکه خُدایه، اے زمونږه خلاصوونکیه،
مونږه په خپل ځائ کړه خپل خفګان زمونږ نه لرې کړه،
⑤ تهٔ به ټول عُمر زمونږ نه خفه يې څهٔ؟
تهٔ خپل خفګان نسل در نسل ساتې څهٔ؟
⑥ ولې تهٔ به دوباره مونږه تازه نهٔ کړې څهٔ؟
چې ستا خلق په تا کښې خوشحالی وکړی.
⑦ اے مالِکه خُدایه، مونږ ته خپله ابدی مینه وښایه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مونږه له خپل خلاصون راکړه،

(۸) زۀ به مالِک خُدائ، خُدائ پاک ته غوږ ونیسم.

ځکه چې هغه به د خپل قوم، خپلو مقدسینو ته وکړی د خیر خبره.

خو دوئ دوباره خپل کم عقلتوب ته مۀ پرېږده.

(۹) بېشکه چې څوک د خُدائ نه یرېږی د هغۀ خلاصون هغۀ ته نزدې دے،

نو دغه شان به د هغۀ جلال زمونږ په خاوره کښې اوسیږی.

(۱۰) ابدی مینه او وفاداری به دواړه خپلو کښې ترغاړه شی،

سلامتی او صداقت به یو بل ښکُلوی.

(۱۱) وفاداری د زمکې نه راپورته کیږی،

صداقت بره د آسمان نه لاندې راګوری.

(۱۲) بېشکه مالِک خُدائ به ښۀ څیزونه مونږ له راکوی،

او زمونږ زمکه به ښۀ فصل پیدا کوی.

(۱۳) صداقت د هغۀ په وړاندې روان وی،

او د هغۀ د قدمونو دپاره لار تیاروی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد يوه دُعا

۸۶ ① اے مالِکه خُدايه، سوال مې واوره، او قبول يې کړه،

ځکه چې زۀ غريب او حاجتمند يم.

② زما ژوندون وساته ځکه چې ما خپل ځان تا ته پيش کړے دے،

هم تۀ زما خُدائ پاک يې خپل خِدمتګار دې بچ کړه چا چې په تا اعتماد کړے دے،

③ په ما رحم وکړه، اے مالِکه خُدايه،

ځکه چې زۀ ټوله ورځ تا ته زارى کوم،

④ خپل خِدمتګار ته دې خوشحالى ورکړه،

ځکه چې ما خپل ځان تا ته وقف کړے دے.

⑤ تۀ بخښونکے او ښۀ يې مالِکه خُدايه،

او څوک چې درنه سوال کوى تۀ د هغوئ سره نۀ ختمېدونکې مينه کوې.

⑥ زما دُعا واوره، اے مالِکه خُدايه،

د رحم دپاره زما ژړا واوره.

⑦ زما د تکليف په ورځ به زۀ تا ته آواز وکړم،

نو تۀ به جواب راکړې.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ اے مالِکه خُدایه، ستا نه بغیر بل خُدائ نشته،

ستا په شان کارونه څوک هم کولے نۀ شی.

٩ اے مالِکه خُدایه، ټول قومونه تا پېدا کړی دی،

دوئ به راشی او ستا په وړاندې به عبادت وکړی.

او دوئ به ستا نوم ته جلال ورکړی.

١٠ تۀ لوئ يې او ښائسته کارونه کوې.

يواځې هم تۀ خُدائ پاک يې.

١١ اے مالِکه خُدایه، ما ته خپله لار راوښایه،

نو زۀ به ستا په حقیقت کښې وګرځم،

مطمئن زړۀ ما له راکړه چې زۀ ستا عزت وکړم.

١٢ اے مالِکه، زما پاکه خُدایه،

په خپل ټول زړۀ سره به ستا ثناء ادا کړم،

زۀ به ستا نوم له د تل دپاره جلال ورکړم.

١٣ ځکه چې زما دپاره ستا مینه ډېره ده،

تا زۀ د قبر د کندې نه بچ کړم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ اے پاکه خُدايه، مغروران په ما حملې کوی،

د ظالمانو يوه ډله زما ژوند پسې ګرځی،

هغه خلق څوک چې ستا عزت نۀ کوی.

۱۵ خو تۀ، اے مالِکه خُدايه، رحيم او مهربانه يې.

په غصه کښې تېزی نۀ کوې او د ډېرې مينې او وفادارۍ نه کار اخلې.

۱۶ ما ته راوګرځه او په ما باندې رحم وکړه،

خپل خِدمت کوونکی له طاقت ورکړه،

د خپلې وينځې زوئ بچ کړه.

۱۷ ما ته نښه راوښايه ستا د ښۀوالی،

نو چې زما دشمنان دا وګوری نو ويه شرميږی،

ځکه چې اے مالِکه خُدايه، تا زما مدد وکړو،

او ما له دې تسلی راکړه.

## د قورح د زامنو يو زبور

## د يروشلم په صِفت کښې

# ۸۷

۱ هغۀ د ښار بنياد په مقدس غر باندې لګولے دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ د صيون د ښار سره مالِک خُدائ مينه کوى

د يعقوب د نورو ښارونو په نسبت ورسره زياته مينه کوى.

٣ ستا په حقله د جلال خبرې شوې دى،

اے د خُدائ پاک ښارې.

٤ څوک چې ما پېژنى زۀ به په هغوئ کښې مِصر او بابل وشمېرم.

فلستيه او صور او هم ايتهوپيا.

زۀ به دا وايم چې، "دا هم په صيون کښې پېدا شوى دى."

٥ خو د صيون په حقله به وئيلے شى،

"هر څوک چې په دې ښار کښې پېدا شوى وُو نو هغه به د دې ښار شمېرلے شى،

او خُدائ تعالىٰ به په خپله دې ښارې له برکت ورکړى."

٦ مالِک خُدائ به د قومونو په مردمشمارۍ کښې داسې وليکى،

چې، "دا دى هغه خلق چې صيون کښې پېدا شوى دى."

٧ نو خلق به شپېلۍ غږوى او سندرې به وائى،

چې، "صيون د ټولو برکتونو سرچشمه ده."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د محلت لعنوت په طرز کښې

88 ۱ اے مالِکه خُدايه، زما خلاصونکی پاکه خُدايه،

شپه او ورځ ستا په وړاندې ژړا کوم.

۲ زما دُعا دې تا ته دروروسيږی،

زما ژړا ته غوږ ونيسه.

۳ زما ځان د تکليفونو نه ډک دے،

زما ژوند مرګ ته نزدې شوے دے.

۴ خلق زما په حقله وائی چې پښې يې په قبر کښې دی.

او د يو بېوسه کس په شان شوے يم.

۵ زۀ په مړو کښې حِساب شوے يم،

زۀ لکه د مړو په شان شوے يمه چې په قبر کښې پراتۀ وی،

څوک چې به تۀ نور نۀ يادوې،

څوک چې ستا د نظر نه اخوا شوے وی.

۶ زۀ دې د قبر کندې ته غورزولے يم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تا زۀ تور تيارو ته غورزولے يم.

٧ ستا غضب په ما بار شوے دے،

او ستا ټولو چپو زۀ رالاندې کړے يم.

٨ تا زما دوستان ما نه لرې کړى دى،

زۀ دې د هغوئ دپاره کرکژن وګرځولم.

ګير يمه زۀ چرته تښتيدلے نۀ شم.

٩ زما د ډېره غمه نظر کم شولو.

هره ورځ تا ته زارى کوم مالِکه خُدايه،

او خپل لاس تا ته د دُعا دپاره اوچتوم.

١٠ تۀ د مړو دپاره معجزې کوې څۀ؟

څوک چې مړۀ دى دوئ پاڅېدے شى چې ستا ثناء صِفت وکړى څۀ؟

١١ ولې ستا د ابدى مينې بيان قبر کښې کېدے شى څۀ،

يا ستا د وفادارۍ بيان په قبر کښې کېدے شى څۀ؟

١٢ ولې په تيارۀ کښې ستا معجزې پيژندے شى څۀ،

يا د فنا په مُلک کښې ستا رښتينوالے څوک پيژندے شى څۀ؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ خو زهٔ مالِکه خُدایه د مدد دپاره تا ته ژړا کوم،

زهٔ به هر سحر تا ته سوال زاری کوم.

۱۴ ولې مالِکه خُدایه تا زهٔ رد کړے یم،

او ولې تهٔ خپل مخ ما نه اړوې څهٔ؟

۱۵ زهٔ د ځوانئ نه کړېدلے او مرګ ته رانزدې شوے یم.

ما ستا یره تیره کړله او پرېشانه شوے یم.

۱۶ ستا قهر په ما باندې راپرېوتے دے،

زهٔ ستا د یرې نه تباه شوے یم.

۱۷ ټوله ورځ لکه د سېلاب په شان رانه راتاو وی،

په پوره توګه هغهٔ زهٔ راګېر کړے یم.

۱۸ تا زما محبوب او دوستان رانه جدا کړی دی،

تورو تیارو سره مې یارانه شوه.

## د ازراحی ایتان یو سرود

**۸۹** ۱ زهٔ به د تل دپاره د مالِک خُدائ د ابدی مینې سندرې وایم،

او ستا د وفادارئ په حقله به وړو او زړو ته ووایم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ زۀ به دا بيان کوم چې، ”ستا ابدی مينه به د تل دپاره پاتې وی،

ستا وفاداری به د آسمان په شان قائمه وی.“

٣ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”ما د خپل غوره شوی خِدمتګار داؤد سره لوظ وکړو،

ما د خپل خِدمتګار داؤد سره دا قسم وکړو،

٤ زۀ به ستا بچی د تل دپاره بادشاهان مقرر کړم،

زۀ به ستا تخت نسل در نسل قائم ساتم.“

٥ ټول آسمانونه به ستا په لويو معجزو مالِکه خُدايه ثناء ووائی،

ستا د فرښتو جماعت به ستا وفاداری ستائی.

٦ په ټولو آسمانونو کښې داسې بل څوک نشته لکه د مالِک خُدائ په شان،

په آسمانی مخلوق کښې څوک داسې نشته لکه د مالِک خُدائ په شان.

٧ د فرښتو جماعت هم د خُدائ پاک نه يريږی،

او د هغۀ شان او شوکت هم د هغه چا نه زيات دے څوک چې ټول د هغۀ د تخت نه ګېرچاپېره راټول شوی دی.

٨ اے مالِکه خُدايه، ربُ الافواج خُدايه ستا نه هم څوک زورَور شته څۀ؟

تۀ په پوره ډول سره مالِکه خُدايه وفادار يې.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ تهٔ په غړمبېدونکو سمندرونو بادشاهی کوې،

او تهٔ د هغوئ چپې او موجونه آراموې.

۱۰ تا د سمندر بلا ووهله او هغه دې چخنې کړه،

تا خپل دشمنان په خپلو قوی متو سره خوارهٔ وارهٔ کړل.

۱۱ آسمانونه ستا دی او زمکه ستا ده.

دُنیا او په دې کښې هر يو څيز تا پيدا کړے دے.

۱۲ شمال دے کهٔ جنوب تا پيدا کړے دے.

تبور او حرمون په خوشحالئ سره ستا د نوم ثناء صِفت کوی.

۱۳ ستا لاس کښې زور دے،

ستا لاسونه قوی دی ستا ښے لاس لوئ دے.

۱۴ صداقت او عدالت ستا د تخت بنياد دے.

مينه او وفاداری ستا د وړاندې دی.

۱۵ بختور دی هغوئ څوک چې ستا د خوشحالئ آواز پېژنی او ستا ثناء صِفت کوی،

اے مالِکه خُدايه، څوک چې ستا د حضور په نُور کښې قدم اوچتوی.

۱۶ دوئ ټوله ورځ ستا په نوم خوشحالی کوی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا په صداقت فخر کوی.

۱۷ تهٔ په خپله د دوئ جلال او طاقت يې.

او تهٔ په خپلې رضامندئ سره مونږ ته طاقت راکوې.

۱۸ بېشکه مالِک خُدائ زمونږ ډال او ساتونکے دے،

د بنی اِسرائيلو مقدس ذات زمونږ بادشاه دے.

۱۹ يو ځل تا په رويا کښې خپلو وفادارو خلقو ته وفرمائيل او خبرې دې وکړې او ودې فرمائيل،

”ما يو جنګيالی ته طاقت ورکړو،

ما د خلقو نه يو ځوان سړے غوره کړو.

۲۰ ما خپل خِدمتګار داؤد پيدا کړو.

ما هغه په خپلو پاکو تېلو سره غوړ کړو.

۲۱ زهٔ به په خپل لاس د هغهٔ مدد کوم،

بېشکه چې زما لاس به هغهٔ ته طاقت ورکړی.

۲۲ د هغهٔ دشمن به هغهٔ ته شکست نهٔ شی ورکولے،

بدکاران به هغهٔ ته تکليف نهٔ شی رسولے.

۲۳ زهٔ به د هغهٔ دشمنان د دهٔ په مخکښې چخنی کړم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ به د هغۀ مخالفين سر د لاندې راګزار کړم.

۲۴ زما وفادارى او ابدى مينه به د هغۀ سره وى،

او زما د نوم په وسيله به د هغۀ مقام اوچت شى.

۲۵ زۀ به د هغۀ لاس تر سمندره پورې اوږد کړم،

زۀ به د هغۀ ښى لاس له په ټولو سيندونو اختيار ورکړم.

۲۶ هغه به ما ته آواز وکړى چې، "تۀ يې پلار زما،

تۀ زما خُدائ پاک او د خلاصون ګټ يې زما."

۲۷ زۀ به هم هغه خپل مشر زوئ مقرر کړم،

او هغه به په دُنيا کښې د ټولو بادشاهانو نه اوچت کړم.

۲۸ زۀ به تر ابده خپله مينه د هغۀ سره ساتم،

زۀ به خپل لوظ د هغۀ سره کله هم نۀ ختموم.

۲۹ زۀ به تر ابده د هغۀ نسل قائم ساتم،

ترڅو چې آسمانونه وى تر هغې به د هغۀ تخت ساتم.

۳۰ کۀ چرې د هغۀ نسل زما د شريعت نه سرکشى وکړى

او زما د حُکمونو په مطابق عمل ونۀ کړى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣١ کۀ چرې دوئ زما قانون مات کړی

زما د حُکمونو په ساتلو کښې ناکامه شی،

٣٢ نو زۀ به بيا د دوئ د ګناهونو په وجه دوئ ته په چوکې سره سزا ورکړم،

او د دوئ د ګناهونو په وجه به دوئ ته په کوړو سزا ورکړم.

٣٣ خو زۀ به خپله ابدی مينه د هغۀ سره ختمه نۀ کړم،

او نۀ به کله هم ورسره بېوفائی وکړم.

٣٤ زۀ به کله هم خپل لوظ مات نۀ کړم

او نۀ به کله هم د خپلې ژبې بيان نه واوړم.

٣٥ ما يو ځل د تل دپاره په خپل پاکوالی قسم کړے دے،

زۀ به داؤد ته دروغ نۀ وايم.

٣٦ د هغۀ د نسل سلسله به هيڅکله نۀ ختميږی.

زما په وړاندې به د هغۀ تخت لکه د نمر په شان قائم وی.

٣٧ دا به د سپوږمۍ په شان تر ابده قائم وی،

کومه چې به په آسمان کښې د وفا ګواهی ورکوی.“

٣٨ خو اوس تا خپل غوره شوی رد کړی او شړلی دی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خپل غوره شوی بادشاه ته ډېر په قهر شوے یې.

۳۹ تا د خپل خِدمتګار سره لوظ مات کړے دے،

او تاج دې ورته په خاورو کښې لاندې غورزولے دے.

۴۰ تا د هغهٔ ټول دېوالونه کنډر کړی دی،

او تا یې ټولې قلعه ګانې تباه کړی دی.

۴۱ خوشې لارَوو هغه تالا والا کړو،

او هغه د خپلو ګاونډیانو د خندا شولو.

۴۲ تا د هغهٔ د دشمنانو لاس په هغهٔ اوچت کړے دے،

تا په هغهٔ باندې ټول دشمنان خوشحاله کړی دی.

۴۳ هغهٔ له دې د تُورې خولهٔ پڅه کړې ده،

او په جنګ کښې دې د هغهٔ ملګرتیا کړې نهٔ ده.

۴۴ تا د هغهٔ شان او شوکت ختم کړے دے،

او د هغهٔ تخت دې زمکې ته غورزولے دے.

۴۵ تا د هغهٔ د ځوانۍ عُمر لنډ کړے دے،

تا هغه په شرمونو شرمولے دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۶ اے مالِکه خُدایه، تر کومې پورې به داسې وی؟

آیا ته به تر ابده خپل ځان پټوې؟

تر کومې پورې به خپل قهر او غضب لکه د اور بلوې؟

۴۷ رایاد کړه ته چې زما ژوند به څومره لنډ وی،

مونږ ټول مخلوق دې څومره فانی پیدا کړی یُو؟

۴۸ کوم انسان به د تل دپاره ژوندے وی چې مرګ به ونه ګوری،

او څنګه به خپل ځان د قبر د طاقت نه خلاصوی.

۴۹ مالِکه خُدایه ستا پخوانۍ لویه مینه څۀ شوه،

کوم چې تا په خپله وفادارۍ کښې د داؤد سره لوظ کړے وو؟

۵۰ راپه یاد کړه، مالِکه خُدایه چې ستا خِدمتګار څومره د خندا شوے وو،

او چې هغه د قومونو پیغورونه به ما څنګه په خپل زړۀ کښې برداشت کول،

۵۱ په کومو پیغورونو چې مالِکه خُدایه ستا دشمنانو ما پورې وخندل،

په کومو چې دوئ په هر قدم کښې ستا د مسح شوی پورې وخندل.

۵۲ ثناء صِفت دې تر ابده پورې د مالِک خُدائ وی.

آمین ثُمه آمین.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت موسیٰ دُعا

**۹۰** ① اے مالِکه او پاکه خُدایه، تهٔ همېشه زمونږ د اوسېدو ځائ يې،

نسل در نسله پورې يې.

② د دې نه مخکښې چې لا دې غرونه پېدا کړی نهٔ وُو او نهٔ دې لا زمکه او دُنيا پېدا کړې وه،

تهٔ خُدائ پاک يې د ازل نه تر ابده.

③ تهٔ بيا بنی آدم د خاورو سره خاورې کړې،

ورته ووائې چې، "اے فانی انسانه واپس خاورې شه."

④ ځکه ستا په نظر کښې زر کاله داسې دی

لکه يوه ورځ چې تېره شوې وی، او يا د شپې يو پار چې تير شوے وی.

⑤ تهٔ انسان د مرګ په خوب اودهٔ کوې.

او دوئ لکه د تازه ګیاه په شان په سحر کښې راټوکيږی،

⑥ په سحر کښې راټوکيږی او تازه وی،

په ماښام کښې مړاوی شی او اوچ شی.

⑦ ستا غصې مونږ ختم کړی یُو،

او مونږ ستا قهر وارخطا کړی یُو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ زمونږ ګناهونه دې په خپل مخکښې اېښی دی،

زمونږ پټې خطاګانې تا ته ښکاره دی.

٩ زمونږ ژوند ستا په قهر کښې تېر شو،

زمونږ ژوند په اهونو کښې ختم شو.

١٠ زمونږ د ژوند موده اویا کاله وی،

او کۀ مونږ طاقت ولرُو نو اتیا کاله به وی.

خو دا ټول په خفګان او تکلیفونو تېروو.

او دا زر تېرېږی او مونږ ترې نه فنا کیږُو.

١١ ستا د غصې زور چا ته معلوم دے؟

ځکه چې ستا غصه دومره لویه ده څومره چې ستا نه یره پکار ده.

١٢ تۀ مونږ د خپل ژوند د لنډوالی نه خبر کړه،

ترڅو چې مونږ په عقلمندۍ سره ژوند وکړُو.

١٣ اے مالِکه خُدایه، راشه، دا به ترڅو پورې وی؟

په خپل خِدمتګارانو باندې رحم وکړه.

١۴ مونږ دې په خپله ابدی مینه باندې په سحر کښې ماړۀ کړه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو چې مونږ د خوشحالئ سندرې ووايو او ټول عمر خوشحاله شُو.

١٥ څومره چې په مونږ سختــه وه مونږ ته دومره خوشحالی راکړه،

چې څومره عمر زمونږ په غم وو دومره خوشحالی راکړه.

١٦ ستا ټول کارونه دې ستا خِدمتګارانو ته ښکاره شی،

ستا جلال دې پاکه خُدايه د دوئ بچو ته ښکاره شی.

١٧ اے مالِکه خُدايه، پاکه خُدايه، ستا جلال دې په مونږ رانازل شی،

زمونږ د لاسونو کارونه مونږ ته مضبوط کړه او زمونږ د لاسونو کارونو له کاميابی ورکړه.

## مالِک خُدائ زمونږ پناه ګاه او ساتونکے دے

# ٩١

١ هغه څوک چې د خُدائ تعالیٰ په پناه کښې اوسيږی،

هغه به د قادر خُدائ د سورى لاندې په امان وی.

٢ زۀ به داسې وايم چې، "مالِک خُدائ زما پناه او هم زما قلعه ده،

هم هغه زما خُدائ پاک دے په چا چې توکل کوم."

٣ بېشکه هغه به تاسو د ښکاريانو د دامونو نه خلاص کړی

او هغه به تاسو د سختو بيماريانو نه بچ کړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ په خپلو بڼو به دې پټ کړی او ته به د هغهٔ د وزرونو لاندې پناه ومومې.

د هغهٔ وفاداری به دې ډال او ستا د حفاظت دېوال وی.

۵ ته به د شپې د دهشت نه نهٔ یرېږې،

او نهٔ به تهٔ د ورځې د غشی نه یرېږې،

۶ او نهٔ به د هغې وبا نه یرېږې چې په تیارهٔ کښې راځی،

او نهٔ به د هغې تباهئ نه چې په رڼا ورځ کښې راځی.

۷ زر کسان به دې په خوا کښې او لس زره به دې ښی لاس ته راوغورزیږی،

خو تا ته به څهٔ نقصان نهٔ رسیږی.

۸ کهٔ تهٔ صرف سترګې کولاو کړې،

نو ویه ګورې چې بدعملو ته څنګه سزا ورکولے شی.

۹ کهٔ چرې تهٔ قادر مطلق خُدائ خپل د پناه ځائ جوړ کړې،

او کهٔ تهٔ خُدائ تعالیٰ خپل د اوسېدو ځائ جوړ کړې،

۱۰ نو هیڅ قِسمه نقصان به تا ته ونهٔ رسیږی،

او هیڅ قسمه افت به ستا خېمې ته نهٔ رانزدې کیږی.

۱۱ ځکه چې هغه به ستا په حقله خپلو فرښتو له حُکم ورکړی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تهٔ چې چرته هم ځې دوئ به ستا حفاظت وکړی.

۱۲ هغوئ به دې په خپلو لاسونو کښې پورته کړی

هسې نه چې په کانړی تيندک وخوری.

۱۳ تهٔ به په ازمرى او مار باندې پښې ږدې،

تهٔ به ځوان زمرے او اژدها د پښو لاندې کړې.

۱۴ مالِک خُدائ فرمائى، ”ځکه چې دے ما سره مينه کوى زهٔ به يې بچ کړم،

هغه زما په نامه يقين لرى زهٔ به امان ورکړم.

۱۵ هغه به له ما نه سوال وکړى او زهٔ به هغه قبول کړم.

په سخته کښې به زهٔ د هغهٔ سره يم زهٔ به هغه بچ کړم،

او عزت به هغهٔ ته ورکړم.

۱۶ زهٔ به هغه په ډېر ژوند او عمر باندې موړ کړم،

او زهٔ به خپل خلاصون هغهٔ ته وښايم.“

## د سبت د ورځې د ثناء صِفت دپاره، يو زبور

# ۹۲

۱ دا ښهٔ خبره ده چې ستا ثناء صِفت وکړُو مالِکه خُدايه،

او په حمدونو کښې ستا د نوم ستائينه وکړُو خُدائ تعالىٰ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ هر سحر چې ستا ابدی مينه ياده کړُو،

او په شپه کښې ستا وفاداری ياده کړُو،

٣ د بينجو په لس تاريزه ساز کښې،

او د رباب په سازونو کښې.

٤ ځکه چې تا زهٔ په خپلو کارونو خوشحاله کړے يم.

ستا د لاسونو په کارونو زهٔ د خوشحالئ سندرې وايم.

٥ اے مالِکه خُدايه، ستا کارونه خومره لوئ دی،

او ستا سوچونه خومره ژور دی.

٦ بې‌احساسه خلق په دې نهٔ پوهيږی،

او کم عقل په دې نهٔ پوهيږی.

٧ بدکاران کهٔ څهٔ هم لکه د واښو هسې راټوکيږی،

او ټول بدکاران کهٔ اوچتيږی،

خو بيا هم دوئ به د تل دپاره تباه کيږی.

٨ خو تهٔ، اے مالِکه خُدايه،

اوچت يې تر ابده.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ په یقین سره ستا دشمنان به مالِکه خُدایه تباه شی،

او ټول بدکاران به تالا والا شی،

۱۰ لکه د ځنګلی غوَیی په شان تا زما ښکر اوچت کړے دے.

په ښهٔ تیلو باندې دې غوړ کړے یم.

۱۱ زما سترګو زما د دشمنانو شکست ولیدلو،

زما غوږونو زما د بدکارو دشمنانو وریتې چغې واورېدلې.

۱۲ صادقان به لکه د کجورې د ونې په شان ترقی کوی،

او دوئ به لکه د لبنان د دِیار غوندې لوئیږی.

۱۳ هغه چې د مالِک خُدائ په کور کښې کَرلے شوی وی،

دوئ به زمونږ د خُدائ پاک په دربار کښې غوړیږی.

۱۴ تر دې چې به په زوړ عمر کښې هم مېوه نیسی،

دوئ به هر وخت تازه او شنهٔ وی.

۱۵ نو داسې به دوئ دا ښکاره کړی چې مالِک خُدائ رښتینے دے،

هغه زما د پناه ګټ دے او په دهٔ کښې څهٔ بې اِنصافی نشته.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ بادشاهی

٩٣ ① مالِک خُدائ بادشاهی کوی او د عزت چُوغه يې اغوستې ده،

او د هغهٔ لاسونه زورَور دی مالِک خُدائ د شان او شوکت چُوغه اغوستې ده.

دُنيا نهٔ شی خوځېدے هغهٔ مضبوطه جوړه کړې ده.

② ستا تخت د پخوا نه قائم شوے دے،

او ستا ذات د ازل نه موجود دے.

③ اے مالِکه خُدايه، سمندرونه راپاځېدلی دی،

سيندونو شورونه جوړ کړی دی،

سيندونو خپلې ناترسې چپې راپورته کړی دی.

④ مالِک خُدائ د ډېرو اوبو د شور نه هم زورَور دے،

او د سمندر د موجونو نه هم زورَور دے.

بره مالِک خُدائ د دې ټولو نه زورَور دے.

⑤ ستا اصُول او قانون قائم دے.

او پاکوالے ستا د کور ښائست دے،

تر ابده پورې اے مالِکه خُدايه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مالِک خُدائ بدله اخلی

۹۴ ⑴ اے مالِکه خُدایه، بدله اخستونکی، پاکه خُدایه،

بدله اخستونکی پاکه خُدایه خپل جلال دې وخلوه.

⑵ اے د دُنیا منصفه، راپاڅه،

مغرورانو له د دوئ د عملونو په مطابق سزا ورکړه.

⑶ ترڅو به بدکاران، مالِکه خُدایه،

ترڅو به بدکاران خوشحالی کوی؟

⑷ هغوئ ټولې خبرې د کبر او د غرور کوی،

ټول بدکاران ډیرې لافې کوی.

⑸ اے مالِکه خُدایه، دوئ ستا خلق تباه کوی،

هغوئ ستا په میراث باندې ظلمونه کوی.

⑹ هغوئ مسافر او کونډې قتلوی،

هغوئ یتیمان وژنی.

⑺ دوئ وائی چې، "مالِک خُدائ دا نۀ ګوری،

او د یعقوب خُدائ پاک پام نۀ کوی."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ اے د قوم بېعقله خلقو ځان خبر کړئ،

اے ناپوهه خلقو تاسو به کله خپل ځان هوښياروئ؟

۹ هغۀ چې مونږ له يې غوږونه راکړل خپله اورېدے نۀ شی څۀ؟

هغۀ چې مونږ له يې سترګې راکړې نو په خپله ليدلے نۀ شی څۀ؟

۱۰ څوک چې قومونه سموی نو سزا نۀ شی ورکولے څۀ؟

څوک چې انسان ته پوهه ورکوی په خپله به ناپوهه وی څۀ؟

۱۱ مالِک خُدائ د انسان په سوچونو باندې پوهه دے،

چې دا ټوله تشه هوا او بېفائدې دے.

۱۲ بختور دے هغه څوک چې تۀ يې تنبيه کوې مالِکه خُدايه،

بختور دے هغه چا له چې تۀ د خپل قانون نه سبق ورکوې،

۱۳ تۀ هغۀ ته په سختو ورځو کښې آرام ورکوې،

ترڅو چې بدعملو له کنده کنستلے شی.

۱۴ مالِک خُدائ به خپل خلق نۀ رد کوی،

او هغه به خپل ميراث نۀ هېروی.

۱۵ يو ځل بيا به عدالت د صداقت په مطابق وشی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تول صادقان به يې پيروی کوی.

۱۶ څوک به ما سره د بدکارانو خلاف راپاڅی؟

او څوک به زما دپاره د بدعملو خلاف ودرېږی؟

۱۷ کهٔ مالِک خُدائ زما مددګار نهٔ وے،

نو اوس به زهٔ د مرګ په خاموشئ کښې اوسېدم.

۱۸ نو کله چې ما ووئيل چې، ”زما پښې ښوئيږی،“

نو ستا ابدی مينې زما مدد وکړو مالِکه خُدايه.

۱۹ کله چې زما د زړهٔ بې‌قراری ډېره زياته شوه،

نو ستا تسلئ زما روح ته خوشحالی راوړه.

۲۰ بې‌اِنصافه مشران تا سره ملګرتيا کولے شی،

چې د قانون په نوم لا قانونيت جوړوی؟

۲۱ هغوئ د صادقانو خلاف ډله جوړوی،

او بې‌ګناه خلق قاتل ګرځوی.

۲۲ خو مالِک خُدائ زما پناه ګاه ده،

او خُدائ پاک زما ګټ دے په چا کښې چې زهٔ پناه اخلم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۳ هغه به دوئ ته د دوئ د گناه په وجه سزا ورکړی.

او د دوئ د شرارت په وجه به يې تباه کړی،

مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک به يې ختم کړی.

## د خُدائ د حمد و ثناء سرود

# ۹۵

۱ راځئ، چې مالِک خُدائ ته حمد و ثناء ووايو،

راځئ چې د خوشحالۍ نعرې زمونږ د خلاصون گټ ته ووايو.

۲ راځئ چې په شُکر گزارۍ سره د هغهٔ حضور ته راشو،

او د هغهٔ د حمدوثناء سندرې ووايو.

۳ ځکه چې مالِک خُدائ لوئ خُدائ پاک دے،

هغه د ټولو معبودانو نه زورَور او لوئ بادشاه دے.

۴ د زمکې ژوروالے د هغهٔ په لاس کښې دے،

د غرونو ټولې څُوکې د هغهٔ دی.

۵ سمندرونه د هغهٔ دی ځکه چې هغهٔ جوړ کړی دی.

او د هغهٔ لاسونو اوچه زمکه پيدا کړې ده.

۶ راځئ، چې عبادت او سجده وکړُو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راځئ، چې د مالِک خُدائ او د خپل خالق په حضور کښې په سجده شُو.

٧ ځکه چې هغه زمونږ خُدائ پاک دے،

او مونږ د هغهٔ د سادين خلق يُو،

او د هغهٔ رمه يُو د چا چې هغه خيال ساتى.

کهٔ تاسو نن ورځ د هغهٔ آواز واورئ،

٨ نو خپل زړونه هغه شان مهٔ سختوئ لکه څنګه چې تاسو په مريبه کښې سخت کړى وُو،

او لکه څنګه چې تاسو د مسه په بيابان کښې سخت کړى وُو،

٩ چرته چې ستاسو پلار نيکونو زما جاچ او آزمېښت وکړو

د دې باوجود چې هغوئ هر څهٔ وليدل چې ما ورله څهٔ کړى وُو.

١٠ تر څلوېښتو کالو پورې هغه نسل ته غصه وم،

ما ووئيل چې، ”دا هغه خلق دى چې زړونه يې ما نه لرى شوى دى،

او دوئ زما لارې ونهٔ پېژندلې.“

١١ نو ما په خپله غصه کښې قسم وخوړلو چې،

”کله به هم هغوئ زما په آرام کښې داخل نهٔ شى.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خُدائ لوئی او جلال

# ۹۶

۱ مالِک خُدائ ته يوه نوې سندره ووايئ،

اے ټولې دُنيا مالِک خُدائ ته سرود ووايئ.

۲ مالِک خُدائ ته سرود ووايئ او د هغهٔ د نوم ثناء ووايئ،

او د هغهٔ خلاصون هره ورځ بيان کړئ.

۳ په قومونو کښې د هغهٔ د جلال اعلان وکړه،

د دُنيا په ټولو خلقو کښې د هغهٔ د حېرانونکی کارونو غږ وکړئ.

۴ ځکه چې مالِک خُدائ لوئ دے او د ثناء صِفت لائق دے،

د ټولو معبودانو نه د هغهٔ زياته يره په کار ده.

۵ ځکه چې د قومونو نور ټول معبودان تش بُتان دی،

خو مالِک خُدائ آسمانونه جوړ کړی دی.

۶ شان او شوکت د هغهٔ سره ښائی،

طاقت او جلال د هغهٔ په مقدس کور کښې دے.

۷ اے د ټولو قومونو کورَنو، د مالِک خُدائ ثناء او صِفت وکړئ،

د مالِک خُدائ لوئی او طاقت بيان کړئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٨ د مالِک خُدائ هغه لوئی بیان کړئ کومه چې د هغهٔ نوم سره ښائی،
د هغهٔ دربار ته راشئ او یوه نذرانه راوړئ.
٩ د مالِک خُدائ په خپل قدوسیت او شان شوکت کښې عبادت وکړئ،
اے ټولې دُنیا د هغهٔ د حضور په وړاندې ولړزیږه.
١٠ په ټولو قومونو کښې دا ووايئ چې، "مالِک خُدائ بادشاهی کوی.
د دُنیا بنیادونه یې مضبوط کړی دی دا به نهٔ خوځیږی.
او په اِنصاف سره به د خلقو فیصلې وکړی."
١١ پربږدئ چې آسمانونه خوشحاله شی او زمکه خوشحالی وکړی،
سمندر او چې هغې کښې هر څهٔ دی هغوئ دې خوشحالی وکړی.
١٢ پټی دې هم خوشحالی وکړی او څهٔ چې په هغې کښې دی،
نو د ځنګل ټولې ونې به د خوشحالۍ سندرې ووائی،
١٣ دوئ به د مالِک خُدائ په وړاندې سندرې ووائی ځکه چې هغه راروان دے،
هغه د دُنیا د عدالت دپاره راځی،
هغه به په صداقت سره د دُنیا عدالت وکړی،
او د خلقو عدالت به په خپل اِنصاف سره وکړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خُدائ پاک لوئی او قدرت

۹۷ ① مالِک خُدائ بادشاه دے ټوله دُنیا دې خوشحالی وکړی،

او ټولې لرې جزیرې دې خوشحالی وکړی.

② او درنې وریځې او تیارې ترې نه راتاوې دی،

اِنصاف او صداقت دواړه د هغهٔ د تخت بنیادونه دی.

③ د هغهٔ نه وړاندې اور روان وی،

په هر اړخ د هغهٔ دشمنان سوزوی.

④ د هغهٔ برېښنا ټوله دُنیا رڼا کوی،

زمکه چې دا ګوری نو په لړزان وی.

⑤ د مالِک خُدائ په وړاندې غرونه لکه موم داسې ویلی کیږی،

د ټولې دُنیا د مالِک خُدائ په مخکښې داسې کیږی.

⑥ آسمانونه د هغهٔ صداقت بیانوی،

او ټول قومونه د هغهٔ جلال وینی.

⑦ هر هغه څوک چې د بُتانو عبادت کوی په شرم به وشرمیږی،

هغوئ هم څوک چې په بېکاره بُتانو نازیږی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اے ټولو معبودانو هغۀ ته سجده وکړئ.

۸ د صيون ښار دا اورى او خوشحاليږى او د يهوداه کلى خوشحاله دى،

ځکه ستا د عدالت په وجه مالِکه خُدايه دوئ خوشحاله دى.

۹ ځکه تۀ، اے مالِکه خُدايه، په ټوله زمکه باندې د ټولو نه اوچت يې،

او تۀ په ټولو معبودانو کښې د ټولو نه ښۀ او اوچت يې.

۱۰ څوک چې د مالِک خُدائ سره مينه کوى نو هغوئ دې د بدئ نه نفرت کوى،

هغه د خپلو مقدسينو حفاظت کوى،

او هغه يې د بدعملو نه بچ کوى.

۱۱ نُور په صادقانو وځليدلو،

او خوشحالى شوه په هغوئ د چا زړونه چې صفا وُو.

۱۲ په مالِک خُدائ کښې خوشحالى وکړئ تاسو څوک چې صادقان يئ،

او د هغۀ د مقدس نوم ثناء ووايئ.

## د حضرت داؤد يو زبور

# ۹۸

۱ سرود ووايئ مالِک خُدائ ته نوے سرود ووايئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې هغهٔ عجيبه او ښکلی کارونه کړی دی،

د هغهٔ ښی لاس او د هغهٔ مقدس مټ د هغهٔ دپاره د خلاصون کارونه کړی دی.

۲ مالِک خُدائ خپل خلاصون خلقو ته ښودلے دے،

او خپل صداقت يې په قومونو ښکاره کړے دے.

۳ هغهٔ خپله مينه او وفاداری چې د بنی اِسرائيلو سره يې کړې وه راپه ياد کړله،

زمونږ د خُدائ پاک خلاصون ټولو د زمکې تر آخره پورې وليدو.

۴ اے د زمکې ټولو خلقو، مالِک خُدائ ته خوشحالی وکړئ،

د خوشحالۍ په آوازونو او ساز سره ورته سندرې ووايئ،

۵ مالِک خُدائ ته د رباب ساز وغږوئ،

او د رباب د ساز سره ورته سرودونه ووايئ،

۶ د بيګل او د ګډورۍ د ښکر په آوازونو،

زمونږ د بادشاه مالِک خُدائ په حضور کښې د خوشحالۍ نعرې ووهئ،

۷ سمندر او هر څهٔ چې په کښې دی ټول دې چغې او نعرې ووهی،

ټوله دُنيا او هر څهٔ چې په کښې اوسيږی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ سیندونه دې لاسونه وپړقوی،

ټول غرونه دې یو ځائ د خوشحالئ سندرې ووائی،

۹ ټول دې د مالِک خُدائ په حضور کښې سندرې ووائی،

ځکه چې هغه د دُنیا عدالت دپاره راځی،

هغه به په صداقت سره د دُنیا عدالت وکړی،

او د ټولو خلقو به یو شان عدالت وکړی.

## مالِک خُدائ لوئ بادشاه دے

**۹۹** ۱ مالِک خُدائ بادشاه دے،

د دُنیا قومونه دې په لړزان شی.

هغه چې د وزرو والا مخلوق په مینځ کښې په تخت ناست دے،

نو زمکه دې په لړزېدو شی.

۲ مالِک خُدائ د صیون په ښار کښې عظیم دے،

او هغه په ټولو قومونو باندې لوئ او اوچت دے.

۳ هغوئ دې ستا د لوئ او هیبتناک نوم ثناء صِفت وکړی،

ځکه چې ستا نوم پاک دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ او هغه قادر بادشاه دے خوک چې د اِنصاف او صداقت سره مينه کوی.

تا په خپله اِنصاف قائم کړے دے،

تا د يعقوب سره هغه کار کړے دے

څۀ چې د اِنصاف او صداقت دے.

۵ مالِک خُدائ، زمونږ د خُدائ پاک ثناء صِفت وکړئ،

او د هغۀ د تخت د وړاندې عبادت وکړئ،

ځکه چې هغه مقدس دے.

۶ موسیٰ او هارون د هغۀ اِمامان وُو،

سموئيل هم د دوئ سره شامل وو چې د مالِک خُدائ نوم به يې يادولو.

هغوئ مالِک خُدائ ته سوال وکړو،

او هغۀ يې سوال قبول کړو.

۷ هغۀ دوئ سره د وريځې د ستنې نه خبرې وکړې،

هغوئ هغه ټول حُکمونه او قانون منلو کوم چې دوئ ته ورکړے شوی وُو.

۸ اے مالِکه خُدايه زمونږ پاکه خُدايه،

د هغوئ سوال تا قبول کړو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تهٔ د بنی اِسرائیلو بخښونکے خُدائ پاک يې،

کهٔ څهٔ هم تا د هغوئ بدو عملونو ته سزا ورکړله.

٩ د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک لوئی بیان کړئ،

په مقدس غر باندې د هغهٔ عبادت وکړئ،

ځکه چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مقدس دے.

## د شُکر ګزارۍ زبور

# ١٠٠

١ اے د دُنیا خلقو، د خوشحالۍ نعرې مالِک خُدائ ته ووهئ،

٢ او د خوشحالۍ سره د مالِک خُدائ عبادت وکړئ،

او د خوشحالۍ په سندرو سره د هغهٔ په وړاندې حاضر شئ.

٣ ځان پوهه کړئ چې هم مالِک خُدائ خُدائ پاک دے،

او هم هغهٔ مونږ پیدا کړی يُو او مونږ د هغهٔ يُو،

مونږ د هغهٔ خلق او د هغهٔ د څرند د ځائ ګډې يُو.

٤ د هغهٔ در ته د شُکر ګزارۍ سره ورننوځئ،

او د هغهٔ دربار ته د ثناء صِفت کولو سره ورننوځئ،

د هغهٔ شُکر ګزاری وکړئ او د هغهٔ د نوم ثناء صِفت وکړئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ مالِک خُدائ مهربانه دے او د هغۀ مينه د تل دپاره وی،

او د هغۀ وفاداری به تر نسلونو پورې جاری وی.

## د حضرت داؤد يو زبور

## د بادشاه وعدې

# ۱۰۱

۱ زۀ به ستا د مينې او اِنصاف سرود ووايم،

او زۀ به تا ته مالِک خُدايه د ثناء سرود ووايم.

۲ زۀ به احتياط کوم چې بېداغه ژوند تېر کړم،

خو تۀ به زما د مدد دپاره کله راځې؟

او زۀ به په خپل کور کښې په صفا زړۀ ژوند تېروم.

۳ کوم څيزونه چې فاسد وی زۀ به ورته نۀ ګورم.

د بې‌ايمانانو د کارونو نه به نفرت کوم،

او زۀ به د هغوئ سره کار نۀ ساتم.

۴ او د چا چې وی زړونه کاږۀ ما نه به لرې وی،

او زۀ به د بدئ سره هيڅ کار نۀ ساتم.

۵ څوک چې پټ کوی د خپلو ګاونډيانو غيبتونه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ به هغه چپ کوم.

د چا چې سترګې کبرژنې او مغروره وی،

هغه سړے به زۀ نۀ برداشت کوم.

۶ زما سترګې به په دُنيا کښې د ايماندارو په لټون شی،

چې هغوئ ما سره اوسيږی.

د چا کردار چې بېداغه وی

نو هغوئ به زما خِدمت کوی.

۷ زما په کور کښې به دوکه مار ته د اوسېدو اجازت نۀ وی،

او دروغژن به زما په حضور کښې ودرېدلے نۀ شی.

۸ هر سحر به زۀ هغه بدکاره چې په مُلک کښې مې اوسيږی تباه کوم،

زۀ به هر بدعمله د مالِک خُدائ د ښار نه ورک کړم.

## د يو مظلوم سړی دُعا، کله چې هغه په تکليف کښې وی او د مالِک خُدائ په وړاندې خپل فرياد مخکښې کوی

# ۱۰۲

۱ اے مالِکه خُدايه، سوال قبول کړه زما،

تا ته دې سوال زاری دروړسيږی زما.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ خپل مخ دې رانه مۀ اړوه کله چې په سخته کښې يم.

ما ته غوږ شه کله چې تا نه سوال وکړم او زر مې قبلوه سوالونه.

٣ زما ژوند د لوګی په شان فنا کيږی،

زما هډُوکی لکه د سکروټو په شان بليږی.

٤ زړۀ مې بيمار او د واښو په شانې اوچ شو،

ما نه خپله روټۍ خوړل هېر شو.

٥ زما په زوره زبيرګو په وجه،

تش هډُوکی او تشه څرمن پاتې شوم.

٦ د صحرا د ګونګی په شان يم،

زۀ لکه د ګونګی چې په تباه شوو کنډرو کښې اوسيږم.

٧ ويښ پروت يم او زۀ د هغه مارغۀ په شان شوم،

چې ځان له پاس په چت باندې اوسيږی.

٨ ټوله ورځ دشمنان ما ته پېغور راکوی،

هغوئ ما دومره سپکوی

چې په لعنت وئيلو کښې زما نوم استعمالوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩ ځکه د روټۍ په ځائ ایرې زما خوراک شولې،

او د اوښو سره مې خپلې اوښکې ګډې شولې.

١٠ ستا د قهر او لوئ غضب په وجه،

نو زۀ دې اوچت کړمه او یو خوا ته دې وغورزولم.

١١ زما عمر لکه د ماښام د سورى په شان تير شو،

لکه د واښو په شان اوچ شوم.

١٢ خو تۀ، اے مالِکه خُدایه، تر ابده به په تخت ناست یې،

ستا د نوم پېژندګلو به تر نسلونو پورې وى.

١٣ تۀ به راپاڅې او په صیون ښار به رحم وکړې،

او هغه وخت رارسېدلے دے چې خپل احسان دې ورته ښکاره کړې،

او مقرر شوے وخت رارسېدلے دے.

١٤ د هغې کاڼى ستا په خِدمتګارانو ګران دى،

او د هغې په یوې ذرې خاورې هم رحم کوى.

١٥ قومونه به د مالِک خُدائ د نوم نه یریږى،

او د دُنیا ټول بادشاهان به ستا د جلال او عظمت نه یریږى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ خو مالِک خُدائ به دوباره د صیون ښار آباد کړی،

او بیا به په خپل جلال کښې ځان څرګند کړې.

۱۷ هغه به د مسکینانو دُعا قبوله کړی،

او هغه به د دوئ سوال ته سپک نظر نۀ کړی.

۱۸ د راتلونکو نسلونو دپاره دې دا ولیکلے شی،

کوم خلق چې لا پیدا شوی نۀ دی د مالِک خُدائ ثناء دې ووائی.

۱۹ مالِک خُدائ د خپل بره مقدس مقام نه لاندې وکتل،

بره آسمان نه هغۀ زمکې ته نظر وکړو،

۲۰ چې د قېدیانو زبیرګی واوری،

په چا چې حُکم د مرګ شوے دے هغوئ د مرګ نه آزاد کړی.

۲۱ نو د مالِک خُدائ د نوم به په صیون کښې اعلان وشی،

او په یروشلم کښې به د هغۀ ثناء صِفت وشی.

۲۲ کله چې قومونه او بادشاهتونه راجمع شی،

او د مالِک خُدائ عبادت وکړی.

۲۳ زما طاقت یې په نیمه لار کښې ختم کړو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغهٔ زما ژوند لنډ کړو.

۲۴ نو ما ووئيل، ”زما پاکه خُدايه، زما ژوند زما نه په ځوانۍ کښې مهٔ اخله،

تهٔ خو به همېشه همېشه پورې ژوندے يې.“

۲۵ په شروع کښې تا د زمکې بنيادونه کېښودل،

آسمانونه ستا د لاس کارونه دی.

۲۶ دا هر څهٔ به ټول ختم شی خو تهٔ به قائم پاتې شې،

دا هر څهٔ به لکه د جامو په شان زاړهٔ شی،

تهٔ به يې لکه د جامو په شان بدلې کړې،

او دا هر څهٔ به فنا شی.

۲۷ خو بس تهٔ به په يو حال پاتې شې،

او ستا کالونه به هيڅکله ختم نهٔ شی.

۲۸ ستا د خِدمتګارو بچی به ستا په حضور کښې اوسيږی،

او د هغوئ اولاد به ستا په حضور کښې قائم دائم وی.

## د حضرت داؤد يو زبور

# ۱۰۳

۱ اے زما روحه، د مالِک خُدائ ثناء ووايه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اے زما ټول ځانه، د مالِک خُدائ د مقدس نوم ثناء ووايه.

٢ اے زما روحه، د مالِک خُدائ ثناء ووايه،

چې د هغهٔ ټول احسانونه هېر نهٔ کړې.

٣ څوک چې ستا ټول ګناهونه معاف کوى،

او چې ستا ټول مرضونه جوړوى،

٤ څوک چې ستا ژوند د مرګ نه په بيعه اخلى،

او خپل د مينې او رحم تاج ستا په سر ږدى،

٥ او څوک چې په ښهٔ څيزونو ستا ارمانونه پوره کوى،

نو چې د باز په شان ستا ځوانى تازه شى.

٦ مالِک خُدائ خپل صداقت سر ته رسوى،

او د ټولو مظلومانو سره اِنصاف کوى.

٧ هغهٔ موسىٰ ته خپلې طريقې وښودلې،

خپل اعمال يې بنى اِسرائيلو ته ښکاره کړل.

٨ مالِک خُدائ رحيم او مهربان دے،

زر نهٔ په غصه کيږى او د هغهٔ مينه پائيداره ده.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ هغه به هر وخت نۀ ملامتوی،

او خپل قهر به تر ابده نۀ ساتی.

۱۰ هغه مونږ ته زمونږ د ګناهونو په اندازه سزا نۀ راکوی،

او نۀ زمونږ د ګناهونو په مطابق بدله راکوی.

۱۱ نو لکه څنګه چې آسمانونه د زمکې نه اوچت دی،

نو دومره د دۀ مینه د هغوئ دپاره لويه ده څوک چې د هغۀ نه يريږی.

۱۲ څومره چې مشرق د مغرب نه لرې دے،

نو دومره هغۀ زمونږ قصورونه مونږ نه لرې کړی دی.

۱۳ څومره چې پلار په خپلو بچو باندې مهربان وی،

نو دومره مالِک خُدائ په هغوئ مهربانه دے څوک چې د هغۀ نه يريږی.

۱۴ ځکه چې هغۀ ته پته ده چې مونږ څنګه جوړ شوی يُو،

هغۀ ته دا ياد دی چې مونږ خاورې يُو.

۱۵ د انسان ژوند د واښو په شان دے،

لکه د ميدان د ګل په شان غوړيږی.

۱۶ کله چې هوا ورباندې ولګيږی نو ختم شی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بیا په هغې ځائ کښې نۀ ښکاری.

۱۷ تر ابده ابده د مالِک خُدائ مینه د هغوئ سره وی څوک چې د هغۀ نه یرېږی،

او د هغۀ صداقت د هغوئ د نسلونو سره وی.

۱۸ او د هغوئ سره څوک چې د هغۀ د لوظ پابند وی،

او د هغوئ سره څوک چې د هغۀ په حُکمونو عمل کوی.

۱۹ مالِک خُدائ خپل تخت په آسمان کښې قائم کړے دے،

او د هغۀ بادشاهی په هر څۀ باندې قائمه ده.

۲۰ فرښتو د مالِک خُدائ ثناء صِفت ادا کړئ،

تاسو چې زورَورې یئ او د هغۀ په حُکمونو عمل کوئ،

او د هغۀ د کلام تابعداری کوئ.

۲۱ اے د فرښتو لښکرو، تاسو د مالِک خُدائ ثناء ووایئ،

اے د هغۀ خِدمتګارانو چې د هغۀ رضا پوره کوئ.

۲۲ اے د مالِک خُدائ ټولو مخلوقاتو

د هغۀ د بادشاهۍ په هر ځائ کښې د هغۀ ثناء صِفت وکړئ.

اے زما روحه د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۰۴

۱ اے زما روحه، د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړه.
اے مالِکه خُدايه، تهٔ ډېر لوئ يې زما پاکه خُدايه،
تا د شان او شوکت او لويئ جامې اچولې دی.
۲ هغهٔ خپل ځان نه نُور لکه د جامو راتاو کړے دے،
هغهٔ آسمانونه لکه د پړدې په شان غوړولې دی
۳ هغه د خپل پاس کور تيرونه د اوبو دپاسه ږدی.
هغه د وريځو نه جنگی گاډی جوړوی او د هوا په وزرو سوريږی.
۴ هوا د هغهٔ پېغام رسوونکی جوړيږی،
او د اور لمبې د هغهٔ خِدمتگارې دی.
۵ هغه زمکه په خپلو بنيادونو باندې مضبوطوی،
چې هيڅکله به نهٔ خوځيږی.
۶ تا زمکه په سېلاب باندې لکه د جامو پټه کړې ده،
او اوبهٔ د غرونو دپاسه ودرېدلې دی.
۷ ستا په رټنه اوبهٔ وتښتېدلې،
ستا د آواز په تندر سره وتښتېدلې.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ د غرونو نه ښکته وبهېدلې،

او لاندې درو ته لاړلې،

او هغه ځايونو ته چې کوم تا ورته مقرر کړی وُو.

۹ تا ورته حد مقرر کړو د هغې نه ورانډې نۀ ځی،

هيڅکله به بيا زمکه پټه نۀ کړی.

۱۰ تۀ په درو کښې د چينو نه اوبۀ راوباسې،

چې د غرونو په مينځ کښې بهيږی.

۱۱ او د بيابان ټول ځناور ترې نه اوبۀ څښی،

او ځنګلی خرونه وربانډې خپله تنده ماتوی.

۱۲ مارغان د روانو اوبو په خوا کښې جالې جوړوی،

او د ښاخونو په مينځ کښې سندرې وائی.

۱۳ او تۀ د خپل آسمانی کور نه غرونه اوبۀ کوې،

او ستا د کارونو د ميوو په وجه زمکه معموريږی.

۱۴ تۀ د څاروو دپاره ګياه شنه کوې،

او تۀ د بنيادمو دپاره شنۀ بوټی راټوکوې،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د زمکې نه خوراک پېدا کوې.

۱۵ تهٔ د بنيادم د خوشحالولو دپاره مے پېدا کوې،

او تهٔ تېل د هغهٔ د مخ د تازه والی دپاره پېدا کوې،

او تهٔ روټئ پېدا کوې کومه چې انسان ته طاقت ورکوی.

۱۶ د مالِک خُدائ ونې ښې سيرابه شوې،

د لبنان دِيار کوم چې هغهٔ کَرلی دی.

۱۷ هلته مارغان په کښې ځان له جالې جوړوی،

او هېنګان د چلغوزو ونو کښې اوسيږی.

۱۸ په لوړو غرونو کښې ځنګلی چېلئ اوسيږی،

په لويو ګړنګونو کښې د صحرا سوی اوسيږی.

۱۹ تا سپوږمئ د موسم د مقررولو دپاره جوړه کړه،

نمر په دې پوهيږی چې کله ښکته شی.

۲۰ تهٔ تيارهٔ راولې نو بيا شپه شی،

او ټول ځنګلی ځناور په کښې په ګشت شی.

۲۱ نو بيا ځوانان زمری په خپل ښکار پسې غړمبيږی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د خُدائ پاک نه خپل خوراک غواړی.

۲۲ خو چې کله د سحر نمر راښکاره شی،

نو بيا هغوئ په خپلو غارونو کښې اودۀ شی.

۲۳ نو بيا بنی آدم خپلو کارونو پسې ځی،

چې تر ماښامه خپله مزدوری وکړی.

۲۴ اے مالِکه خُدايه، تا د مختلفو ځناورو څومره قسمونه پيدا کړی دی،

ټول دې په عقلمندئ سره جوړ کړی دی،

زمکه ستا د مخلوق نه ډکه شوې ده.

۲۵ په دومره پراخه او لوئ سمندر کښې چې تا پيدا کړے دے.

چې د بې‌شميره مخلوق نه ډک دے،

چې غټ او واړۀ ژوندی ځيزونه په کښې دی.

۲۶ وګوره بيړئ په کښې ځی راځی،

سمندری بلاګانې تا جوړې کړې چې په کښې لوبې کوی.

۲۷ دا هر څۀ ستا نه طمع کوی

چې دوئ ته په خپل وخت سره خوراک ورکړې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۸ کله چې تهٔ دوئ ته ورکوې نو دوئ یې راغونډوی،

او چې خپل لاس کولاو کړې نو دوئ په ښهٔ څیزونو ماړهٔ شی.

۲۹ نو کله چې تهٔ د دوئ نه خپل مخ واړوې نو دوئ یریږی،

کله چې تهٔ د دوئ نه ساه واخلې نو دوئ مرهٔ او دوباره خاورې شی.

۳۰ کله چې تهٔ خپل روح راولیږې مخلوق راپیدا شی،

او تهٔ د زمکې مخ دوباره تازه کوې.

۳۱ د مالِک خُدائ جلال دې تر ابده قائم وی،

مالِک خُدائ دې په خپل کار خوشحاله وی.

۳۲ کله چې هغه زمکې ته وګوری نو په لړزان شی،

او چې غرونو له لاس وروړی نو په لوګی بدل شی.

۳۳ زهٔ به د مالِک خُدائ سندرې په خپل ټول ژوند کښې وایم،

ترڅو چې ژوندے یم د خُدائ پاک ثناء به وایم.

۳۴ زما خیالونه او سوچونه دې هغه خوشحاله کړی،

لکه چې زهٔ په مالِک خُدائ کښې خوشحالی کوم.

۳۵ خو ګناهګاران دې د زمکې نه فنا شی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او بدعمله دې نور پاتې نۀ شی.

د مالِک خُدائ ثناء ووايه اے زما روحه.

د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړه.

## مالِک خُدائ او د هغۀ غوره شوے قوم

**۱۰۵** ① د مالِک خُدائ شُکر گزاری وکړئ، او د هغۀ نوم واخلئ،

کوم کارونه چې هغۀ کړی دی قومونه ترې خبر کړئ.

② هغۀ ته سرود ووايئ او د هغۀ ثناء صِفت وکړئ،

او د هغۀ ټول عجيبه کارونه وستايئ.

③ تاسو د هغۀ په مقدس نوم فخر وکړئ،

او د چا زړونه چې د مالِک خُدائ لټون کوی هغوئ دې خوشحالی وکړی.

④ د مالِک خُدائ او د هغۀ د طاقت لټون وکړئ،

هر وخت د هغۀ د مخ د ليدو کوشش کوئ.

⑤ کوم عجيبه کارونه چې هغۀ کړی دی هغه راپه ياد کړئ،

او د هغۀ معجزې او اِنصاف ياد ساتئ.

⑥ اے د هغۀ د خِدمتګار اِبراهيم بچو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ د غوره شوی د یعقوب بچو.

٧ هغه رب زمونږ خُدائ پاک دے،

د هغهٔ عدالت په ټوله دُنیا کښې دے.

٨ هغه خپل لوظ تر ابده پورې یاد ساتی،

او هغه تر زر نسله پورې خپله وعده یاده ساتی،

٩ کوم لوظ چې هغهٔ د اِبراهیم سره کړے وو،

او هغه قسم چې دهٔ د اِسحاق سره کړے وو.

١٠ هغهٔ دا د یعقوب دپاره اصُول جوړ کړو،

او دا یې د بنی اِسرائیلو دپاره ابدی لوظ کړو.

١١ هغهٔ وفرمائیل، ”تاسو ته به زهٔ د کنعان مُلک درکړم،

لکه د خپل حق په شان به یې په میراث کښې درکړم.“

١٢ په کوم وخت کښې چې په شمار کښې دوئ ډېر کم وُو،

او په حقیقت کښې هغوئ لږ او مسافر وُو.

١٣ دوئ به د یو قوم نه بل قوم ته سرګردانه ګرځېدل،

او د یو بادشاهت نه به بل بادشاهت ته سرګردانه تلل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ ځوک يې هم نۀ پرېښودل چې په دوئ ظلم وکړی،
تر دې چې د دوئ دپاره به يې بادشاهان رټل.
۱۵ هغه فرمائی، ”زما غوره شوو خلقو ته څۀ ونۀ وايئ،
او نۀ زما پېغمبرانو ته نقصان ورسوئ.“
۱۶ هغۀ په هغه زمکه باندې قحط نازل کړو،
او د دوئ د خوراک وسيلې يې تباه کړې.
۱۷ هغۀ د دوئ نه وړاندې يو سړے مِصر ته ولېږلو،
يوسف ځوک چې د يو غلام په شان خرڅ شولو.
۱۸ د هغۀ پښې يې په بيړو خوږ کړې،
د اوسپنو زنځير يې په غاړه ورته واچولو.
۱۹ ترڅو چې د هغۀ پېشګوئي پوره شوې نۀ وه،
د مالِک خُدائ کلام د هغۀ د زړۀ د رښتينوالی آزمېښت وکړو.
۲۰ نو بيا بادشاه هغه راوغوښتو او آزاد يې کړو،
د قومونو بادشاه هغه آزاد کړو.
۲۱ هغۀ هغه د خپل کور مشر جوړ کړو،


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپل ټول ملکيت يې اختيار ورکړو.

۲۲ يوسف د بادشاه په آفسرانو باندې اختيار لرلو

او د هغهٔ مشيرانو ته يې تعليم ورکولو.

۲۳ نو بيا بنى إِسرائيل مِصر ته راننوتل،

د حام په مُلک کښې يعقوب د مسافر په شان اوسېدلو.

۲۴ خو مالِک خُدائ خپل خلق ډېر کړل،

هغهٔ دوئ د دشمنانو نه ډېر زيات کړل.

۲۵ هغهٔ د خپل قوم نه تور کړل د مِصريانو زړونه،

چې د دهٔ د خِدمتګارانو سره چالاکى وکړى.

۲۶ هغهٔ خپل خِدمتګار موسىٰ ورولېږلو،

او ورسره يې کوم چې هغهٔ غوره کړے وو هارون ورولېږلو.

۲۷ نو هغوئ د خلقو په مخکښې د هغهٔ عجيبه نښې ښکاره کړې،

او عجيبه معجزې او نښې يې د حام په مُلک کښې ښکاره کړې.

۲۸ هغهٔ تيارهٔ راولېږله او مُلک يې ټول تورتم کړلو،

خو ولې دوئ د هغهٔ د کلام مخالفت وکړلو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۹ او هغهٔ د دوئ اوبهٔ په وينو بدلې کړې،

او د دوئ کبان يې په کښې مړهٔ کړل.

۳۰ د دوئ ټول مُلک د چيندخانو نه ډک شو،

او تر دې چې د بادشاهانو په کمرو کښې ښکاره شول چيندخان.

۳۱ د هغهٔ په حُکم راغلل د مچانو لښکرونه،

او ورسره راغلل د ماشو لښکرونه.

۳۲ د باران په ځائ ږلۍ وربانديې راغله،

او ورسره په ټول مُلک کښې د برېښنا او تندر آوازونه.

۳۳ هغهٔ باغونه د انګورو اينځرانو ورله تباه کړل،

او د هغوئ د ټول مُلک ونې يې راوغورزولې.

۳۴ هغهٔ حُکم وکړُو او د قحط د مُولخانو راغلل لښکرونه،

او ورسره ۇو هم د نورو بېشمېره مُولخانو لښکرونه.

۳۵ دوئ ورنه د مُلک ټول شنهٔ بوټي وخوړل،

او د دوئ د خاورې ټول پېداوار يې وخوړلو.

۳۶ نو بيا هغهٔ په ټول مُلک کښې د هغوئ مشران زامن هلاک کړل،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغوئ د نارينتوب وړومبی مېوه يې تباه کړه.

۳۷ هغهٔ بنی اِسرائيل په سرو او سپينو زرو بار کړی راوويستل،

او د هغوئ د قبيلو ټول خلق روغ رمټ پاتې شول.

۳۸ په مِصر کښې ډېره خوشحالی وشوه د هغوئ په تلو،

ځکه چې په هغوئ باندې دباؤ غورزېدلے وو د اِسرائيلو.

۳۹ د هغوئ د پټولو دپاره يې ورېځ راخوره کړله،

او اور يې راولېږلو چې شپه يې ورله رڼا کړله.

۴۰ هغوئ ورته سوال وکړو او هغهٔ دوئ ته مرَزان ورکړل،

او هغوئ يې په آسمانی روټئ ماړهٔ کړل.

۴۱ هغهٔ ګټ په مينځ نيم کړو او اوبهٔ ترې نه رواني شولې،

لکه د سيند په شان په صحرا کښې وبهېدلې.

۴۲ ځکه چې هغهٔ ته خپله پاکه وعده ياده وه،

کومه وعده چې هغهٔ خپل خِدمتګار اِبراهيم سره کړې وه.

۴۳ هغهٔ خپل خلق په ډېرې خوشحالئ سره راوويستل،

خپل غوره شوی خلق يې د خوشحالئ په چغو او سورو سره راوويستل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۴ هغهٔ هغوئ له د نورو قومونو زمکه ورکړله،

هغوئ ته هغهٔ په میراث کښې د نورو ګټه مفته ورکړله.

۴۵ چې دوئ د هغهٔ اصُول وساتی او د هغهٔ قانون وپېژنی،

ثناء دې مالِک خُدائ ته وی.

## ۱۰۶

۱ د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ

ځکه چې هغه ښهٔ دے، د مالِک خُدائ شُکر ادا کړئ.

د هغهٔ مینه د تل دپاره پاتې کیږی.

۲ د مالِک خُدائ د زورَورو کارونو بیان څوک کولے شی

او څوک پوره د هغهٔ ثناء صِفت بیانولے شی؟

۳ بختور دی هغوئ څوک چې اِنصاف کوی،

او څوک چې تل ښهٔ کارونه کوی.

۴ په هغه وخت ما یاد ساته، اے مالِکه خُدایه،

کله چې تهٔ په خپلو خلقو رحم کوې،

کله چې تهٔ هغوئ بچ کوې نو زما مدد دپاره هم راشه،

۵ نو چې زهٔ هم ستا د غوره شوو خلقو په برکتونو کښې شریک شم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او چې زهٔ هم ستا د قوم په خوشحالۍ کښې برخه واخلم

او چې زهٔ ستا د خلقو سره په ثناء صِفت کولو کښې شریک شم.

٦ مونږ هم د خپل پلار نیکهٔ په شان ګناه ګار یُو،

مونږ غلط کارونه وکړل او بدعمله یُو.

٧ کله چې زمونږ پلار نیکهٔ په مِصر کښې وُو،

نو ستا معجزو ته یې خیال ونهٔ کړو،

او ستا ډېر رحمونه ورته یاد نهٔ وُو،

او د بحرِقُلزم سره هغوئ بغاوت وکړو.

٨ خو بیا هم هغهٔ د خپل نوم په خاطر هغوئ بچ کړهٔ،

د دې دپاره چې هغه په دې خپل طاقت څرګند کړی.

٩ او هغهٔ بحرِقُلزم ورټلو او هغه اوچ شو،

هغهٔ هغوئ په سمندر کښې داسې پورې ایستل لکه چې په صحرا کښې روان وُو.

١٠ هغهٔ دوئ د دشمنانو د لاسونو نه بچ کړل،

او د دشمنانو د لاسونو نه یې په بیعه واخستل.

١١ اویو د هغوئ مخالفین ټول ډوب کړل،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په هغوئ کښې يو کس هم ژوندے پاتې نۀ شو.

١٢ بيا هغوئ د هغۀ په وعدو يقين شروع کړو

د هغۀ د ثناء صِفت سرود يې ووئيلو.

١٣ خو هغوئ هغه هر څۀ زر هېر کړل کوم چې خُدائ پاک د دوئ دپاره
کړی وُو،

او د هغۀ د نصيحت انتظار يې ونۀ کړو.

١٤ خو په هغه بيابان کښې دوئ شهوت پرستی شروع کړه،

او په دې يې د خُدائ پاک صبر وآزمائيلو.

١٥ نو بيا هغۀ هغوئ ته هر څۀ ورکړل کوم چې دوئ غوښتل،

خو هغۀ ورسره ويا هم راولېږله.

١٦ بيا هغوئ په کېمپ کښې د موسیٰ سره کينه وساتله

او د هارون خلاف چې د مالِک خُدائ دپاره مقدس شوے وو کينه وکړله.

١٧ نو په دې وجه زمکه په مينځ وچاوده او داتن يې تير کړو،

او ابيرام يې هم سره د نورو دوستانو تير کړو.

١٨ او د دوئ د نورو مريدانو په مينځ کښې اور بل شو،

او د اور په لمبې سره نور بدعمله تباه شُو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ هغوئ په حورب یعنې سینا کښې سخے جوړ کړو

او د اوسپنې نه د جوړ شوی بُت عبادت یې وکړو.

۲۰ نو په دې کولو سره هغوئ جلالی خُدائ بدل کړو

د یو سخی په شکل چې گیاه خوری.

۲۱ هغوئ خُدائ پاک یعنې خپل خلاصونکے هېر کړو،

چا چې په مِصر کښې لوئ کارونه کړی وُو،

۲۲ د حام په مُلک کښې یې معجزې وکړې

او د بحرِقُلزم سره یې عجیبه کارنامې وکړې.

۲۳ نو هغهٔ وفرمائیل زهٔ به دوئ تباه کړم

نو د هغهٔ غوره شوی کس موسیٰ

د خُدائ د غضب او مخلوق په مینځ کښې ودرېدلو

چې د هغهٔ غصه سړه او دوئ د تباهئ نه بچ کړی.

۲۴ دوئ بیا د هغه ښهٔ مُلک نه نفرت شروع کړو،

او دوئ د هغهٔ په وعده یقین نهٔ کولو.

۲۵ هغوئ به په خپلو خیمو کښې غورېدل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د مالِک خُدائ تابعداری يې ونۀ کړه.

۲۶ نو هغۀ خپل لاس اوچت کړو او دوئ ته يې قسم وخوړو

چې هغه به دوئ په دې دشته بيابان کښې مړۀ کړی،

۲۷ او د هغوئ اولاد يې په قومونو کښې خوارۀ کړل،

او هغه يې په مُلکونو کښې تس نس کړل.

۲۸ هغوئ د بعل د فعور بُت عبادت وکړو

او بُتانو ته د پيش کړے شوو قربانو غوښې يې وخوړلې،

۲۹ د هغوئ په بد عملونو مالِک خُدائ غصه شو،

او په دوئ باندې يو لوئ مرض راغلو.

۳۰ خو فينحاس ورمينځ ته شو او مخ نيوے يې وکړو،

نو بيا مرض راقابو شو.

۳۱ د دې کار په وجه هغه رښتينے جوړ شو

دا به نسل در نسل تر ابده پورې وی.

۳۲ د مريبه د اوبو سره دوئ مالِک خُدائ غصه کړو،

د دوئ په وجه په موسىٰ باندې مصيبت راغلو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣٣ هغوئ د موسىٰ روح دومره خفه کړو،

چې د هغهٔ د خولې نه بې‌ځایه خبرې راووتلې.

٣٤ او هغوئ هغه قومونه هغه شان تباه نهٔ کړل

لکه څنګه چې مالِک خُدائ د هغوئ د وژلو حُکم کړے وو،

٣٥ خو د دې په ځائ هغوئ هم په قومونو کښې ورګډ شول

او د هغوئ رِواجونه يې خپل کړل.

٣٦ هغوئ د هغه خلقو د بُتانو عبادت وکړو،

کوم چې د دوئ دپاره دام جوړ شو.

٣٧ دوئ خپل زامن قربانی کړل

او پيريانو ته يې خپلې لوڼه قربانی کړې.

٣٨ دوئ بې‌ګناه وينې توئ کړې

د خپلو لوڼو او زامنو وينې يې توئ کړې،

کوم چې د کنعان بُتانو ته دوئ قربانی کړل،

د هغوئ د وينې په وجه هغه مُلک ناپاک شو.

٣٩ په خپلو بدو کارونو يې ځان پليت کړُو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپل دې عمل يې ځانونه زناکار کړل.

۴۰ نو په دې وجه مالِک خُدائ خپلو خلقو ته غصه شو

او د خپلو خلقو نه بېزاره شو.

۴۱ هغۀ دوئ نورو قومونو ته حواله کړل،

او د هغوئ دشمنانو په دوئ باندې حکومت وکړو.

۴۲ او دشمنانو په هغوئ باندې ظلم وکړو

او د هغوئ زور طاقت ته يې حواله کړو.

۴۳ هغۀ څو څو ځلې دوئ بچ کړل،

خو هغوئ سرکشی خوښه کړه

او په خپله ګناه کښې مختورن شول.

۴۴ خو هغۀ د هغوئ مصيبت ته پام شو

کله چې هغۀ د هغوئ ژړا واورېده،

۴۵ د دوئ د خاطره هغۀ خپل لوظ ځان ته رایاد کړو

او هغۀ خپله فيصله د ابدی مينې په سبب بدله کړه.

۴۶ په هغوئ يې هغه خلق مهربان کړل



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چا چې دوئ ګېر کړی وُو.

۴۷ اے مالِکه خُدايه، زمونږ پاکه خُدايه مونږ بچ کړه،

او مونږ د قومونو نه راغونډ کړه،

نو چې دغه شان مونږ ستا د مقدس نوم شُکر ادا کړُو

او ستا په جلال کښې ستا ثناء صِفت ادا کړُو.

۴۸ د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی څوک چې د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک دے،

د ازل نه تر ابده پورې دې د مالِک خُدائ ثناء صِفت وی.

راځئ چې ټول په شريکه سره ووايو، "آمين."

ثناء صِفت دې مالِک خُدائ ته وی.

## د خُدائ د ښۀوالی ستائينه

# ۱۰۷

۱ د مالِک خُدائ شُکر کوئ، ځکه چې هغه ډېر ښۀ دے،

او د هغۀ مينه تر ابده پاتې کيږی.

۲ چا ته چې مالِک خُدائ خلاصون ورکړی هغوئ دې خلقو ته ووائی،

هغوئ هم څوک چې هغۀ د دشمن د لاس نه خلاص کړی دی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣ هغوئ هم چې هغهٔ د مُلکونو نه راغونډ کړل،

د مشرق او مغرب او د شمال او جنوب نه يې راغونډ کړل.

٤ په هغوئ کښې ځينې په خوشى بيابان کښې سرګردانه ګرځېدل،

او د خپل ځان دپاره يې د اوسېدلو ښار پېدا نهٔ کړو.

٥ هغوئ اوږى تږى وُو،

او مرګ ته نزدې وُو.

٦ نو بيا هغوئ په خپلو سختو کښې مالِک خُدائ ته ژړا وکړه،

هغهٔ بيا هغوئ د مصيبت نه خلاص کړل.

٧ هغهٔ هغوئ ته نيغه لاره وښودله

ترڅو چې هغوئ د اوسېدلو دپاره هغه ښار پېدا کړى.

٨ نو د مالِک خُدائ شُکر دې د هغهٔ د نهٔ ختمېدونکې مينې دپاره ادا کړى

او د هغهٔ عجيبه کارونه چې د بنيادمو دپاره يې کړى دى،

٩ هغه تږو له تنده ماتوى

او اوږى په ښهٔ خوراکونو مړوى.

١٠ په دوئ کښې څهٔ په مصيبت او په زنځيرونو کښې پراتهٔ وُو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قېديان په کښې په زنځيرونو کښې پراتهٔ وُو،

١١ هغوئ د خُدائ د کلام مخالفت کړے وو

او هغوئ د خُدائ تعالىٰ د مشورې سپکاوے کړے وو.

١٢ هغهٔ هغوئ په سخت تکليف کښې واچول،

هغوئ تيندکونه خوړل خو مدد يې چا هم نهٔ کولو.

١٣ نو بيا هغوئ په سخته کښې مالِک خُدائ ته ژړا وکړه،

او هغهٔ هغوئ د مصيبت نه خلاص کړل.

١۴ او هغهٔ هغوئ د تيارې نه بهر راوويستل

او د هغوئ زنځيرونه يې مات کړل.

١۵ نو د مالِک خُدائ شُکر دې د هغهٔ د نهٔ ختميدونکې مينې دپاره ادا کړى

او د هغهٔ عجيبه کارونه چې د بنيادمو دپاره يې کړى دى،

١۶ ځکه چې هغهٔ د زېړو دروازې ماتې کړې

او د هغې د اوسپنو سيخونه يې غوڅ کړل.

١٧ نو څهٔ خلق د خپلو بدعملو په وجه کم عقل شول

او د خپلو خطاګانو په وجه په مصيبت کښې ګير شول.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ او د هر قسمه خوراکونو نه بېزاره ؤُو
او د مرګ دروازې ته نزدې شوی ؤُو.
۱۹ نو بیا هغوئ په سخته کښې مالِک خُدائ ته ژړا وکړه،
او هغوئ یې د مصیبت نه خلاص کړل.
۲۰ او هغهٔ خپل کلام ورولېږلو او هغوئ یې روغ کړل،
او د قبر نه یې ورله خلاصون ورکړو.
۲۱ نو د مالِک خُدائ شُکر دې د هغهٔ د نهٔ ختمېدونکې مینې دپاره ادا کړی
او د هغه عجیبه کارونو دپاره چې د بنیادمو دپاره یې کړی دی.
۲۲ هغوئ دې مالِک خُدائ ته د شُکر ګزارئ قربانۍ وړاندې کړی
او د هغهٔ کارونه دې د خوشحالئ په سندرو کښې بیان کړی.
۲۳ او څهٔ خلق په سمندری بېړو کښې په سمندر کښې لاړل،
او هغوئ په زورَورو اوبو کښې تجارت کولو.
۲۴ هغوئ د مالِک خُدائ کارونه ولیدل،
او د هغهٔ عجیبه کارونه یې په ډوبو ځایونو کښې ولیدل.
۲۵ هغهٔ کلام وکړو نو تېز طوفان راغلو



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د سمندر چپې اوچتې شوې.

۲۶ هغوئ به کله آسمان ته ختل او کله به لاندې د اوبو بېخ ته تلل،

نو په دې سخت طوفان کښې هغوئ همت بائيللو.

۲۷ د نشيانو په شان په ړوپونو او تيندکونو باندې سر ؤو،

او دوئ نه په آخر کښې يو دوه خطا شو.

۲۸ نو بيا هغوئ په سخته کښې مالِک خُدائ ته فرياد وکړو،

او هغوئ ته يې د مصيبت نه خلاصون ورکړو.

۲۹ هغۀ طوفان په قلاره کړو،

او د سمندر چپې او موجونه په آرام شول.

۳۰ نو کله چې هغه طوفان قلار شو نو دوئ خوشحاله شول،

خۀ چې دوئ غوښتل نو تر هغه غاړې يې راوستل.

۳۱ نو د مالِک خُدائ شُکر دې د هغۀ د نۀ ختمېدونکې مينې دپاره ادا کړی

او د هغه عجيبه کارونو دپاره چې د بنيادمو دپاره يې کړی دی.

۳۲ د خلقو په ډله کښې دې د خُدائ پاک لوئ بيانوی

او د مشرانو په محفل کښې دې د هغۀ ثناء صِفت کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ هغهٔ دریابونه په بیابان بدل کړل،

او د اوبو چینې یې په اوچه زمکه بدلې کړې،

۳۴ زرخیزه زمکه یې په مالګینه زمکه بدله کړه،

د هغوئ د بدو عملونو په وجه څوک چې هلته په کښې اوسېدل.

۳۵ او هغهٔ بیابانونه د اوبو په تالابونو باندې بدل کړل

او اوچه زمکه یې د اوبو په چینو بدله کړه،

۳۶ هغهٔ هلته اوږی د اوسېدلو دپاره ولېږل،

او هغوئ هلته د اوسېدو دپاره د ښار بنیادونه کېښودل.

۳۷ او هلته هغوئ کروندې او د انګورو باغونه شروع کړل

چې هغې هغوئ ته ډېر پېداوار ورکړو،

۳۸ هغهٔ هغوئ ته برکت ورکړو او شمېر یې ورله ډېر زیات کړو،

او هغهٔ د هغوئ په رمو کښې نقصان رانهٔ وستلو.

۳۹ او بیا یې شمېر په کمېدو شو او عاجزان شول

د ظلم، مصیبت او خفګان په وجه خوار و زار شول،

۴۰ مالِک خُدائ په خپله شهزادګان سپکوی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه هغوئ په خوشئ دشتو کښې سرګردانوی.

(۴۱) خو هغهٔ محتاجه د ظلمونو نه خلاص کړل

او د هغوئ خاندان يې لکه د رمو په شان زيات کړل.

(۴۲) او صادقان دا ګورى او ورته خوشحالى کوى،

او ټول بدعمله به خپلې خولې بندې کړى.

(۴۳) څوک چې هوښيار وى نو هغوئ دې په دې خبرو باندې غور وکړى،

او د مالِک خُدائ په لويه مينه باندې دې غور وکړى.

## د حضرت داؤد يو زبور

# ۱۰۸

(۱) اے مالِکه خُدايه، زما زړهٔ په تا مضبوط دے،

زهٔ به په خپل ټول ځان سره ستا حمد او سرود وايم.

(۲) اے سريندئ او ربابه پاڅه،

زهٔ به په خپلو سندرو سره سحر راپاڅوم.

(۳) اے مالِکه خُدايه، زهٔ به ستا ثناء په قومونو کښې بيان کړم،

د خلقو مينځ کښې به دې حمدونه وايم.

(۴) ځکه چې ستا ابدى مينه لويه او د آسمانونو دپاسه ده،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ستا وفاداري تر آسمانونو پورې ده.

۵ اې پاکه خُدايه، پاس په آسمانونو دې ستا لوئي وي،

او ستا جلال دې د ټولې زمکې دپاسه وي.

۶ مونږ دې په خپل ښي لاس سره بچ کړه او زمونږ مدد وکړه،

او د چا سره چې ته مينه کوې هغوئ بچ کړه.

۷ خُدائ د خپل مقدس ځائ نه کلام وکړو،

”په خوشحالئ سره به شِکم تقسيم کړم

او د سُکات دره به ناپ تول کړم.

۸ جِلعاد زما دے او منسى هم زما دے،

اِفرائيم زما ټوپئ او يهوداه زما د بادشاهئ کونتئ ده.

۹ موآب زما د وينځلو ښانک دے او هغه به زما خِدمتګار وي،

او زۀ په ادوم باندې خپلې څپلئ پاکوم،

او زۀ به په فلستيه مُلک باندې د کاميابئ چغه وهم.“

۱۰ ما به څوک د برجونو ښار ته راولي؟

څوک به ما ته په ادوم باندې کاميابي راکړي؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ اے پاکه خُدايه، مونږ تا رد کړی يُو څهٔ
زمونږ د لښکرو سره نور نهٔ ځې څهٔ؟

١٢ د دشمن خلاف زمونږ مدد وکړه،
ځکه چې د بنی آدم امداد بېفائدې دے.

١٣ د خُدائ پاک په مدد سره به مونږ ګټه وکړُو،
او هغه به زمونږ دشمن چخنی کړی.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

## د يو زورېدلی سړی فرياد

# ١٠٩

١ اے پاکه خُدايه، د چا چې زهٔ ثناء صِفت کوم،
تهٔ خاموشه مهٔ پاتې کېږه،

٢ ځکه چې بدعملو او دوکه بازو زما خلاف خپله خولهٔ خلاصه کړې ده،
او دوئ زما په حقله دروغ وائی.

٣ د نفرتونو ګېره يې زما نه راتاو کړې ده،
دوئ هيڅ بېهيڅه په ما حمله کړې ده.

٤ زما د مينې په بدل کښې يې په ما اِلزامونه ولګول،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو زهٔ د هغوئ دپاره دُعا کوم.

۵ زما د ښو په بدله کښې ما سره بد کوی،

دوئ زما د مينې په بدله کښې ما نه نفرت کوی.

۶ اے خُدايه، تهٔ په دوئ باندې خراب خلق مقرر کړه چې دوئ ملامته کړی،

په دهٔ اِلزام لګونکے دې د دهٔ ښی لاس ته ودرېږی.

۷ او هغه دې په عدالت کښې مجرم وګرځولے شی،

او د هغهٔ دُعاګانې دې ورته په ګناه حساب شی.

۸ او د هغهٔ عُمر دې لنډ شی،

د هغهٔ د مشرۍ مقام دې نورو خلقو ته حواله شی.

۹ د هغهٔ بچی دې يتيمانان شی

د هغهٔ ښځه دې کونډه شی.

۱۰ د هغهٔ بچی دې ملنګان او خيرماران شی،

او د خپلو ورانو کنډرو نه دې وويستلے شی.

۱۱ قرضخوا دې د هغهٔ نه هر څهٔ واخلی،

او د هغهٔ د مزدورۍ ميوه دې پردی خلق لوټ کړی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ هغهٔ سره دې څوک ښېګړه ونهٔ کړی

او نهٔ دې څوک د هغهٔ په يتيمانانو بچو رحم وکړی.

۱۳ په دُنيا کښې دې د هغهٔ نسل ختم شی،

او په راتلونکی نسل کښې دې د هغهٔ نوم ختم شی.

۱۴ مالِک خُدائ دې د هغهٔ د پلار نيکهٔ ګناهونه نهٔ هېروی،

او نهٔ دې د هغهٔ د مور ګناهونه ورويخښی.

۱۵ او د هغوئ ګناهونه دې د تل دپاره د مالِک خُدائ په وړاندې وی،

نو چې دغه شان د هغوئ يادګار د زمکې نه ورک کړی.

۱۶ ځکه چې هغهٔ کله په چا باندې د رحم کولو سوچ هم نهٔ دے کړے،

خو تل د غريب او حاجتمند او د مايوسه د مرګ بندوبست کوی.

۱۷ د هغهٔ د لعنت کولو سره مينه وه خو دا دې په هم دهٔ راواپس شی،

د هغهٔ برکت ورکول نهٔ خوښېدل نو برکت دې هغهٔ نه لرې شی.

۱۸ لعنت يې لکه د جامو اغوستے وو،

دا د دهٔ بدن ته لکه د اوبو ورننوتے وو،

او هډوکو ته يې لکه د تيلو ورننوتے وو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ د چُوغې په شان دې دا لعنت هم د دۀ نه راتاو شی،

او د کمربند په شان دې د تل دپاره د ملا نه تاو وی.

۲۰ څوک چې په ما اِلزام لګوی هغوئ ته دې دغه سزا ورکړی،

او هغوئ ته هم څوک چې زما غيبت کوی.

۲۱ خو تۀ، اے قادر مطلق مالِکه خُدايه،

د خپل نوم په خاطر دې هم ما سره ښۀ وکړه،

او د خپلې مينې د ښۀوالی په خاطر دې هم ما بچ کړه.

۲۲ ځکه چې زۀ غريب او ضرورتمند يم،

او زړۀ په ما کښې دننه زخمی دے.

۲۳ زۀ لکه د مازيګر د سورې په شان په ختميدو يم،

او زۀ لکه د مُلخ په شان شړلے شوے يم.

۲۴ زما ګوډې د روژو په وجه کمزورې شوې دی،

او زما نه د هډوکو تشه ډانچه جوړه شوې ده.

۲۵ زۀ د خپلو دشمنانو د خندا شوم،

کله چې هم ما ګوری نو خپل سرونه خوځوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۶ اے مالِکه خُدایه، زما پاکه خُدایه ما سره مدد وکړه،

د خپلې ابدی مينې په خاطر ما بچ کړه.

۲۷ هغوئ ته دې معلومه شی چې دا ستا لاس وو،

چې دا هر څۀ تا وکړل اے مالِکه خُدایه.

۲۸ دوئ به لعنت کوی خو تۀ به برکت ورکوې،

کله چې دوئ حمله وکړی نو تۀ به یې وشرموې،

خو ستا خِدمتګار به خوشحاله وی.

۲۹ په ما اِلزام لګونکی دې په شرم پټ شی

شرم کښې دې د چُوغې په شان پټ شی.

۳۰ زۀ به په خپله ژبه د مالِک خُدائ لوئی بیان کړم،

او زۀ به په لویه ډله کښې د هغۀ ثناء صِفت وکړم.

۳۱ ځکه چې هغه د حاجتمندو مددګار دے،

چې د هغه چا نه یې وساتی څوک چې دوئ مجرموی.

## د حضرت داؤد یو زبور



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مالِک خُدائ او د هغهٔ غوره شوے بادشاه

۱۱۰ ① مالِک زما مالِک ته وفرمائيل، "زما ښى لاس ته کښېنه

ترڅو چې زهٔ ستا دشمنان ستا د پښو لاندې کړم."

② مالِک خُدائ به د صيون نه ستا زورَوره امسا راوغزوى،

نو تهٔ به په خپلو دشمنانو باندې حکومت کوې.

③ کله چې تهٔ دشمن سره په جنګ شې نو ستا خلق به په خپله رضا تا ته راشى.

د تقوىٰ او پرهيزګارىٔ په لباس به سمبال شوى تا ته راشى،

لکه د پرخې په شان به سحر وختى په مقدس غر به خپل ځوانان تا ته راشى.

④ مالِک خُدائ قسم خوړلے دے او خپله فيصله به نهٔ بدلوى،

"تهٔ به لکه د مَلِک‌صِدق د تل دپاره اِمام يې."

⑤ مالِک خُدائ ستا ښى لاس ته ولاړ دے،

په خپل قهر او غضب کښې به ډېر بادشاهان ووهى.

⑥ هغه به د قومونو عدالت وکړى او د مړو به ډيرى ولګوى،

او په زمکه به د ټولو بادشاهانو سرونه چخنى کړى.

⑦ خو بادشاه به د لارې د ولې نه اوبهٔ وڅښى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو ځکه به هغه د کامیابۍ هسکه غرۍ ګرځوی.

# ۱۱۱

۱ د خُدائ ثناء ووایئ.

زۀ به په خپل ټول زړۀ سره د مالِک خُدائ لوئی بیان کړم،

کله چې زۀ د هغۀ د نېکو خلقو سره په جماعت کښې مِلاو شم.

۲ د مالِک خُدائ کارونه ډېر لوئ دی،

څوک چې په دې فکر کوی نو په هغې کښې خوشحاله دی.

۳ د هغۀ کارونه د جلال او لوئ نه ډک دی،

او د هغۀ صداقت د تل دپاره پاتې وی.

۴ د هغۀ معجزې به خلق تل یادې ساتی،

زمونږ مالِک خُدائ بخښونکے او مهربان دے.

۵ د هغۀ نه چې څوک یرېږی هغوئ ته رزق ورکوی،

هغه خپل لوظ د تل دپاره یاد ساتی.

۶ هغۀ خپلو خلقو ته د خپلو کارونو زور ښودلے دے،

او هغوئ ته یې د نورو قومونو زمکې ورکړی دی.

۷ د هغۀ د لاس ټول کارونه په اِنصاف او ښۀ دی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغهٔ ټول اصُولونه اعتباری دی.

٨ او هغه تر ابده قائم پاتې کېدونکی دی،

او دا ټول په وفادارئ او صداقت سره شوی دی.

٩ هغهٔ د خپلو خلقو دپاره کفاره ورکړه،

هغهٔ خپل لوظ تر ابده پورې قائم کړو،

د هغهٔ نوم مقدس دے او شان او شوکت لری.

١٠ د مالِک خُدائ نه يره کول د حکمت شروع ده،

هر هغه څوک چې د هغهٔ قانون منی هغه هوښيار دے،

د تل دپاره به د هغهٔ ثناء صِفت وی.

# ١١٢

١ د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی،

بختور دی هغوئ څوک چې د مالِک خُدائ نه يرېږی،

او څوک چې د هغهٔ په حُکمونو په عمل کولو ډېر خوشحاله وی.

٢ د هغوئ اولاد به په زمکه زورَور خلق شی،

د صادقانو نسل به بختور کړے شی.

٣ دولت او مالداری به د هغهٔ په کور کښې وی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغهٔ صداقت به د تل دپاره وی.

۴ کهٔ څهٔ هم په تيارهٔ کښې صادقانو ته رڼا څليږی،

ځوک چې مِهربانه زړهٔ سواندی او صادق وی.

۵ مِهربانه په هغهٔ دے چې سخی وی او بل ته بےلالچه قرض ورکوی،

او ځوک چې خپلې مسئلې په اِنصاف سره حل کوی.

۶ په يقين سره هغه به ونهٔ خوځولے شی،

صادق سړے به تل يادولے شی.

۷ هغه به د بد خبر نه نهٔ يريږی،

د هغهٔ زړهٔ قائم دے او په مالِک خُدائ باندې پوره توکل کوی.

۸ د هغهٔ زړهٔ مطمئن دے او هغه به نهٔ يريږی،

او په آخر کښې به په خپلو ټولو دشمنانو کاميابی حاصله کړی.

۹ هغهٔ خپل خيراتونه مسکينانو ته ورلېږلی دی،

د هغهٔ صداقت د تل دپاره پاتې کيږی،

او د عزت سره به د هغهٔ سترګې اوچتيږی.

۱۰ بدکاران چې دا ګوری نو غصه کيږی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغویٔ به خپل غابښونه چیچی او ورک به شی،

د بدکارانو ارمانونه به پوره نهٔ شی.

# ۱۱۳

۱ مالِک خُدائ ته دې ثناء صِفت وی.

اے د مالِک خُدائ خِدمتګارانو د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ،

او د مالِک خُدائ د نوم ثناء صِفت وکړئ.

۲ د مالِک خُدائ نوم ته دې ثناء صِفت وی،

د اوس نه تر ابده پورې.

۳ د نمر ختو نه د نمر پرېوتو پورې،

د مالِک خُدائ د نوم ستائينه دې وی.

۴ مالِک خُدائ په ټولو قومونو کښې اوچت دے،

او د هغهٔ جلال پاس په آسمانونو کښې دے.

۵ زمونږ د مالِک خُدائ پاک په شان بل څوک دے،

هغه څوک چې پاس په آسمان کښې په تخت ناست دے.

۶ څوک چې خپل ځان په دې عاجزوی

چې آسمانونو او زمکې ته لاندې ګوری.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ هغه غریبان د خاورو نه اوچتوی،

او هغه حاجتمند د ایرو نه اوچتوی.

٨ هغوئ د شهزادګانو سره کښېنوی،

او تر دې هغوئ د خپلو شهزادګانو سره کښېنوی.

٩ هغه شنډې ښځې په خپلو کورونو کښې داسې خوشحالوی،

لکه یوه خوشحاله د بچو مور چې وی.

مالِک خُدائ ته دې ثناء صِفت وی.

## د مالِک خُدائ عجیبه کارونه

# ۱۱۴

١ کله چې بنی اِسرائیلیان د مِصر نه بهر راووتل،

او د یعقوب خاندان چې د پردی مُلک نه راووتل،

٢ یهوداه د خُدائ مقدس ځائ شو،

او اِسرائیل د خُدائ پاک د بادشاهت ځائ شو.

٣ کله چې بحرِقُلزم دوئ ولیدل نو لار یې ورته پرېښوده،

او د اُردن سیند واپس شو او خپل ځائ ته لاړو،

٤ غرونو لکه د ګډانو په شان منډې کړې،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او غونډو لکه د ګډورو په شان منډې کړې.

۵ اے سمندره دا څۀ چل وو چې تا هغوئ ته لار پرېښوده،

تۀ ولې واپس شوې اے د اُردن سيندهٔ،

۶ غرونو تاسو ولې لکه د ګډانو په شان منډې کړې؟

او تاسو اے غونډو ولې لکه د ګډورو په شان منډې کړې؟

۷ د مالِک خُدائ په راتلو سره اے زمکې په لړزان شه،

د يعقوب د پاک خُدائ په حضور کښې په لړزان شه،

۸ چا چې د ګټ نه د اوبو تالاب جوړ کړو،

او سخت ګټ نه يې د اوبو چشمه جوړه کړه.

# ۱۱۵

۱ مونږ ته نه، اے مالِکه خُدايه، مونږ ته نه، خو ستا نوم ته دې جلال وی،

ځکه ستا د مينې او وفا په سبب دې وی.

۲ قومونه ولې وائی چې،

”د دوئ پاک خُدائ چرته دے؟“

۳ زمونږ پاک خُدائ په آسمان کښې دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هر هغه څۀ کوی چې څۀ د هغۀ خوښ وی.

۴ خو د هغوئ بُتان د سرو او سپينو زرو دی،

چې د انسانانو په لاسونو جوړ شوی دی.

۵ د هغوئ خولې شته خو خبرې پرې کولے نۀ شی،

سترګې يې هم شته خو پرې ليدلے نۀ شی.

۶ د هغوئ غوږونه شته خو پرې اورېدلے نۀ شی،

پوزې يې هم شته خو پرې بويولے نۀ شی.

۷ د هغوئ لاسونه هم شته خو پرې څۀ محسوسولے نۀ شی،

د هغوئ پښې هم شته خو پرې ګرځېدلے نۀ شی،

خو هيڅ قسمه آواز د مرئ نه ويستلے نۀ شی.

۸ چا چې دا جوړ کړی دی نو د هغوئ په شان به شی،

او بيا هم هغوئ ټول، څوک چې پرې يقين لری.

۹ اے بنی اِسرائيلو په مالِک خُدائ باندې توکل کوئ،

هغه ستاسو ډال دے او ستا مدد کوی.

۱۰ اے د هارون خاندانه په مالِک خُدائ باندې توکل کوئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه ستاسو ډال دے او مدد کوی.

١١ اے تاسو چې د هغهٔ نه يره کوئ په مالِک خُدائ باندې توکل کوئ،

هغه ستاسو ډال دے او مدد کوی.

١٢ مالِک خُدائ ته مونږ ياد يُو او برکت به راکړی،

هغه به د بنی اِسرائيلو خاندان له برکت ورکړی،

هغه به د هارون خاندان له برکت ورکړی.

١٣ هغه به هغه چا له برکت ورکړی څوک چې د مالِک خُدائ نه يريږی،

لويو او واړو ټولو ته به يو شان ملاويږی.

١٤ مالِک خُدائ دې تاسو زيات کړی،

تاسو او ستاسو د بچو نسل دې زيات کړی.

١٥ مالِک خُدائ دې تاسو له برکت درکړی،

څوک چې د آسمان او زمکې خالق دے.

١٦ اوچت آسمانونه د مالِک خُدائ دی،

خو زمکه يې انسان له ورکړې ده.

١٧ مړی خو د مالِک خُدائ ثناء صِفت نهٔ کوی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ څوک چې لاندې خاموشۍ طرف ته روان وی.

۱۸ خو مونږ يُو چې د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوُو،

په دواړه وختونو کښې اوس هم او د تل دپاره هم لوئی بيانوو،

د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی.

# ۱۱۶

۱ د مالِک خُدائ سره مينه کوم ځکه چې هغهٔ زما سوال زاری اورېدلې ده،

هغهٔ زما سوال زاری د رحم دپاره اورېدلې ده.

۲ ځکه چې هغه اوس په ما خيال ساتی او خپل غوږ يې ما ته راړولے دے،

ترڅو چې زهٔ ژوندے يم زهٔ به هغهٔ نه سوال کوم.

۳ د مرګ پړو راګېر کړے يم،

د قبر سخته په ما راغلې ده،

زهٔ په خپل خفګان او تکليفونو کښې ډوب شوم.

۴ نو ما بيا د مالِک خُدائ په نوم چغه کړه،

چې، "اے مالِکه خُدايه ما بچ کړه."

۵ مالِک خُدائ مهربانه او صادق دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ خُدائ پاک پوره رحيم دے.

٦ مالِک خُدائ ساده زړۀ لرونکی خلق بچ کوی،

کله چې زۀ ډېر سخت حاجتمند ومه هغۀ زۀ بچ کړم.

٧ نو زما روحه يو ځل بيا خپل آرام ته راشه،

ځکه چې مالِک خُدائ ما سره ښۀ دے.

٨ خو تا په خپله اے مالِکه خُدايه زما روح د مرګ نه بچ کړو،

زما سترګې دې د اوښکو نه اوچې کړې،

زما پښې دې د تيندک خوړلو نه بچ کړې.

٩ نو بيا به زۀ د مالِک خُدائ په وړاندې،

د ژوندو په مُلک کښې وګرځم.

١٠ نو زما دا ايمان وو نو ځکه ما ووئيل چې،

”زۀ ډېر په تکليف کښې يم.“

١١ او ما په خپله مايوسۍ کښې دا ووئيل چې،

”ټول انسانان دروغژن دی.“

١٢ نو زۀ به څنګه مالِک خُدائ له د هغې بدل خلاص کړم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ د ټولو هغه ښېګړو چې ما سره يې کړې دی.

۱۳ زهٔ به د خلاصون جام اوچت کړم،

او زهٔ به د مالِک خُدائ په نوم سوال زارى وکړم.

۱۴ زهٔ به د مالِک خُدائ سره خپلې ټولې وعدې پوره کړم،

د هغهٔ د ټولو خلقو په وړاندې به خپلې وعدې پوره کړم.

۱۵ د مالِک خُدائ په نظر کښې

د هغهٔ د مقدسينو مرګ ډېر اهم دے.

۱۶ اے مالِکه خُدايه په رښتيا سره ستا خِدمتګار يم،

لکه ستا د وينځې د زوئ په شان زهٔ ستا خِدمتګار يم،

تا زهٔ د زنځيرونو نه آزاد کړے يمه.

۱۷ زهٔ به تا ته د شُکر ګزارۍ قربانى وکړم،

او د مالِک خُدائ په نوم به دُعا وغواړم.

۱۸ زهٔ به د مالِک خُدائ سره خپلې ټولې وعدې پوره کړم،

د هغهٔ د ټولو خلقو په وړاندې به خپلې وعدې پوره کړم.

۱۹ د مالِک خُدائ د کور په دربار کښې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یروشلمه ستا په مینځ کښې

مالِک خُدائ ته دې ثناء صِفت وی.

# ۱۱۷

۱ اے ټولو قومونو د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ،

اے ټولو خلقو د هغهٔ لوئی بیان کړئ.

۲ ځکه چې زمونږ دپاره د هغهٔ مینه ډېره لویه ده،

او د مالِک خُدائ وفاداری د تل دپاره ده،

ثناء صِفت دې مالِک خُدائ ته وی.

# ۱۱۸

۱ د مالِک خُدائ شُکر وباسئ ځکه چې هغه ښهٔ دے،

د هغهٔ مینه د تل دپاره پاتې کیږی.

۲ بنی اِسرائیل دې داسې ووائی،

”د هغهٔ مینه د تل دپاره پاتې کیږی.“

۳ د هارون خاندان دې داسې ووائی،

”د هغهٔ مینه د تل دپاره پاتې کیږی.“

۴ هغوئ څوک چې د مالِک خُدائ نه یریږی، دې ووائی،

”د هغهٔ مینه د تل دپاره پاتې کیږی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ ما په سخته کښې مالِک خُدائ ته سوال زارى وکړه،

هغۀ زما سوال قبول کړو او زۀ يې آزاد کړم.

۶ مالِک خُدائ زما مل دے زۀ به نۀ يرېږم،

انسان زما څۀ کولے شى.

۷ مالِک خُدائ زما مل دے او هغه زما مددګار دے،

زۀ به د خپلو دشمنانو په شکست خوشحالى وکړم.

۸ دا ښۀ ده چې په مالِک خُدائ کښې پناه واخلم،

د دې په ځائ چې په بنيادم توکل وکړم.

۹ دا بهتره ده چې په مالِک خُدائ کښې پناه واخلم،

نه چې په شهزادګانو توکل وکړم.

۱۰ زۀ ټولو قومونو راګېر کړم،

خو د مالِک خُدائ په نوم مې هغوئ مات کړل.

۱۱ زۀ هغوئ د هر طرف نه راګېر کړم،

خو د مالِک خُدائ په نوم مې هغوئ مات کړل.

۱۲ هغوئ زما نه لکه د مچو په شان راتاو شُو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه د ازغو د اور په شان زر هلاک شُو،

خو د مالِک خُدائ په نوم مې هغوئ مات کړل.

۱۳ هغوئ ما له سخته ديکه راکړه چې راپرېوځم،

خو مالِک خُدائ زما مدد وکړو،

۱۴ مالِک خُدائ زما سندره او طاقت دے،

هغه زما خلاصونکے جوړ شوے دے.

۱۵ د خوشحالئ او د کاميابئ چغې د صادقانو په خېمو کښې اورېدے شی،

”د مالِک خُدائ ښی لاس زورَور کارونه کړی دی.

۱۶ د مالِک خُدائ ښے لاس ډېر اوچت دے،

د مالِک خُدائ ښی لاس زورَور کارونه کړی دی.“

۱۷ زهٔ به نهٔ مرم خو ژوندے به يم،

او هغه څهٔ چې مالِک خُدائ کړی دی بيانوم.

۱۸ مالِک خُدائ ما ته سخته سزا راکړه،

خو زهٔ هغهٔ مرګ ته حواله نهٔ کړم.

۱۹ هغهٔ ما دپاره د صداقت دروازې پرانستې دی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ به په کښې وردننه شم او د مالِک خُدائ شکريه به ادا کړم.

۲۰ دا د مالِک خُدائ دروازه ده،

په کومه به چې صادقان ورداخل شی.

۲۱ زۀ به ستا شُکر ادا کړم، ځکه چې تا ما ته جواب راکړے دے،

تۀ زما خلاصونکے جوړ شوې.

۲۲ کوم کاڼے چې کِلکارانو رد کړے دے،

هم هغه کاڼے د ګوټ سر کاڼے جوړ شوے دے.

۲۳ دا کارونه مالِک خُدائ کړی دی،

دا زمونږ په خيال حېرانوونکے منظر دے.

۲۴ دا هغه ورځ ده چې مالِک خُدائ جوړه کړې ده،

نو راځئ چې خوشحالی وکړُو،

او په کښې خوشحاله اوسو.

۲۵ اے مالِکه خُدايه مونږه بچ کړه،

اے مالِکه خُدايه مونږ ته کاميابی راکړه.

۲۶ بختور دے هغه څوک چې د مالِک خُدائ په نوم راځی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مالِک خُدائ د کور نه مونږ ستاسو برکت غواړُو.

۲۷ مالِک خُدائ، خُدائ پاک دے،

هغهٔ خپله رڼا په مونږ باندې وځلوله،

قربانئ راولئ او په پړو يې د قربان‌گاه ښکرونو سره وتړئ.

۲۸ تهٔ مې خُدائ پاک يې او زهٔ به ستا شُکر ادا کړم،

تهٔ مې خُدائ پاک يې زهٔ به ستا لوئی بيان کړم.

۲۹ د مالِک خُدائ شُکر ادا کړئ ځکه چې هغه ښهٔ دے،

د هغهٔ مينه د تل دپاره پاتې کيږی.

## د خُدائ په کلام کښې تسلی او نُور

### الف

۱۱۹ ۱ بختور دی هغوئ د چا کارونه چې بې‌داغه وی

ځوک چې د مالِک خُدائ د شريعت په مطابق چليږی.

۲ بختور دی هغوئ ځوک چې د هغهٔ قانون ساتی

او په خپل ټول زړهٔ سره د هغهٔ لټون کوی.

۳ دوئ بې‌اِنصافه کارونه نهٔ کوی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او دوئ د هغهٔ په نقش قدم ځی.

۴ مونږ ته تا د خپلو اصُولو په حقله حُکم وکړو

چې هغه په پوره توګه ومنو.

۵ کاش چې زما لارې پخې شی

چې زهٔ ستا شریعت د خپل ځان نه څرګند کړم.

۶ نو بیا به زهٔ شرمنده نهٔ شم

ځکه چې زهٔ ستا په ټولو حُکمونو باندې عمل کوم.

۷ زهٔ به ستا په رښتینې زړهٔ سره شُکر ادا کړم

لکه څنګه چې زهٔ ستا صادقه قانون زده کوم.

۸ زهٔ به ستا اصُول منم،

په پوره توګه ما رد نهٔ کړې.

## بِت

۹ په ځوانئ کښې به څنګه یو کس خپل عمل پاک وساتی؟

څوک چې ستا د کلام په مطابق اوسیږی.

۱۰ زهٔ په پوره زړهٔ سره ستا لټون کوم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما مهٔ پرېږده چې ستا د حُکمونو نه بې‌لارې شم.

١١ ستا کلام مې خپل زړهٔ کښې ساتلے دے

نو چې زهٔ ستا خلاف ګناه ونهٔ کړم.

١٢ تهٔ ثناء صِفتونه تا ته دی اے مالِکه خُدايه،

ستا اصُول ما ته را زده کړه.

١٣ زهٔ په خپله خولهٔ د هغوئ بيان کوم

هغه ټول قوانين کوم چې ستا د خولې نه صادر شوی دی.

١٤ زهٔ ستا په اصُول منلو خوشحاله يم

لکه څنګه چې يو سړے په ډېر مال دولت خوشحاله وی.

١٥ زهٔ ستا په تعليماتو باندې غور کوم

او ستا د لارو احترام کوم.

١٦ زهٔ ستا په اصُولو خوشحالېږم،

او ستا کلام به زهٔ نهٔ هېروم.

## جمل

١٧ خپل خِدمتګار سره ښهٔ کوه نو زهٔ به داسې ژوندے يم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زۀ به ستا په کلام باندې عمل کوم.

١٨ سترګې مې پرانيزه چې زۀ ووينم

او ستا د قانون عجيبه حقائق وګورم.

١٩ زۀ په دې زمکه مسافر يم،

ما نه خپل حُکمونه مۀ پټوه.

٢٠ زما ځان په غوښتو غوښتو ستړے شوے دے

هر وخت ستا د قانون غوښتو دپاره.

٢١ تۀ کبرژن او لعنتيان رټې

او هغوئ څوک چې ستا د حُکمونو نه اوړېدلی دی.

٢٢ ما نه د هغوئ کينه او سپکوالے لرې کړه،

ځکه چې زۀ ستا قانون منم.

٢٣ تر دې چې بادشاهان رايوځائ کېږی او زما خلاف خبرې کوی،

خو ستا خِدمتګار به ستا په قانون غور کوی.

٢٤ ستا اصُول زما خوشحالی ده،

او زما دپاره ښۀ نصيحت دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دالت

۲۵ زهٔ په خاورو کښې پروت يم،

او په خپل کلام دې ما راژوندے کړه.

۲۶ ما خپلې لارې تا ته ښکاره کړې او تا جواب راکړو،

ما ته خپل اصُول راوښايه.

۲۷ ما د خپل کلام په تعليماتو باندې پوهه کړه،

نو ستا په عجيبه کارونو به بيا غور وکړم.

۲۸ د غمه زما ځان کمزورے شوے دے،

په خپل کلام دې ما له طاقت راکړه.

۲۹ ما د دروغژنو لارو نه وساته،

او د خپل شريعت په ښودلو کښې دې په ما مهربانى وکړه.

۳۰ ما د رښتينوالئ لاره خوښه کړې ده،

او ستا شريعت مې په خپل زړهٔ کښې ځائ کړے دے.

۳۱ مالِکه خُدايه ستا اصُول مې راتينګ کړى دى،

ما شرمېدو ته مهٔ پرېږده.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ زۀ ستا د شریعت په لار روان یم،

ځکه چې تا زما زړۀ لوئ کړے دے.

## هې

۳۳ اے مالِکه خُدایه ما ته وښایه چې ستا په شریعت عمل وکړم،

زۀ به تل په هغې باندې عمل کوم.

۳۴ نو ما ته ستا په شریعت باندې پوهه راکړه نو زۀ به بیا پرې عمل کوم

او په خپل ټول زړۀ سره به پرې عمل کوم.

۳۵ ما د خپلو حُکمونو په لارو باندې روان کړه،

او چې زۀ په کښې خپله خوشحالی پیدا کړم.

۳۶ زما زړۀ دې د خپل شریعت طرف ته راوګرځوه

او د مال دولت لالچ طرف ته یې مۀ ګرځوه.

۳۷ زما نظر د بېکاره څیزونو نه واړوه،

او د خپل کلام په مطابق دې ژوند راکړه.

۳۸ خپله وعده دې د خپل خِدمتګار سره پوره کړه،

هغه وعده چې تا د هغه چا سره کړې وه څوک چې تا نه یرېږی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۹ د کومې بې‌عزتۍ نه چې يرېږم هغه زما نه اخوا کړه،

ځکه چې ستا شريعت ښۀ دے.

۴۰ زۀ ستا د تعليماتو ځومره خواهشمند يم،

او په خپل صداقت کښې دې زما ژوند تازه کړه.

## واو

۴۱ خپله ابدی مينه دې ما له راکړه اے مالِکه خُدايه،

او د خپلې وعدې په مطابق دې خلاصون راکړه.

۴۲ ځوک چې ما ته پېغور راکوی نو بيا به زۀ جواب ورکړم،

ځکه چې زۀ ستا په کلام باور کوم.

۴۳ زما د خولې نه د حقيقت کلام مۀ اخله،

ځکه چې ما خپل اُميد ستا په شريعت باندې وتړلو.

۴۴ زۀ به هر وخت ستا د شريعت تابعداری کوم،

او د تل دپاره به يې منم.

۴۵ زۀ به په آزادۍ سره ګرځم،

ځکه چې ما خپل ځان ستا حُکمونو ته وقف کړے دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۶ زهٔ به ستا شریعت بادشاهانو ته بیان کړم

زهٔ به د چا نه هم نهٔ شرمېږم.

۴۷ ستا په حُکمونو کښې زما خوشحالی ده

ځکه چې زما ورسره مینه ده.

۴۸ ستا حُکمونه مې خوښېږی او عزت يې کوم،

او زهٔ ستا په اصُولو باندې سوچ کوم.

## زاين

۴۹ خپل خِدمتګار ته دې خپله خبره راياده کړه،

ځکه چې دا زما اُميد دے.

۵۰ زما په سختئ کښې هم دا زما تسلی ده،

چې هم ستا وعده به ما ژوندے ساتی.

۵۱ کبرژن زما د حد نه زيات سپکاوے کوی،

خو زهٔ به ستا د شريعت نه وانهٔ وړم.

۵۲ اے مالِکه خُدايه ستا پخوانے شريعت ما ته ياد دے،

او زما په دې باندې تسلی کيږی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵۳ زۀ بدکارانو ته ډيرې غصې راخستے يم،

هغوئ چا چې ستا شريعت پرېښے دے.

۵۴ ستا شريعت زما د سندرو مرکز دے

په هر ځائ کښې چې زۀ اوسېدلے يم.

۵۵ اے مالِکه خُدايه په شپه کښې زۀ ستا نوم يادوم،

زۀ به ستا په شريعت باندې عمل کوم.

۵۶ دا زما چال چلن وو،

چې ستا په قانون باندې عمل وکړم.

## حيت

۵۷ تۀ زما ميراث يې اے مالِکه خُدايه،

ما دا وعده کړې ده چې ستا په شريعت به عمل کوم.

۵۸ ما ستا د رضا په خپل ټول زړۀ سره لټون کړے دے.

د خپلې وعدې په مطابق په ما مهربانه اوسه.

۵۹ ما په خپلو لارو غور کړے دے

او ما خپل قدمونه ستا قانون ته راګرځولى دى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶۰ زهٔ به زړهٔ نا زړهٔ او ځنډ نهٔ کوم

چې ستا حُکمونه ومنم.

۶۱ هر څو کهٔ بدعمله مې په پړو تړل غواړی،

خو زهٔ به ستا شریعت نهٔ هېروم.

۶۲ په نیمه شپه راپاڅمه چې ستا شُکر ادا کړم

ستا د صادقه شریعت دپاره.

۶۳ هر څوک چې تا نه یرېږی زهٔ د هغوئ ټولو ملګرے یم،

او د هغوئ ټولو هم څوک چې ستا په شریعت عمل کوی.

۶۴ زمکه ستا د ابدی مینې نه ډکه ده اے مالِکه خُدایه،

ما ته د خپل اصُول سبق راوښایه.

## طیث

۶۵ د خپل خِدمتګار سره دې ښهٔ وکړل

د خپل کلام په مطابق اے مالِکه خُدایه.

۶۶ ما ته ښهٔ عقل او پوهه راوښایه،

ځکه چې زهٔ ستا په حُکمونو باور کوم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۶۷) د دې نه وړاندې چې تکلیف راورسیږی، بېلارې شوے وم،

خو اوس ستا په کلام عمل کوم.

(۶۸) ته ښهٔ يې او نیک کارونه کوې،

ما ته دې خپل اصُول راوښايه.

(۶۹) کهٔ څهٔ هم چې مغرورانو په ما پورې دروغ تړلی دی،

زهٔ د خپل ټول زړهٔ سره ستا اصُول ساتم.

(۷۰) د دوئ زړونه بېاحساسه او بېرحمه دی،

خو ستا په قانون کښې زهٔ خوشحاله يم.

(۷۱) دا زما دپاره ښه وه چې په تکلیف شوم

نو دغه شان به زهٔ ستا قانون زده کړم.

(۷۲) ستا د خولې خبره زما دپاره ډېر اهمیت لری

په زرګونو د سپينو او سرو زرو سیکو نه.

**يود**

(۷۳) تا زهٔ په خپلو لاسونو جوړ او تيار کړمه

نو ما له پوهه راکړه چې ستا حُکمونه زده کړمه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷۴ هغه ځوک چې تا نه يرېږی دوئ دې خوشحالی وکړی کله چې ما وګوری
ځکه چې ما خپل اُميد ستا کلام پورې تړلے دے
۷۵ زۀ په دې پوهېږمه اے مالِکه خُدايه چې ستا شريعت صادق دے
او د خپلې وفادارئ په وجه دې زۀ په تکليف کړے يمه
۷۶ ستا نۀ ختمېدونکې مينه دې ما له تسلی راکړی
د هغه وعدې په مطابق کومه چې تا د خپل خِدمتګار سره کړې ده
۷۷ په ما رحم وکړه چې زۀ ژوندے پاتې شمه
ځکه چې ستا شريعت ما خوشحالوی
۷۸ کبرژن دې په شرمونو وشرمېږی برناحقه په ما دروغ وائی
خو زۀ ستا په لاربښودنو باندې غور او فکر کومه
۷۹ ما ته دې راشی ځوک چې تا نه يرېږی
هغوئ ځوک چې ستا په شريعت پوهېږی
۸۰ زما زړۀ دې ستا قانون منلو دپاره بېداغه وی
نو داسې به زۀ ونۀ شرمېږمه.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## کاپ

٨١ ستا د خلاصون په انتظار زما ځان کمزورے کیږی

خو ما خپل اُمید ستا کلام پورې تړلے دے

٨٢ ستا د وعدې په انتظار مې سترګې ړندې شوې

زۀ دا وایم چې، "تۀ به ما له تسلی کله راکوې؟"

٨٣ زۀ په لوګی کښې لکه د مشک په شان اوچ شوے یم.

خو ستا اصُول نۀ هېرومه

٨٤ ترڅو به ستا خِدمتګار انتظار کوی

څوک چې زما سره زیاتے کوی تۀ به کله سزا ورکوې

٨٥ زما دپاره مغروران کنده جوړوی

څکه چې ستا د قانون مخالفت کوی

٨٦ ستا ټول حُکمونه باوری دی

زما مدد وکړه څکه چې بېوجه ما خلق زوروی

٨٧ زۀ خو دوئ تقریباً د زمکې نه ورک کړے یمه

خو ستا اصُول ما پرېښودی نۀ دی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸۸ د خپلې وفادارۍ مينې په مطابق دې زما ژوند وساته

نو زۀ به ستا د خولې په تعليماتو عمل وکړمه

## لميد

۸۹ اے مالِکه خُدايه ستا کلام ابدى دے

او دا په آسمانونو کښې قائم دے

۹۰ ستا وفادارى به په ټولو نسلونو کښې وى

تا زمکه پېدا کړه چې تر اوسه لا قائمه ده

۹۱ ستا شريعت تر نن ورځې پورې قائم دے

نو ټول خيزونه ستا خِدمتګاران دى

۹۲ کۀ چرې ستا شريعت زما خوشحالى نۀ وے

نو زۀ به په خپل مصيبت کښې تباه شوے ومه

۹۳ زۀ به هيڅکله هم ستا تعليمات نۀ هېرومه

ځکه چې په دوئ باندې تا زما ژوند تازه ساتلے دے

۹۴ ما بچ کړه ځکه چې زۀ ستا يمه

ما ستا د تعليماتو لټون کړے دے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٩٥ بدکاران زما د تباه کولو په انتظار کښې دی

خو زۀ به ستا په قانون غور کومه

٩٦ تر دې چې زۀ د هر يو کامِل کار څۀ حد وينمه

خو ستا د حُکمونو څۀ حد نۀ وينمه.

## ميم

٩٧ خو ګوره زۀ ستا د قانون سره څومره مينه کومه

او زۀ ټوله ورځ په دې سوچ کومه

٩٨ ستا حُکمونه ما د خپلو دشمنانو نه ډېر هوښياروی

ځکه چې هغه ما سره د تل دپاره دی

٩٩ زۀ د خپلو ټولو اُستاذانو نه ډېر هوښيار يمه

نو ځکه زۀ ستا په شريعت غور کومه

١٠٠ زۀ د مشرانو نه ډېره زياته هوښيارتيا لرمه

ځکه چې زۀ ستا په شريعت عمل کومه

١٠١ ما د هرې بدې لارې نه خپل قدمونه ساتلی دی

نو چې زۀ ستا په کلام عمل وکړے شمه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰۲ زۀ ستا د شریعت نه جدا شوے نۀ یمه

ځکه چې تا په خپله ما ته تعلیم راکړے دے

۱۰۳ ستا کلام زما دپاره خومره خوږ دے

زما د خولې دپاره د شاتو نه هم خوږ دے

۱۰۴ ما عقل ستا د تعلیماتو نه زده کړو

نو په دې وجه د غلطو لارو نه نفرت کومه

## نون

۱۰۵ ستا کلام زما د پښو دپاره ډیوه ده

او زما د لارې دپاره رڼا ده

۱۰۶ ما قسم خوړلے او په هغې ولاړ یم

چې زۀ به ستا په صادق شریعت باندې عمل کومه

۱۰۷ اے مالِکه خُدایه ما ډیر تکلیفونه تیر کړل

د خپل کلام په مطابق دې زما ژوند تازه کړه

۱۰۸ اے مالِکه خُدایه زما د خولې نه د اخلاص نه ډک ثناء صِفت قبول کړه

او د خپل شریعت تعلیم دې ما ته راکړه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٠٩ کۀ څۀ هم چې هر وخت خپل ژوند په خطره کښې اچومه

خو زۀ به ستا شريعت نۀ هېرومه

١١٠ بدکارانو ما ته دام خور کړے دے

خو بيا هم زۀ ستا د تعليماتو نه بې‌لارې نۀ شومه

١١١ ستا حُکمونه مې د تل دپاره ميراث دے

دا زما د زړۀ خوشحالی ده

١١٢ زما زړۀ ستا د حُکمونو په ساتلو بوخت دے

او دا قانون به تر ابده پورې منمه

## سامېخ

١١٣ زۀ دوه مخيزه سړی نه کرکه کومه

خو زۀ ستا قانون سره مينه کومه

١١٤ تۀ زما پناه او زما ډال يې

ما خپل اُميد ستا د کلام پورې تړلے دے

١١٥ اے بدکارو خلقو ما نه لرې شئ

چې زۀ د خپل خُدائ پاک په حُکمونو عمل وکړمه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱۶ د خپلې وعدې په مطابق دې ما سمبال کړه چې ژۀ ژوندے پاتې شمه

او د خپل اُمید نه دې شرمنده نۀ شمه

۱۱۷ ما ته سهاره راکړه نو ژۀ به بچ شمه

نو بیا به ژۀ د تل دپاره ستا په شریعت غور کومه

۱۱۸ تۀ هغوئ ټول رد کوې څوک چې ستا د شریعت نه اوړی

او د هغوئ دوکه بلکل عبث ده

۱۱۹ تۀ د دُنیا ټول بدعمله لکه د خزلې په شان غورزوې

نو په دې وجه ژۀ ستا قانون سره مینه کومه

۱۲۰ ستا د یرې نه زما بدن رپی

او ژۀ ستا د عدالت نه یرېږمه

## عین

۱۲۱ ما هغه څۀ وکړل څۀ چې صداقت او اِنصاف وی

ما خپلو دشمنانو ته مۀ پرېږده

۱۲۲ خپل خِدمتګار ته د ښۀ ژوند ضمانت ورکړه

کبرژن مۀ پرېږده چې په ما ظلم وکړی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲۳ ستا خلاصون پسې سترګې مې سترې شوې

او ستا د رښتينې وعدې انتظار کومه

۱۲۴ د خپل خِدمتګار سره دې د خپلې ابدى مينې په مطابق سلوک وکړه

او د خپلو اصُولو تعليم دې ما ته راکړه

۱۲۵ زۀ ستا خِدمتګار يم ما له پوهه راکړه

چې زۀ ستا په قانون باندې پوهه شمه

۱۲۶ اے مالِکه خُدايه اوس ستا د قدم اوچتولو دا وخت دے

ځکه چې ستا قانون مات شوے دے

۱۲۷ ځکه زۀ ستا د حُکمونو سره مينه کومه

د سرو زرو نه زياته او د خالص سرو زرو نه زياته

۱۲۸ او ځکه زۀ ستا ټول تعليمات صحيح ګڼمه

او زۀ د هر يوې خطا لارې نه نفرت کومه

## پې

۱۲۹ ستا شريعت ښکلے دے

نو ځکه زۀ په دې باندې عمل کومه



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٣٠ ستا د کلام تعلیم نُور ورکوی

او جاهلانو خلقو ته پوهه ورکوی

١٣١ ستا د حُکمونو دومره تږے یمه

چې د حُکمونو ارمانی دې یمه

١٣٢ ما ته راشه او په ما رحم وکړه

څنګه چې تۀ تل د هغوئ سره مینه کوې، څوک چې ستا نوم سره مینه کوی

١٣٣ زما قدمونه ستا د کلام په لاره روان کړه

او هيڅ قسمه ګناه دې په ما حکومت نۀ کوی

١٣٤ ما ته د انسان د ظلم زور نه خلاصون راکړه

نو چې زۀ ستا په تعلیماتو باندې عمل وکړمه

١٣٥ خپل د مخ رڼا دې په خپل خِدمتګار وځلوه

او د خپل شریعت تعلیم دې ما ته راکړه

١٣٦ د اوښکو سیلابونه مې د سترګو نه بهیږی

ځکه چې ستا په شریعت باندې عمل نۀ کیږی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

**تصده**

۱۳۷ تهٔ صادقه يې اے مالِکه خُدايه

او ستا فېصلې د اِنصاف دى

۱۳۸ کوم شريعت چې تا مقرر کړے دے هغه د صداقت نه ډک دے

او هغه بلکل باورى دے

۱۳۹ زما غېرت ما سوزوى

ځکه چې زما دشمنانو ستا کلام هېر کړے دے

۱۴۰ ستا کلام ډېر پاک دے

نو ځکه ستا خِدمتګار د هغې سره مينه کوى

۱۴۱ کهٔ څهٔ هم چې زهٔ ورکوټے او حقير يمه

خو زهٔ ستا تعليمات نهٔ هېرومه

۱۴۲ ستا صداقت ابدى دے

او ستا قانون رښتونے دے

۱۴۳ غم او تکليف ما باندې راغلے دے

خو ستا په حُکمونو کښې زما خوشحالى ده



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴۴ ستا اصُول تر ابده صحیح دی

ما له پوهه راکړه چې زهٔ ژوندے پاتې شمه

**قوف**

۱۴۵ د خپل ټول زړهٔ سره تا ته سوال زاری کومه جواب راکړه مالِک خُدایه

زهٔ به ستا په شریعت باندې عمل کومه

۱۴۶ زهٔ تا ته سوال کومه ما بچ کړه

چې زهٔ به ستا په شریعت باندې عمل کومه

۱۴۷ سحر سبا راپاڅمه او د مدد دپاره تا ته سوال زاری کومه

او زهٔ ستا په کلام خپل اُمید ترمه

۱۴۸ ټوله شپه زما سترګې کولاو وی

چې زهٔ ستا په وعدو باندې غور وکړمه

۱۴۹ د خپلې مینې په مطابق دې زما آواز واوره

د خپل رحم په مطابق دې زما ژوند بچ کړه اے مالِکه خُدایه

۱۵۰ څوک چې بدې منصوبې جوړوی ما ته رانزدې دی

خو دوئ ستا د شریعت نه لرې دی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵۱ خو اوس تهٔ رانزدې يې اے مالِکه خُدايه

او ستا حُکمونه ټول صحيح دی

۱۵۲ ہیر د پخوا نه ما ستا د قانون نه زده کړی دی

چې تهٔ هغه همیشه دپاره قائم ساتې

## ريش

۱۵۳ زما مصيبت ته وګوره او ما بچ کړه

ځکه چې ما ستا قانون هېر کړے نهٔ دے

۱۵۴ په عدالت کښې زما دفاع وکړه او آزاد مې کړه

او د خپلې وعدې په مطابق دې زما ژوند وساته

۱۵۵ خلاصون د بدعملو نه لرې دے

ځکه چې هغوئ ستا د قانون لټون نهٔ کوی

۱۵۶ ستا رحم ہیر لوئ دے اے مالِکه خُدايه

او د خپل شريعت په مطابق دې زما ژوند بچ کړه

۱۵۷ زما دشمنان ہیر دی ځوک چې ما ازاروی

خو زهٔ ستا د شريعت نه اوړېدلے نهٔ يم



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۵۸ زۀ بې‌ایمانانو ته سپک ګورمه

ځکه چې دوئ ستا په کلام عمل نۀ کوی

۱۵۹ او ګوره زۀ ستا د حُکمونو سره څومره مينه کومه

د خپلې ابدی مينې په مطابق دې زما ژوند بچ کړه اے مالِکه خُدايه

۱۶۰ ستا ټول کلام رښتونے دے

او ستا ټول صادق کلام ابدی دے

## ش

۱۶۱ بادشاهان بې‌وجې ما ازاروی

خو زما زړۀ ستا په کلام د يرې نه درزيږی

۱۶۲ زۀ ستا په وعدو کښې خوشحالی کومه

لکه څوک چې پيدا کړی لويه خزانه

۱۶۳ زۀ دروغ بد ګڼم او ترې نه نفرت کومه

خو زۀ ستا قانون سره مينه کومه

۱۶۴ په ورځ کښې زۀ اووۀ ځله ستا ثناء وايمه

ځکه چې ستا ټول شريعت د اِنصاف دے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٦٥ هغوئ په لوئ امن کښې دی څوک چې ستا قانون سره مينه کوی

او هيڅ څيز به هغوئ له تيندک ورنۀ کړی

١٦٦ زۀ ستا د خلاصون په انتظار يم اے مالِکه خُدايه

او زۀ ستا په حُکمونو باندې عمل کومه

١٦٧ زۀ ستا په تعليماتو باندې عمل کومه

ځکه چې زۀ ورسره ډېره مينه لرمه

١٦٨ زۀ ستا تعليماتو شريعت باندې عمل کومه

ځکه چې تۀ خبر يې زما د ټولو کارونو نه

## تو

١٦٩ زما سوال زاری دې تا ته دروړسيږی اے مالِکه خُدايه

د خپل کلام په مطابق دې ما له پوهه راکړه

١٧٠ زما خواستونه دې تا ته دروړسيږی

د خپل کلام په مطابق دې ما له ژوند راکړه

١٧١ زما په ژبه دې ستا ثناء صِفت وی

ځکه چې تا ما ته خپل قانون ښودلے دے



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷۲ زما ژبه دې ستا د کلام سندرې ووائى

ځکه چې ستا ټول حُکمونه صادق دى

۱۷۳ ستا لاس دې هر وخت زما د مدد دپاره تيار وى

ځکه چې ما ستا شريعت غوره کړے دے

۱۷۴ ستا د خلاصون زۀ ارمانى يمه اے مالِکه خُدايه

او زۀ ستا په شريعت کښې خوشحاله يمه

۱۷۵ ما ته ژوند راکړه ترڅو ستا ثناء صِفت وکړمه

او ستا قانون دې ما وساتى

۱۷۶ زۀ د ورکې شوې ګډې په شان بې‌لارې شوے يمه

خپل خِدمت کوونکے دې ولټوه

ځکه چې ما هېر کړى نۀ دى ستا حُکمونه.

## يروشلم ته د ختلو سرود

## د صداقت دُعا

**۱۲۰** ۱ په سخته کښې مالِک خُدائ ته سوال زارى کوم،

او زما سوال هغه قبلوى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ ما د دروغژنو شونډو نه بچ کړه اے مالِکه خُدايه
او د دوکه بازو ژبو نه مې وساته
۳ اے دوکه مارو ژبو هغه به تاسو سره څۀ وکړی؟
او د دې سزا سره به نور تاسو سره څۀ وکړی؟
۴ هغه به تاسو ته د جنګيالو د تېرو غشو سره سزا درکړی،
او په سرو سکروټو به سزا درکړی.
۵ افسوس دې وی په ما چې زۀ په مسک کښې لکه مسافر اوسېږم،
زۀ د قيدار د خېمو په مينځ کښې اوسېږم.
۶ زۀ ډېر زيات اوسېدلے يم
د هغو خلقو په مينځ کښې څوک چې امن نه نفرت کوی.
۷ زۀ صُلح خوښوونکے او امن پسند يم،
خو چې کله زۀ د صُلحې خبرې کوم هغوئ جنګ غواړی.

## يروشلم ته د ختلو سرود

# ۱۲۱

۱ ما خپلې سترګې غرونو ته نيولې دی.
چې زما مدد به د کوم ځايه راځی؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ زما مدد د مالِک خُدائ نه راځی،

چې د زمکې او آسمان جوړونکے دے.

٣ ستا پښې به هغه ښوئېدو ته نۀ پرېږدی،

هغه څوک چې ستا حِفاظت کوی هغۀ له خوب نۀ ورځی.

٤ په حقيقت کښې هغه څوک چې د بنی اِسرائيلو حفاظت کوی،

هغۀ ته نۀ خوب جوتېه ورکوی او نۀ اودۀ کېږی.

٥ مالِک خُدائ ستاسو حفاظت کوی،

مالِک خُدائ لکه د سورې په شان تا سره دے.

٦ په ورځ کښې به نمر تکليف نۀ درکوی،

او نۀ به سپوږمۍ په شپه کښې نقصان درکوی.

٧ مالِک خُدائ به ستاسو د هر مصيبت نه حفاظت کوی،

هغه به ستا په ژوند باندې نظر ساتی.

٨ مالِک خُدائ به ستا په تلو راتلو کښې حفاظت کوی،

د اوس نه تر ابده پورې به ستا حفاظت کوی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد یروشلم ته د ختلو سرود

# ۱۲۲

۱ ما به د هغوئ سره خوشحالی کوله
چا چې به ما ته وئيل، "راځئ چې د مالِک خُدائ کور ته ځو."
۲ اے یروشلمه اوس مونږ ستا په دروازو کښې ولاړ یُو.
۳ یروشلم د هغه ښار په شان جوړ شوے دے،
چې ټول ښار د یو بل پسې پیوسته جوړ شوے وی.
۴ چرته چې د بنی اِسرائیلو قبیلې بره ورخیژی،
د مالِک خُدائ قبیلې ورخیژی،
چې د مالِک خُدائ د نوم ثناء ووائی،
د هغه شریعت په مطابق چې بنی اِسرائیلو ته ورکړے شوے دے.
۵ هلته د اِنصاف دپاره د عدالت تختونه قائم دی،
د داؤد د خاندان تختونه قائم دی.
۶ د یروشلم د سلامتیا دپاره دُعا وغواړه،
"او ځوک چې کوی تا سره مینه آباد دې وی.
۷ او ستا په دېوالونو کښې دې سلامتیا وی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ستا په برجونو کښې دې امن او قرارى وى.“

٨ زما د ورونړو او دوستانو په خاطر يې غواړم،

”په تا کښې دې امن او سلامتى وى،“ زهٔ به دا وايم.

٩ او زمونږ د مالِک خُدائ او خُدائ پاک د کور په خاطر يې غواړم،

او زهٔ به ستا خير خواه يم.

## يروشلم ته د بره ختلو يو سرود

# ١٢٣

١ ما خپلې سترګې تا ته نيولې دى،

تا ته د چا تخت چې په آسمان کښې دے.

٢ لکه څنګه چې غلام د خپل مالِک لاس ته ګورى،

او لکه څنګه چې وينځه د خپلې بى‌بى لاس ته ګورى،

نو دغه شان زمونږ سترګې د مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک ته ګورى،

تر هغې چې هغه مونږ ته خپل رحم وښائى.

٣ په مونږ باندې رحم وکړه، اے مالِکه خُدايه، تهٔ په مونږ ورحمېږه،

ځکه چې مونږ د حد نه زيات سپک شو.

٤ د کبرژنو ډيرې زياتې مسخرې مونږ تېرې کړې دى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موږ د مغرورانو ډېر سپکاوے زغملے دے.

## د حضرت داؤد یروشلم ته د بره ختلو یو سرود

# ۱۲۴

۱ کۀ چرته مالِک خُدائ زموږ مل نۀ وے،

نو بنی اِسرائیل دې داسې وائی

۲ کۀ چرته مالِک خُدائ زموږ مل نۀ وے،

کله چې خلقو په موږ حمله وکړه،

۳ کله چې هغوئ زموږ خلاف سخت په قهر وُو،

نو دوئ به موږ ژوندی تیر کړی وُو.

۴ نو سېلاب به موږ راګېر کړی وُو،

او خوړ به موږ جارُو کړی وُو.

۵ او غضبناکو اوبو به موږ لاندې کړی وُو.

۶ مالِک خُدائ ته دې ثناء صِفت وی،

څوک چې به موږ د هغوئ د غاښونو شلولو ته ورنۀ کړی.

۷ موږ لکه د مرغۍ په شان د ښکاری د دام نه وتښتېدلو،

او جال شلېدلے وو او موږ ترې وتښتېدلو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ زمونږ مدد د مالِک خُدائ په نوم کښې دے،

چې د آسمان او زمکې جوړونکے دے.

## يروشلم ته د ختلو سرود

**۱۲۵** ۱ هغوئ څوک چې په مالِک خُدائ ايمان لرى د صيون د غرۀ په شان دى،

کوم چې نۀ خوځيږى او د تل دپاره قائم دے.

۲ لکه څنګه چې غرونه د يروشلم نه راتاو دى،

نو دغه شان مالِک خُدائ د خپلو خلقو نه راتاو دے

يعنې د اوس نه تر ابده پورې.

۳ د بدعملو حکومت او اقتدار به پاتې نۀ شى،

په هغه زمکه کومه چې صادقانو ته ورکړے شوې ده،

ځکه هسې نۀ چې صادقان هم په بد عملونو باندې اخته شى.

۴ اے مالِکه خُدايه هغوئ سره ښۀ کوئ څوک چې ښۀ وى،

هغوئ سره د چا چې زړونه صادق وى.

۵ خو هغوئ څوک چې بدو او کږو لارو ته اوړى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ به هغه بدکاران وشړی،

سلامتيا دې په بنی اِسرائيلو وی.

## يروشلم ته د ختلو سرود

**۱۲۶** ۱ کله چې مالِک خُدائ شړلے شوی قېديان واپس صيون ته راوستل،

مونږ د هغه خلقو په شان وُو چا چې خوب ليدلے وی.

۲ زمونږ خولې د خندا نه ډکې وې،

او زمونږ په ژبو چې د خوشحالی سندرې وې.

نو بيا دا د قومونو په مينځ کښې وئيلے کېدل،

چې، "مالِک خُدائ د هغوئ دپاره لوئ کارونه کړی دی."

۳ مالِک خُدائ مونږ له لوئ کارونه کړی دی،

او مونږ ډېر خوشحاله شو.

۴ مالِکه خُدايه زمونږ حالات دوباره په ځائ کړه،

لکه څنګه چې نِهرونه صحراګانې تازه کوی.

۵ څوک چې په اوښکو سره کَر وکړی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغوئ به لَو په خوشحالئ سره وکړی.

٦ او څوک چې په ژړا سره بهر ته ځی،

او تخم د کَرلو دپاره وړی،

خو هغوئ به په سندرو او خوشحالئ سره واپس راشی،

کله چې ګېډئ په لاس کښې راوړی.

## د حضرت سليمان يروشلم ته د ختلو يو سرود

# ١٢٧

١ ترڅو چې مالِک خُدائ يو کور جوړ نۀ کړی،

د هغې د جوړونکی محنت بېکاره دے.

ترڅو چې د خُدائ نظر په ښار نۀ وی،

د هغې چوکيداران بېکاره ولاړ وی.

٢ خوراک پسې وختی پاڅېدل

او تر ناوخته ويښ پاتې کېدل بېفائدې دی،

خُدائ پاک چې چا سره مينه کوی

کۀ هغه اودۀ وی نو ورته خوراک ورکوی.

٣ د مالِک خُدائ د طرف نه زامن ميراث دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ماشومان د هغۀ د خوا نه اجر دے.

۴ لکه څنګه چې د جنګيالى په لاس کښې غشى وى،

داسې وى لکه د چا چې په ځوانۍ کښې زامن وى.

۵ هغه څوک به بختور وى،

چې د چا چې تيلۍ د دغه شان غشو نه ډکه وى،

نو دوئ به ونۀ شرمولے شى،

کله چې دوئ د ښار په دروازو کښې د دشمن سره په مقابله شى.

## يروشلم ته د ختلو سرود

۱۲۸ ۱ بختور دى هغوئ ټول څوک چې د مالِک خُدائ نه يرېږى،

او څوک چې د هغۀ په لارو روان وى.

۲ تاسو به د خپل محنت مېوه وخورئ،

برکتونه او خير به ستاسو وى.

۳ او ستا ښځه به لکه د مېوه داره انګورو بوټى په شان وى،

او ستا زامن به لکه د زيتون بوټى په شان وى،

ستا د دسترخوان نه به راچاپيره وى.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ نو دغه شان سړے به بختور وی،
څوک چې د مالِک خُدائ نه یریږی.
۵ د صيون نه دې مالِک خُدائ تا له برکت درکړی،
او ته په خپل ټول ژوند کښې د يروشلم آبادی وګورې.
۶ او ته دې تر هغې پورې ژوندے پاتې شې
چې د خپلو بچو بچی وګورې،
په بنی اِسرائيلو دې سلامتيا وی.

## يروشلم ته د ختلو سرود

# ۱۲۹

۱ ”هغوئ د ماشوموالی نه په ما باندې ډېر زياتے کړے دے،“
بنی اِسرائيل پرېږده چې داسې ووائی.
۲ ”هغوئ د ماشوموالی نه په ما باندې ډېر زياتے کړے دے،
خو هغوئ ما ته شکست نۀ دے راکړے.
۳ زما دشمنانو زۀ دومره وهلے يم،
لکه د يوه کوونکی په شان يې زما په ملا اوږدې پولې جوړې کړې دی.“
۴ خو مالِک خُدائ صادق دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زۀ يې د شړيرانو د رسۍ نه آزاد کړے يم.

۵ هر څوک چې د صيون نه کرکه کوی،

هغوئ به په شرم وشرميږی او شکست به وخوری.

۶ هغوئ دې د چت د واښو په شان اوچ شی،

کوم چې د غټېدو نه وړاندې اوچ شی.

۷ د لَوګرو لاسونه دې پرې ډک نۀ شی،

څوک يې چې راټولوی نو د هغۀ غېږه دې پرې ډکه نۀ شی.

۸ هغوئ څوک چې پرې تېرېږی دا دې نۀ وائی،

چې، ”د مالِک خُدائ برکت دې په تا وی،

مونږ تا ته د مالِک خُدائ په نوم برکت درکوو.“

## يروشلم ته د ختلو سرود

# ۱۳۰

۱ اے مالِکه خُدايه، لاندې د ژورې نه تا ته ژړا کومه،

۲ مالِکه خُدايه، زما ژړا ته غوږ شه، او په ما رحم وکړه.

۳ اے مالِکه خُدايه، کۀ تا، د ګناهونو حساب کړے وے،

اے مالِکه خُدايه، نو څوک ستا مخکښې ودرېدے شی؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ خو تا سره د معافۍ امکان شته دے،

نو په دې وجه خُدایه، چې مونږ ستا په یره وپوهېږو.

۵ زۀ د مالِک خُدائ انتظار کومه، او زما روح هم انتظار کوی،

او زما اُمید د هغۀ په کلام باندې دے.

۶ زما روح د مالِک خُدائ انتظار کوی،

د یو څوکیدار نه زیات څوک چې د سحر کېدو انتظار کوی،

آو، د یو څوکیدار نه زیات څوک چې د سحر کېدو انتظار کوی،

۷ اے بنی اِسرائیلو، د مالِک خُدائ اُمید ساتئ،

د مالِک خُدائ مینه ابدی ده

او هغۀ سره پوره خلاصون دے.

۸ او هغه په خپله به د هغوئ د ټولو ګناهونو نه

د بنی اِسرائیلو فدیه ورکړی.

## د حضرت داؤد یروشلم ته د ختلو سرود

# ۱۳۱

۱ زما زړۀ کبرژن نۀ دے اے مالِکه خُدایه،

زما سترګې مغروره نۀ دی او نۀ خپل ځان په غټو مسائیلو کښې راګېروم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او نۀ په هغه حېرانونکی ښيزونو کوم چې زما د فکر نه بهر دی.

٢ خو ما خپل روح په آرام او خاموش کړو،

لکه څنګه چې د غېږې ماشوم د خپلې مور سره په آرام وی.

نو دغه شان زما روح به په ما کښې په آرام وی.

٣ اے بنی اِسرائيلو په مالِک خُدائ باندې توکل کوئ

د اوس نه تر ابده پورې.

## يروشلم ته د ختلو سرود

١٣٢ ١ اے مالِکه خُدايه داؤد ياد ساته

او ټول هغه کړاونه کوم چې هغۀ وزغمل ياد ساته.

٢ هغۀ د مالِک خُدائ سره قسم وخوړلو

او د يعقوب د قادر مطلق خُدائ پاک سره يې وعده وکړه،

٣ ”او زۀ به خپل کور ته نۀ ورننوځم

او نۀ به خپل کټ کښې آرام وکړم.

٤ او نۀ به سترګې پټې کړم

او نۀ به سترګې مرغۍ کېدو ته پرېږدم،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ تر دې چې مالِک خُدائ له ځائ پېدا کړم،

او د يعقوب قادر خُدائ له د اوسېدو ځائ پېدا کړم.“

۶ مونږ د لوظ صندوق ذکر په اِفراته کښې واورېدلو،

او مونږ هغه د يعريم په مُلک کښې ومونډلو.

۷ ”راځئ چې مونږه د هغهٔ د اوسېدو ځائ ته لاړ شُو،

راځئ چې د هغهٔ د پښو چوکۍ په وړاندې هغهٔ ته سجده وکړُو.“

۸ مالِکه خُدايه پاڅه او خپل مقدس عرش ته دې راشه،

خپل د لوظ صندوق سره چې ستا د قدرت نښه ده.

۹ ستا اِمامان دې د صداقت جامې واچوی،

او ستا مقدسين دې د خوشحالۍ سندرې ووائی.

۱۰ ستا د خِدمتګار داؤد په خاطر

خپل غوره شوی دې مهٔ رد کوه.

۱۱ مالِک خُدائ د خپل خِدمتګار داؤد سره قسم وکړو

يو داسې پوخ قسم چې هغه به نهٔ ماتوی،

”چې زهٔ به يو کس ستا د نسل نه ستا په تخت کښېنوم.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ کۀ ستا زامن زما لوظ پوره وساتی

او ستا هغه اصُول منی کوم چې ورته وښايم،

نو بيا به د هغوئ زامن تر ابده پورې ستا په تخت ناست وی."

۱۳ ځکه چې مالِک خُدائ صيون خوښ کړے دے،

هغۀ د اوسېدو دپاره دغه ځائ خوښ کړے دے،

۱۴ "دا زما تر ابده پورې د آرام ځائ دے،

او هلته به زۀ په تخت کښېنم د کوم چې ما خواهش کړے وو.

۱۵ دا به زۀ په ډېر پېداوار باندې بختور کړم،

او د هغې غريبان به زۀ په خوراک باندې ماړۀ کړم.

۱۶ زۀ به د خلاصون جامې ورواغوندم د دې اِمامانو ته،

د هغې مقدسين دې د خوشحالئ سندرې ووائی.

۱۷ دلته به زۀ د داؤد د فخر ښکر جوړ کړم،

د خپل مقرر شوی کس دپاره به ډيوه بله کړم.

۱۸ زۀ به د هغې دشمنانو ته د شرم جامې واغوندم،

او د هغۀ په سر تاج به د لوئې مرتبې وی."



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## يروشلم ته د حضرت داؤد د ختلو سرود

**۱۳۳** ۱ ښۀ خوږ ږمره ده او د مزې خبره ده
کله چې ورونه په يو اتفاق سره اوسيږى.
۲ دا د هغه قيمتى تيلو په شان چې په سر باندې لګولے شوى وى،
او د هارون په ږيره بهيدلى وى،
او د هغۀ د چُوغې په غاړه راروان وى.
۳ دا لکه د حرمون د پرخې په شان چې د صيون په غر باندې راوريږى،
دا ځکه چې مالِک خُدائ هلته خپلو خلقو ته برکت ورکوى.
تر دې چې ابدى ژوندون ورکوى.

## يروشلم ته د حضرت داؤد د ختلو سرود

**۱۳۴** ۱ د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ اے د مالِک خُدائ ټولو خِدمتګارانو،
څوک چې د شپې د مالِک خُدائ په کور کښې خِدمت کوئ.
۲ خپل لاسونه د خُدائ په مقدس ځائ کښې پورته کړئ.
او د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ مالِک خُدائ د آسمان او زمکې پېدا کوونکے دے،

تاسو ته دې صيون نه برکت درکړی.

## د حمد و ثناء سرود

# ۱۳۵

۱ د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ،

د مالِک خُدائ د نوم ثناء صِفت وکړئ،

اے د مالِک خُدائ خِدمتګارانو تاسو د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ،

۲ تاسو څوک چې د مالِک خُدائ کور کښې خِدمت کوئ،

زمونږ د خُدائ پاک د کور په دربار کښې.

۳ د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ ځکه چې مالِک خُدائ ښهٔ دے،

د هغهٔ د نوم ثناء صِفت وکړئ.

ځکه چې ډېره مزه کوی.

۴ ځکه چې مالِک خُدائ يعقوب غوره کړو،

د دې دپاره چې هغه د هغهٔ شی،

او بنی اِسرائيل چې د هغهٔ خاص ملکيت شی.

۵ زهٔ پوهېږم چې مالِک خُدائ لوئ دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمونږ مالِک خُدائ د نورو ټولو معبودانو نه لوئ دے.

٦ مالِک خُدائ هغه څۀ کوی څۀ چې هغه خوشحالوی،

په ټوله زمکه او آسمانونو کښې،

په سمندرونو کښې او د هغۀ په ټولو ژورو ځايونو کښې.

٧ د زمکې د آخر سر نه هغه وريځې راپورته کوی،

او هغه باران سره برېښنا رالېږی

او هغه هوا د خپلو ذخيرو نه رالوځوی.

٨ هغۀ وړومبی پېدا شوی ماشومان ووژل د مِصريانو،

وړومبی پېدا شوی د سړو او د څناورانو.

٩ هغۀ په مِصر کښې معجزې او عجيبه کارونه وکړل،

د فِرعون او د هغۀ د ټولو نوکرانو په خلاف.

١٠ هغۀ ډېرو قومونو ته شکست ورکړو

او هغۀ طاقتور بادشاهان ووژل،

١١ د اموريانو بادشاه سيحون د بسن بادشاه عوج،

هغۀ د کنعان ټول بادشاهان ووژل.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ او هغهٔ د هغوئ مُلک په میراث کښې ورکړو،

او خپلو خلقو بنی اِسرائیلو ته يې په میراث کښې ورکړو.

١٣ ستا نوم مالِکه خُدايه د تل دپاره یادیږی،

او ستا نوم به په ټولو نسلونو کښې یادیږی.

١٤ ځکه چې مالِک خُدائ د خپلو خلقو اِنصاف کوی،

او هغه په خپلو خِدمتګارانو رحم کوی.

١٥ د قومونو بُتان چې د سرو زرو او سپینو نه جوړ شوی دی،

د انسانانو په لاسونو جوړ شوی دی.

١٦ د هغوئ خولې شته خو خبرې نهٔ شی کولے،

د هغوئ سترګې شته خو لیدل نهٔ شی کولے،

١٧ د هغوئ غوږونه شته خو اوریدل نهٔ شی کولے،

او نهٔ هغوئ په خولهٔ ساه اخستلے شی.

١٨ څوک چې دا بُتان جوړوی دوئ به هم د دې په شان وی

څوک چې پرې ایمان لری هغوئ به هم د دې په شان وی.

١٩ اے د بنی اِسرائیل خاندانه د مالِک خُدائ ثناء ووایئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اے د هارون خاندانه د مالِک خُدائ ثناء ووايئ،

۲۰ اے د ليويانو خاندانه د مالِک خُدائ صِفت کوئ،

او تاسو څوک چې د مالِک خُدائ نه يرېږئ د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوئ،

۲۱ د صيون نه دې د مالِک خُدائ ثناء صِفت وى،

هغۀ ته دې ثناء صِفت وى څوک چې په يروشلم کښې اوسيږى.

د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ.

## د شُکر گزارئ سرود

۱۳۶ ۱ د مالِک خُدائ شُکر گزارى وکړئ، ځکه چې هغه ښۀ دے.

د هغۀ مينه ابدى ده.

۲ د خُدائ پاک شُکر گزارى وکړئ، چې د معبودانو خُدائ پاک دے.

د هغۀ مينه ابدى ده.

۳ د مالِک خُدائ شُکر گزارى وکړئ چې د مالِکانو مالِک خُدائ دے.

د هغۀ مينه ابدى ده.

۴ د هغۀ شُکر گزارى وکړئ چې صرف هغه لوئې معجزې کوى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ مینه ابدی ده.

۵ او هغه چا چې آسمانونه یې په حِکمت سره پیدا کړل،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

۶ او د هغهٔ شُکر گزاری وکړئ چا چې زمکه د اوبو دپاسه خوره کړله،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

۷ او د هغهٔ شُکر گزاری وکړئ چا چې آسمانی رڼاگانې پیدا کړې،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

۸ نمر په ورځ باندې بادشاهی کوی،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

۹ سپوږمۍ او ستوری په شپه باندې حکومت کوی،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

۱۰ د هغهٔ شُکر گزاری وکړئ چا چې مِصریانو له وړومبی پیدا شوی هلاک
کړل،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

۱۱ هغهٔ بنی اِسرائیل د مِصر د مینځ نه راوویستل،

د هغهٔ مینه ابدی ده.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢ چا چې په هغه وخت د خپل طاقت او قدرت ښرګندونه وکړه،

د هغهٔ مينه ابدی ده.

١٣ او د هغهٔ شُکر ګزاری وکړئ چا چې بحرِقُلزم په مينځ دوه کړو،

د هغهٔ مينه ابدی ده.

١٤ او هغهٔ بنی اِسرائيل د دې په مينځ کښې بوتلل،

د هغهٔ مينه ابدی ده.

١٥ خو فِرعون سره د نوکرانو په بحرِقُلزم کښې غرق شو،

د هغهٔ مينه ابدی ده.

١٦ او د هغهٔ شُکر ګزاری وکړئ چا چې د خپلو خلقو په بيابان کښې
لارښودنه وکړله،

د هغهٔ مينه ابدی ده.

١٧ د هغهٔ شُکر ګزاری کوئ چا چې لوئ بادشاهان رانسکور کړل،

د هغهٔ مينه ابدی ده.

١٨ او هغهٔ تکړه بادشاهان هلاک کړل،

د هغهٔ مينه ابدی ده.

١٩ سيحون د اموريانو بادشاه يې مړ کړلو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ مینه ابدی ده.

٢٠ عوج د بسن بادشاه يې مړ کړلو،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

٢١ او هغهٔ د هغوئ مُلک دوئ ته په میراث کښې ورکړو،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

٢٢ او په میراث کښې يې خِدمتګار بنی اِسرائيل ته ورکړو،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

٢٣ د هغهٔ شُکر ګزاری وکړئ چا ته چې مونږ د کمزورتیا په حالت کښې یاد وُو،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

٢٤ او مونږ يې د خپلو دشمنانو نه خلاص کړلو،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

٢٥ او څوک چې هر يو مخلوق ته رزق ورکوی،

د هغهٔ مینه ابدی ده.

٢٦ د آسمانونو د خُدائ شُکر ادا کړئ،

د هغهٔ مینه ابدی ده.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ۱۳۷

۞ ۱ نو مونږ د بابل د سیند په غاړه کښېناستلو او ومو ژړل،
هرکله چې صیون مونږ ته به راپه یاد شو.
۲ هلته په چنارونو کښې مونږ خپل ربابُونه راوېزاند کړی وُو،
۳ ځکه چې هلته زمونږ قابضینو په مونږ سندرې وئیلې،
او مونږ ته تکلیف رسوونکو زمونږ نه د خوشحالۍ د سندرو خواهش کولو،
دوئ مونږ ته وئیل چې، ”مونږ ته د صیون د سندرو نه یوه ووایئ.“
۴ نو مونږ د مالِک خُدائ سندرې څنګه ووایو
هرکله چې مونږ په پردی مُلک کښې یُو؟
۵ کۀ چرې زۀ تا هېر کړمه یروشلم،
نو زما ښی لاس نه دې خپل هُنر هېر شی.
۶ زما ژبه دې زما تالو پورې ونښلی،
کۀ چرې تۀ ما ته یاد نۀ یې،
او کۀ چرې زۀ یروشلم د ټولو نه خپله لویه خوشحالی نۀ ګڼم.
۷ اے مالِکه خُدایه، ادومیان رایاد کړه، چې څۀ یې کړی وُو،
په کومه ورځ چې یروشلم رانسکور شوے وو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ چغې وهلې چې، ”وران يې کړئ،

او چې د بنيادونو پورې يې وران کړئ.“

٨ اے د بابل خلقو، تباه شئ،

هغه دې خوشحاله وى څوک چې تا ته بدل درکړى،

کوم کارونه چې تا مونږ سره وکړل.

٩ هغه به خوشحاله وى څوک چې ستا ماشومان ګرفتاروى،

او د ګټانو سره ورله ډغرې ورکوى.

## د حضرت داؤد د شُکر ګزارۍ سرود

١٣٨ ١ زۀ به د زړۀ د اخلاصه، ستا ثناء صِفت وکړم، اے مالِکه خُدايه،

او د نورو معبودانو په وړاندې به زۀ ستا د شُکر ګزارۍ سندرې ووايم.

٢ زۀ به ستا مقدس کور طرف ته سجده وکړم،

او زۀ به ستا د نوم ثناء صِفت ادا کړم،

ځکه چې تۀ ډير مينه ناک او وفادار يې،

او تا په ټولو څيزونو باندې خپل نوم او کلام اوچت کړو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳ ما چې کله هم تا ته سوال زارى کړې ده، تا قبوله کړې ده،

تا زۀ په طاقت ورکولو تکړه او زړَور کړم.

۴ اے مالِکه خُدايه، د دُنيا ټول بادشاهان دې ستا ثناء صِفت وکړى،

چې کله دوئ ستا د خولې کلام واورى.

۵ دوئ دې د مالِک خُدائ د طريقو ثناء صِفت وکړى،

ځکه چې د مالِک خُدائ جلال لوئ دے.

۶ کۀ څۀ هم چې مالِک خُدائ ډېر اوچت دے،

خو بيا هم د ښکته خلقو خيال ساتى،

خو هغه کبرژن د ډېر لرې نه پيژنى.

۷ زۀ کۀ څۀ هم د مصيبتونو په مينځ کښې ګرځم،

تۀ زما ژوندون بچ کوې.

تۀ خپل لاس زما د دشمنانو د غصې په خلاف راوړدوې،

د خپل ښى لاس سره دې ما بچ کوې.

۸ مالِک خُدائ به زما دپاره خپل مقصد پوره کړى،

ستا مينه، اے مالِکه خُدايه، د تل دپاره پاتې کيږى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د خپلو لاسونو کارونه مهٔ پرېږده.

## د موسيقۍ د مشر دپاره: د حضرت داؤد يو زبور

# ۱۳۹

۱ اے مالِکه خُدايه، تا زهٔ معلوم کړے يم

او تهٔ ما پېژنې.

۲ تا ته زما د ناستې پاستې پته ده،

او زهٔ که لرې هم يم تهٔ زما په سوچونو پوهېږې.

۳ زهٔ که ګرځم او که ملاست يم،

نو تا ته زما د ټولو کارونو پته ده.

۴ خبره لا زما د خولې نه وتلې نهٔ وى،

چې تهٔ په هغې پوره خبر يې، اے مالِکه خُدايه.

۵ زما نه مخکښې او وروستو تهٔ يې،

او تا د خپل برکت لاس په ما اېښے دے.

۶ دغه شان پوهه زما دپاره ډېره حېرانونکې ده،

او دا خبره زما د عقل نه لويه ده.

۷ زهٔ به ستا د روح نه چرته لاړ شم؟



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا د حضور نه به چرته وتښتم؟

٨ کۀ چرې زۀ آسمان ته هم وخېژم، تۀ هلته يې،

کۀ چرې زۀ په قبر کښې هم څملم، ته هلته يې.

٩ کۀ چرې زۀ د سبا په وزرو سور شم،

کۀ چرې زۀ د سمندر په لرې غاړه اوسېږم،

١٠ هلته به ستا لاس زما لارښودنه وکړى،

او ستا قدرت به ما په تېزئ سره راونيسى.

١١ کۀ چرې زۀ دا ووايم چې، "تيارۀ به ضرور ما ستا نه پټ کړى،

او زما نه ګېرچاپېره رڼا به په شپه بدله شى."

١٢ خو تيارۀ به ستا دپاره تيارۀ نۀ وى،

شپه به لکه د ورځ په شان ځليږى.

ځکه چې تيارۀ به ستا دپاره د رڼا په شان وى.

١٣ ځکه چې تا زما دننه هر څۀ پيدا کړل،

او زۀ تا د مور په ګېډه کښې يو ځائ کړم.

١٤ زۀ ستا ثناء صِفت کومه ځکه چې زما د بدن جوړښت عجيبه او ويرونکے دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستا کارونه عجیبه دی او زهٔ په دې ښهٔ پوهېږم.

۱۵ زما د بدن ډانچه ستا نه پټه نهٔ وه

کله چې زهٔ په پټ ځائ کښې جوړېدلم،

او کله چې زهٔ د زمکې په ژوره کښې جوړېدلم.

۱۶ ستا سترګو زما نامکمله بدن ولیدلو.

او تا د شروع نه هغه ټولې ورځې چې زما د ژوند دپاره مقرر کړې وې

هغه دې په خپل کِتاب کښې ولیکلې.

۱۷ ستا خیالونه ما ته څومره قیمتی دی، پاکه خُدایه،

او دا څومره بېحسابه دی.

۱۸ کهٔ چرې هغه وشمارم، نو د شګو نه ډېر دی.

او زهٔ چې کله راویښ شم، نو بیا هم تا سره یم.

۱۹ کاش چې تهٔ بدکاران هلاکوې، اے پاکه خُدایه،

او وینو ته ترږی ناست زما نه لرې کړې.

۲۰ دوئ تا پسې قصداً بدې خبرې کوی،

او مخالفین دې نوم بېفائدې اخلی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۱ مالِکه خُدایه، ولې زۀ د هغوئ نه نفرت ونۀ کړم څوک چې ستا نه نفرت کوی؟

او د هغوئ نه کرکه ونۀ کړم څوک چې ستا مخالفت کوی؟

۲۲ زۀ بلکل د هغوئ نه نفرت کوم څوک چې ستا نه نفرت کوی،

او هغوئ خپل دشمنان ګڼم.

۲۳ پاکه خُدایه، ما ولټوه، او زما زړۀ وپېژنه،

او تۀ زما امتحان واخله او زما د پرېشانئ په خیالونو ځان پوهه کړه.

۲۴ ما ته وګوره کۀ چرې کومه غلطه طریقه په ما کښې وی،

ما د تل ژوندون لارو ته رهنمائی کړه.

## د موسیقئ د مشر دپاره: د حضرت داؤد یو زبور

# ۱۴۰

۱ اے مالِکه خُدایه، د بدکارانو نه ما بچ کړه،

او د ظالمانو انسانانو نه ما وساته،

۲ او څوک چې د شرارت منصوبې په خپلو زړونو کښې جوړوی

او هره ورځ جنګ تودهوی.

۳ دوئ خپلې ژبې لکه د ښامار په شان تېروی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د چمچمار زهر يې په شونډو پراتهٔ وی.

۴ اے مالِکه خُدايه، ما د بدکارانو د لاس نه محفوظ کړه،

او ما د ظالمانو نه بچ کړه،

څوک چې زما د پښو ګېرولو دپاره منصوبې جوړوی.

۵ کبرژنو سړو ما ته پټ دامونه ايښی دی،

او دوئ خپل جالونه خوارهٔ کړی دی.

او زما په لارو کښې يې دامونه ايښی دی.

۶ ما مالِک خُدائ ته ووئيل، تهٔ زما خُدائ پاک يې.

اے مالِکه خُدايه، د رحم دپاره زما سوال زاری واوره.

۷ اے قادره مالِکه خُدايه، زما قوی خلاصونکيه،

څوک چې د جنګ په ورځ زما سر پټوی.

۸ د بدکارانو ارمانونه تهٔ مهٔ پوره کوه، اے مالِکه خُدايه،

او د دوئ منصوبې کامیابېدو ته مهٔ پرېږده،

هسې نه چې دوئ مغروره شی.

۹ او څوک چې ما نه راتاو دی د هغوئ سرونه دې په مصيبت کښې راګېر شی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په هغه مصيبت کښې چې کوم د هغوئ شونډو جوړ کړے دے.

۱۰ بلې شوې سکروټې دې په هغوئ راپرېوځى،

او هغوئ دې په اور کښې وغورزولے شى،

او هغوئ دې چکړو دلدل ته وغورزېږى چې بيا ترې راوتلے نۀ شى.

۱۱ غيبت کوونکى دې په دې مُلک کښې کامياب نۀ شى،

او په ظالمانو دې ناګهانه افت راشى.

۱۲ زۀ په دې پوهېږمه چې مالِک خُدائ به غريبانانو له اِنصاف ورکړى،

او هغه د حاجتمندو مقدمه په خپل لاس کښې اخلى.

۱۳ او بې‌شکه چې نېکان به ستا د نوم ثناء صِفت وکړى،

او صادقان به ستا په حضور کښې ژوند وکړى.

## د حضرت داؤد يو زبور

## د ماښام دُعا

# ۱۴۱

۱ اے مالِکه خُدايه، زۀ تا ته سوال زارى کومه ما له زر راشه،

زما آواز اوره کله چې زۀ درته سوال کوم.

۲ زما دُعا دې ستا په حضور کښې د خوشبو په شان شى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او زما د لاسونو اوچتول دې تا ته لکه د ماښام د قربانۍ په شان قبول شی.

٣ اے مالِکه خُدایه، زما خولهٔ قابو کړه،

او زما په شونډو نظر وساته.

٤ زما زړهٔ دې په بدو لارو لاړ نهٔ شی،

او نهٔ دې د بدکارو په کارونو کښې حِصه واخلی.

او نهٔ دې خطاکارو سره مل شی،

ما د هغه خلقو د خوندور خوراکونو د خوړلو نه وساته.

٥ کهٔ نیک سړے ما وهٔوی دا به مهربانی وی،

او د هغهٔ رټل به زما دپاره په سر باندې د تېلو په شان وی،

او زما سر به د دې تېلو نه اِنکار نهٔ کوی،

خو زما دُعا به تل د بدعملو د کارونو په خلاف وی.

٦ کله چې د دوئ بادشاهان د کمرونو نه راوغورزېږی،

نو بدعمله به دا زده کړی چې زما وینا خوږه وه.

٧ لکه څنګه چې د زمکې په قلبې سره کانړی برسیره شی،

نو دغه شان به زمونږ هډُوکی د قبر په خولهٔ کښې خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۸ خو زما سترګې ستا په طرف دی، اے قادر مطلق خُدايه،

او ستا نه پناه غواړم ما مرګ ته مۀ حواله کوه.

۹ ما د هغه لتې نه وساته کوم چې دوئ زما دپاره اېښے دے،

ما د هغه دامونو نه وساته چې بدعملو زما دپاره خوارۀ کړی دی.

۱۰ بدعمله دې په خپلو دامونو کښې راګېر شی،

چې داسې زۀ ترې بچ شمه.

## د حضرت داؤد يو مشکيل، هغه دُعا چې کله هغه په غار کښې وو

۱۴۲ ۱ زۀ په زوره مالِک خُدائ ته ژړا کوم،

او ما د رحم دپاره مالِک خُدائ ته آواز وکړو.

۲ زۀ خپل فريادونه د هغۀ په وړاندې کوم،

د هغۀ په وړاندې زۀ خپل مصيبت بيانوم.

۳ کله چې زما روح په ما کښې کمزورے شی،

نو دا تۀ يې چې زما په لارو پوهېږې.

په کومو لارو چې زۀ روان يم

نو په هغه لارو کښې يې ما دپاره دام پټ لګولے دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ وګوره زما ښي طرف ته وګوره
هيڅوک زما پرواه نۀ کوی،
زما پناه ګاه نشته هيڅوک زما د ژوند پرواه نۀ کوی.
۵ زۀ تا ته ژړا کوم، اے مالِکه خُدايه،
زۀ دا وايم چې، ”تۀ زما پناه ګاه يې،
او تۀ د ژوندون په دُنيا کښې زما برخه يې.“
۶ زما ژړا تۀ واوره،
ځکه چې زۀ ډېر سخت محتاجه يم.
څوک چې ما ګېرول غواړی د هغوئ نه ما بچ کړه،
ځکه چې دوئ زما نه ډېر زورَور دی.
۷ تۀ ما د قيد نه خلاص کړه،
چې ستا د نوم ثناء صِفت وکړم.
نو بيا به صادقان راېوځائ شی زما په حقله،
ځکه ستا د مهربانۍ په وجه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ١۴٣

١ اے مالِکه خُدايه، زما دُعا واوره،

زما ژړا ته د رحم دپاره غوږ ونيسه،

په خپله وفادارئ او صداقت سره دې زما مدد دپاره راشه.

٢ او خپل خِدمتګار دې د عدالت دپاره مۀ راوله،

ځکه چې ستا په وړاندې څوک هم بې‌ګناه نۀ دى.

٣ دشمن راپسې لګيدلے دے ما په زمکه ښکته غورزوى،

هغۀ زۀ په زور په تورو تيارو کښې اوسولم لکه د هغه خلقو چې ډير مخکښې
مړۀ شوى دى.

۴ نو ځکه روح مې په بدن کښې کمزورے کيږى،

نو دغه شان د يرې نه زما زړۀ په ما کښې ودريږى.

۵ کله چې زۀ پخوانى وختونه رايادوم،

نو زۀ ستا په کارونو سوچ کوم،

کوم کارونه چې ستا لاسونو کړى دى په هغوئ فکر کوم.

۶ زۀ تا ته د دُعا دپاره لاسونه پورته کوم،

زما ځان لکه د للمې زمکې ستا تږے دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ اے مالِکه خُدایه، ما ته زر جواب راکړه،

زۀ نااُمیده شوے یم.

ما نه خپل مخ مۀ اړوه،

نو ګنې زۀ به د هغوئ په شان شم

څوک چې ښکته قبر ته روان وی.

۸ سحر دې ستا د تل عُمری مینې کلام راوړی،

ځکه چې زۀ په تا باندې یقین لرم.

ما ته هغه لار راوښایه چې زۀ پرې لاړ شم،

ځکه چې تا ته ما خپل ځان په دُعا کښې پورته کړے دے.

۹ ما د خپلو دشمنانو نه خلاص کړه، اے مالِکه خُدایه،

ځکه چې زۀ د پناه دپاره تا ته را زغلم.

۱۰ ستا د رضا پوره کولو ما ته تعلیم راکړه،

ځکه چې تۀ زما خُدائ پاک یې.

ستا نیک روح دې په هوار میدان کښې زما رهنمائی وکړی.

۱۱ د خپل نوم په خاطر دې، مالِک خُدایه، زما ژوند بچ کړه.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپل صداقت دې ما تکلیفونو نه راویاسه.

۱۲ تۀ ما سره د خپلې نۀ ختمېدونکې مینې په وجه زما دشمنان خاموشه کړه،

زما ټول دشمنان تباه کړه، ځکه چې زۀ ستا خِدمتګار يم.

## د حضرت داؤد يو زبور

# ۱۴۴

۱ مالِک خُدائ ته دې ثناء صِفت وی څوک چې زما ګټ دے،

څوک چې زما لاسونه د جنګ دپاره تیاروی،

او زما ګوتې د جنګ دپاره تیاروی.

۲ هغه زما مینه ناک خُدائ پاک او د حِفاظت قلعه ده،

هغه زما پناه ګاه او زما خلاصونکے دے،

هغه زما ډال دے په چا کښې چې زۀ پناه اخلم،

څوک چې خلق زما د اختیار لاندې راولی.

۳ اے مالِکه خُدایه، انسان څۀ دے چې تۀ يې خيال ساتې،

د انسان زوئ څۀ دے چې تۀ يې فکر کوې؟

۴ انسان دے لکه د هوا په شان،

د هغۀ عمر تېرېږی لکه سورى په شان.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ خپل آسمانونه وشلوه اے مالِکه خُدايه او لاندې راکوز شه،

غرونو ته صرف لاس وروړه نو دوئ به لوګے شی.

۶ بریښنا ګانې راولېږه او دشمنان خوارۀ کړه،

او خپل غشی پرې راووروه او هغوئ تس نس کړه.

۷ د بره نه خپل لاس راوغزوه،

ما ته تحفُظ او خلاصون راکړه،

د زورَورو اوبو او د غېرو لاسونو نه،

۸ د چا خولۀ چې د دروغو نه ډکه ده،

د چا لاسونه چې دوکه باز دی.

۹ زۀ به تا ته نوے حمد ووايم، اے پاکه خُدايه،

په لس تاريزه سرينديې به زۀ تا ته سُر ساز وغږووم،

۱۰ هغه چا ته څوک چې بادشاهانو له فتح ورکوی،

څوک چې خپل خِدمتګار داؤد ته د وژونکې تُورې نه خلاصون ورکوی.

۱۱ ما ته تحفُظ او ما ته خلاصون راکړه،

او د غېرو د لاسونو نه خلاصون راکړه،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د چا خولهٔ چې د دروغو نه ډکه ده،

او د چا لاسونه چې دوکه باز دی.

۱۲ نو بیا به زمونږ زامن په ځوانۍ کښې لکه

د سیرابه تکو شنو بوټو په شان وی،

او زمونږ لوڼه به لکه د محل د زینت د ستنو په شان وی.

۱۳ زمونږ ګودامونه به د هر قسمه غلې نه ډک وی،

زمونږ ګډې به زرګونو ته ورسیږی،

په زرګونو به زمونږ په پټو کښې وی،

۱۴ زمونږ غوَیان به درانهٔ بارونه وړی،

نو زمونږ د ښار دیوالونه به کنډر نهٔ شی،

هیڅ څوک به قېدی بوتلے نهٔ شی،

او زمونږ په کوڅو کښې به د نااُمیدۍ ژړا نهٔ وی.

۱۵ بختور دی هغه خلق د چا په حقله چې دا رښتیا وی،

بختور دی هغه خلق د چا چې خُدائ پاک، مالِک خُدائ وی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد د حمدوثناء يو زبور

## د ثناء صِفت سرود

١۴۵ ① اے زما پاکه خُدايه، بادشاه، زۀ به ستا لوئی بيانوم،

او زۀ به د تل دپاره ستا د نوم ثناء صِفت کوم.

② زۀ به هره ورځ ستا ثناء صِفت وکړم،

زۀ به د تل دپاره ستا د نوم لوئی بيان کړم.

③ مالِک خُدائ لوئ دے او د ډير ثناء صِفت قابل دے،

د هغۀ لوئی هيڅوک هم معلومولے نۀ شی.

④ يو نسل به بل نسل ته ستا د کارونو ستائينه کوی،

او دوئ به ستا د لويئ کارونه بيانوی.

⑤ هغوئ به ستا د جلالی شان او شوکت او د لويئ خبرې کوی،

زۀ به ستا په عجيبه کارونو فکر وکړم.

⑥ هغوئ به ستا د هيبتناکه کارونو په حقله خبرې وکړی،

او زۀ به ستا د لويو کارنامو بيان وکړمه.

⑦ هغوئ به ستا د بې‌اندازې ښۀوالی جشن کوی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په خوشحالۍ سره به ستا د صداقت سندرې غږوی.

٨ مالِک خُدائ رحيم او مهربان دے،

زر نۀ په غصه کيږی او ډيره مينه کوی.

٩ مالِک خُدائ د هر چا سره ښۀ دے،

او هر څۀ چې هغۀ پيدا کړی دی په هغه ټولو مهربانه دے.

١٠ اے مالِکه خُدايه، ستا مخلوق دې ستا شُکر وکړی،

ستا مقدسين دې ستا ثناء صِفت وکړی.

١١ دوئ به ستا د بادشاهت د جلال خبرې وکړی،

او دوئ به ستا د قدرت خبرې وکړی،

١٢ نو چې ستا په طاقتمند کارونو ټول خلق پوهه شی،

او ستا د بادشاهت د جلالی شان او شوکت نه خبر شی.

١٣ ستا بادشاهی د تل بادشاهی ده،

ستا حکومت په ټولو نسلونو کښې پاتې کيدونکے دے.

مالِک خُدائ په خپلو ټولو وعدو وفادار دے،

او هغه په خپلو ټولو پيدا کوونکو مِهربانه دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ مالِک خُدائ هغوئ ټول اوچتوی ځوک چې راپرېوځی،

او هغه ټول راکوزتي شوی راوچته وی.

۱۵ او د ټولو سترګې تا ته دی،

او تهٔ ټولو ته په صحیح وخت کښې خوراک ورکوې.

۱۶ مالِکه خُدایه چې خپل لاس پرانیزې،

په خپله د هر یو ژوندی ځیز لوږه تنده ختموې.

۱۷ مالِک خُدائ په خپلو ټولو کارونو کښې صادق دے،

او هغه په خپلو ټولو پیدا کوونکو مِهربانه دے.

۱۸ مالِک خُدائ هغه ټولو ته نزدې دے ځوک چې ورته آواز کوی،

هغوئ ټولو ته نزدې دے ځوک چې په رښتیا ورته آواز کوی.

۱۹ ځوک چې د هغهٔ نه یرېږی د هغوئ ټولو ارمانونه پوره کوی،

او هغه د دوئ ژړا اوری او خلاصون ورکوی.

۲۰ مالِک خُدائ د هغوئ خیال ساتی ځوک چې د هغهٔ سره مینه کوی،

خو هغه به ټول شریران تباه کړی.

۲۱ زما خولهٔ به د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوی،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او ټول مخلوق به د هغهٔ د مقدس نوم د تل دپاره ثناء صِفت کوی.

## د مالِک خُدائ ابدی وفاداری

# ۱۴۶

۱ د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی.

د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړه، اے زما ځانه.

۲ زهٔ به په خپل ټول ژوند کښې د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوم،

او ترڅو چې زهٔ ژوندے یم د مالِک خُدائ ثناء صِفت به کوم.

۳ او په شهزادګانو توکل مهٔ کوئ،

په فانی انسان توکل مهٔ کوئ څوک چې خلاصون نهٔ شی ورکولے.

۴ کله چې ترې روح وځی نو خاورو سره خاورې شی،

او په هم هغه ورځ یې ټولې منصوبې خرابې شی.

۵ بختور دی هغوئ د چا مدد چې د یعقوب خُدائ پاک وی،

او د چا اُمید چې په مالِک خُدائ یعنې په خپل خُدائ پاک وی.

۶ څکه چې هغهٔ آسمانونه او زمکه، سمندر او څهٔ چې په کښې دی پیدا کړی دی

او هغه تل وفادار دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ هغه په خپله د مظلومانو مقدمه چلوی،

او اوږی ته خوراک ورکوی.

مالِک خُدائ قېديان آزادوی.

٨ مالِک خُدائ ړندو ته نظر ورکوی.

او هغه ټول راکوزتې شوی راوچته وی،

مالِک خُدائ د صادقانو سره مينه کوی.

٩ مالِک خُدائ د مسافرو خيال ساتی،

او يتيمانو او کونډو ته خوراک ورکوی،

خو هغه د بدعملو منصوبې او طريقې خرابوی.

١٠ مالِک خُدائ د تل دپاره بادشاهت کوی،

د ټولو نسلونو دپاره اے صيونه.

د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی.

## د مالِک خُدائ ثناء صِفت

# ١٤٧

١ د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ.

دا څومره ښه ده چې مونږ د خپل خُدائ پاک ثناء صِفت وکړو،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او څومره د خوښۍ خبره ده چې مونږ د هغۀ ثناء وکړُو.

٢ مالِک خُدائ يروشلم بيا آبادوى،

هغه د بنى اِسرائيلو شړلى خلق راغونډوى.

٣ هغه مات زړونه روغوى،

او د هغوئ په زخمونو پټۍ لګوى.

٤ هغۀ ته د ټولو ستورو د شمېر پته ده،

او هر يو ستورى ته په نامه آواز کوى.

٥ زمونږ مالِک خُدائ لوئ او په طاقت کښې زورَور دے،

او د هغۀ د پوهې څۀ حد نشته دے.

٦ مالِک خُدائ د عاجزانو ساتنه کوى،

خو شريران زمکې ته راغورزوى.

٧ په شُکر ګزارۍ سره د مالِک خُدائ حمد و ثناء ووايئ،

او زمونږ خُدائ پاک ته په رباب سره ساز وغږوئ.

٨ هغه آسمان په وريځو کښې پټوى،

او هغه په زمکه بارانونه راوروى،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او په غرونو او غونډو واښهٔ راشنهٔ کوی.

٩ هغه څناورو ته خوراک ورکوی،

او کارغانو بچو ته کله چې وچغیږی خوراک ورکوی.

١٠ د هغهٔ خوشحالی د آس په طاقت کښې نهٔ ده،

او نهٔ د هغهٔ خوشحالی د انسان په طاقت کښې ده.

١١ او مالِک د هغوئ نه خوشحاله وی څوک چې د هغهٔ نه یریږی،

او څوک چې د هغهٔ په نهٔ ختمېدونکې مینه باندې اُمید ساتی.

١٢ د مالِک خُدائ لوئی بیان کړه، اے یروشلمه،

د مالِک خُدائ ثناء صِفت ادا کړه، اے صیونه.

١٣ او هغه ستا د دروازو اړمونه او دُرشلی مضبوطوی،

او په تا کښې اوسېدونکو ته برکت ورکوی.

١۴ هغه ستا سرحدونه په سلامتیٔ کښې ساتی،

او د ټولو نه په ښو غنمو باندې دې معمورروی.

١۵ هغه چې خپل احکام زمکې ته ورولیږی،

نو د هغهٔ حُکم په منډه خوریږی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(۱۶) هغه واوره لکه د وړۍ خوروی،

او واوره لکه د ایرو په شان زغلوی.

(۱۷) هغه د کاڼو په شان ږلۍ ورَوی

د هغهٔ د واورې طوفان ته څوک ټینګېدے شی؟

(۱۸) هغه خپل کلام رالېږی او واوره پرې ویلی کېږی،

هغه خپلې هواګانې رالېږی او اوبهٔ ترې راروانې شی.

(۱۹) هغهٔ خپل کلام یعقوب ته وربښکاره کړو،

او خپل شریعت او قانون یې بنی اِسرائیلو ته ښکاره کړو.

(۲۰) هغهٔ داسې د بل قوم دپاره کړی نهٔ دی،

هغوئ د دهٔ په شریعت نهٔ پوهیږی.

د مالِک خُدائ ثناء صِفت کوئ.

## د مالِک خُدائ ثناء صِفت کول

# ۱۴۸

(۱) د آسمانونو نه د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ،

د هغهٔ ثناء صِفت په اوچتو آسمانونو کښې وکړئ.

(۲) د هغهٔ ټولو فرښتو د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټولو آسمانی مخلوقاتو د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ.

③ اے نمر او سپوږمۍ د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ،

ټولو ځلېدونکو ستورو د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ.

④ اوچتو آسمانونو د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ،

په آسمان کښې بره اوبو د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ.

⑤ هغوئ ټول دې د مالِک خُدائ د نوم ثناء صِفت وکړی،

ځکه چې د هغهٔ په حُکم دوئ پېدا شوی دی.

⑥ او هغوئ یې د تل دپاره په خپل ځایونو مقرر کړې دی،

او هغهٔ ورته قانون مقرر کړو چې هیڅکله نهٔ ختمیږی.

⑦ د زمکې نه د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ،

اے د لویو سمندرونو مخلوقه او د ټولو سمندرونو لاندې ببخ کښې چې اوسیږئ.

⑧ بریښنا او ږلۍ، واورو او وریځو،

طوفانی بادونو چې تاسو د هغهٔ حُکم منئ.

⑨ تاسو غرونو او ټولو غونډو،

میوه دارو ونو او ټولو دیارونو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ځنګلی ځناورو او ټولو څاروو،

ښوئيدونکي مخلوقه، او د هوا مارغانو،

۱۱ د زمکې بادشاهانو او ټولو قومونو،

تاسو ټولو شهزادګانو او د دُنيا بادشاهانو،

۱۲ اے ټولو ځوانانو او پېغلو،

بوډاګانو او ماشومانو.

۱۳ ټول دې د مالِک خُدائ د نوم لوئی بيانوی،

ځکه چې صرف د هغهٔ نوم لوئ دے،

او د هغهٔ شان او شوکت په زمکې آسمانونو باندې دے.

۱۴ هغهٔ خپل قوم دپاره د فخر ښکر پورته کړے دے،

ترڅو د هغهٔ ټول نيک او مقدس خلق د هغهٔ ثناء صِفت بيان کړی،

يعنې بنی اِسرائيل چې هغهٔ ته نزدې دی.

د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی.

## د ثناء صِفت سرود

# ۱۴۹

۱ د مالِک خُدائ ثناء صِفت بيان کړئ.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ ته یو نوے سرود ووایئ،

د هغهٔ ثناء صِفت د هغهٔ د مؤمنانو په ډله کښې بیان کړئ.

٢ بنی اِسرائیل دې د خپل خالق سره خوشحالی وکړی،

د صیون خلق دې د خپل بادشاه سره خوشحاله وی.

٣ هغوئ دې د هغهٔ د نوم ثناء صِفت په ګډا کښې بیان کړی،

او هغهٔ ته دې په تمبل او رباب سره موسیقی وغږوی.

٤ ځکه چې مالِک خُدائ د خپلو خلقو سره خوشحالیږی،

او هغه عاجزانو ته د خلاصون تاج ورپه سروی.

٥ مقدسین دې د هغهٔ په عزت ورکولو سره خوشحاله شی،

او په خپلو بسترو کښې دې د خوشحالئ سندرې وائی.

٦ د خُدائ پاک ثناء صِفت دې د هغوئ په خُلو وی

او دوه مخیزه تُوره دې د هغوئ په لاسونو کښې وی،

٧ ترڅو په زور سره د قومونو نه بدل واخلی،

او چې د هغوئ خلقو ته سزا ورکړی،

٨ چې د هغوئ بادشاهان په هتکړُو کښې وتړی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د هغوئ مشران دې په بيړو کښې وتړی،

٩ او چې ځنګه فيصله د هغوئ په خلاف ليکلے شوې ده هغه شان وشی.

دا د هغهٔ ټولو مقدسينو ته جلال دے.

د مالِک خُدائ ثناء صِفت دې وی.

## د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ

# ۱۵۰

١ د مالِک خُدائ ثناء ووايئ.

د هغهٔ په مقدس ځائ کښې د هغهٔ ثناء ووايئ،

د هغهٔ په زورَور آسمان کښې د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ.

٢ د هغهٔ د لويو کارونو په وجه د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ،

او د هغهٔ د بېحده لويوالی په اندازه د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ.

٣ او د بيګل د آواز سره د هغهٔ ثناء خوان شئ،

د رباب او بينجو د ساز سره د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ.

٤ د تمبل او ګډا سره د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ،

په شپيلئ او د رباب تارونو سره د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ.

٥ د چمټو او تاليو سره د هغهٔ ثناء صِفت وکړئ،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغهٔ ثناء صِفت د تالیو په شرنګار کښې وکړئ.

٦ هر یو ساه لرونکے دې د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړی،

د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © یوسفزی ۲۰۱۹
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.